# عمومی پښــتو

کال- ۱۳۸۹

Download from:aghalibrary.com

مؤلف- نویداحمدغفوری

# عمومی پښتو

مؤلف :
نویداحمدغفوری

ترتیب :
نویداحمدغفوری

نیټه :
۲۱ / ۱۱/ ۱۳۸۹

Download from:aghalibrary.com

ددی کتاب هر ډول چاپ، کاپی او برقی نشر بغیر د مؤلف د اجازی څخه منع دی

بسم الله الرحمن الرحیم

# فهرست


| شماره | موضوع | صفحه |
|---|---|---|
| | **د پښتو او پښتنو تاریخ** | |
| ۱ | د پښتو لرغونتوب . | ۱ |
| ۲ | د پښتو ادب تاریخ . | ۱ |
| ۳ | پښتو د پخوانیو شاهانو په دربارو کی . | ۳ |
| ۴ | د افغانستان جریدی . | ۶ |
| ۵ | د پښتنو هیواد . | ۶ |
| ۶ | باګرام په پښتو ادب کی . | ۷ |
| | **د پښتنو ادیبانو تاریخ** | |
| ۷ | امیر کروړ . | ۸ |
| ۸ | بیټ نیکه . | ۸ |
| ۹ | پیر روښان . | ۸ |
| ۱۰ | میرزا خان انصاری . | ۹ |
| ۱۱ | رحمن بابا . | ۹ |
| ۱۲ | حمید مومند . | ۹ |
| ۱۳ | خوشحال خان ختک . | ۹ |
| ۱۴ | شیخ تیمن(رح) . | ۹ |
| ۱۵ | کاظم خان شیدا . | ۱۰ |
| ۱۶ | محمد هوتک . | ۱۰ |
| ۱۷ | سید جمال الدین افغان . | ۱۰ |
| ۱۸ | جنرال بخت خان پښتون . | ۱۰ |
| ۱۹ | حافظ رحمت خان . | ۱۱ |
| ۲۰ | نازو انا (میرمن نازو) . | ۱۲ |
| ۲۱ | میرمن زینبه . | ۱۲ |
| ۲۲ | زرغونه انا . | ۱۲ |
| ۲۳ | ملاله . | ۱۲ |
| ۲۴ | بی بی نیکبخته . | ۱۲ |
| ۲۵ | زرغونه . | ۱۳ |
| | **د پښتنو شاعرانو د کلام نمونی** | |
| ۲۶ | بیټ نیکه . | ۱۴ |
| ۲۷ | رحمن بابا . | ۱۴ |
| ۲۸ | احمدشاه بابا . | ۱۵ |
| ۲۹ | خوشحال خان ختک . | ۱۵ |
| ۳۰ | ګل پاچا الفت . | ۱۶ |
| ۳۱ | حمید مومند . | ۱۷ |
| ۳۲ | حافظ . | ۱۷ |
| ۳۳ | ګل کوهی . | ۱۸ |
| ۳۴ | حیدری . | ۱۸ |
| ۳۵ | بهائی جان . | ۱۸ |

| | | |
|---|---|---|
| ۳۶ | عبدالقادر خټک ۰ | ۱۸ |
| ۳۷ | کاظم خان شیدا ۰ | ۱۹ |
| ۳۸ | پیرمحمد کاکړ ۰ | ۱۹ |
| ۳۹ | کاموال ۰ | ۱۹ |
| ۴۰ | میاخیل ۰ | ۱۹ |
| ۴۱ | ملنګیار ۰ | ۱۹ |
| ۴۲ | میرزا خان انصاری ۰ | ۱۹ |
| ۴۳ | مظلوم یار ۰ | ۱۹ |
| ۴۴ | نیکمل ۰ | ۱۹ |
| ۴۵ | یونس ۰ | ۲۰ |
| ۴۶ | سیدحسن ۰ | ۲۰ |
| ۴۷ | شمس الدین مجروح ۰ | ۲۰ |
| ۴۸ | دارالمجالس ۰ | ۲۰ |
| ۴۹ | تفسیر الضحی ۰ | ۲۰ |
| ۵۰ | عبدالشکور رشاد ۰ | ۲۰ |
| ۵۱ | ښکارندوی غوری ۰ | ۲۱ |
| ۵۲ | افضل الطرایق ۰ | ۲۱ |
| ۵۳ | خلیل خان نیازی ۰ | ۲۱ |
| ۵۴ | سلطان بهلول لودی ۰ | ۲۱ |
| ۵۵ | خزینة الفقراء ۰ | ۲۱ |
| ۵۶ | عبدالحی حبیبی ۰ | ۲۱ |
| ۵۷ | احمدشاهی شهنامه ۰ | ۲۱ |
| ۵۸ | همیش خلیل ۰ | ۲۱ |
| ۵۹ | لایق ۰ | ۲۱ |
| ۶۰ | شیخ تیمن ۰ | ۲۲ |
| ۶۱ | د واصل روښانی د منتخباتو نمونه ۰ | ۲۲ |
| ۶۲ | جانان فدوی ۰ | ۲۲ |
| ۶۳ | امیر حمزه شینواری ۰ | ۲۲ |
| ۶۴ | اشرف خان هجری ۰ | ۲۲ |
| ۶۵ | د میا روښان خیر البیان ۰ | ۲۲ |
| ۶۶ | فیاض ۰ | ۲۲ |
| ۶۷ | سکندر خان خټک ۰ | ۲۲ |
| ۶۸ | میرمن نازو ۰ | ۲۳ |
| ۶۹ | میرمن زینبه ۰ | ۲۳ |
| ۷۰ | سپینه ۰ | ۲۳ |
| ۷۱ | بی بی نیکبخته ۰ | ۲۳ |
| ۷۲ | زرغونه ۰ | ۲۳ |


## پېښنویه


| | | |
|---|---|---|
| ۷۳ | لومړنی موضوعات ۰ | ۲۴ |
| ۷۴ | پېښنویه ۰ | ۲۴ |
| ۷۵ | پښتو توری ۰ | ۲۴ |
| ۷۶ | د کلام اجزاوی ۰ | ۲۵ |
| ۷۷ | نوم ۰ | ۲۵ |
| ۷۸ | ضمیرونه ۰ | ۲۹ |

| | | |
|---|---|---|
| ۷۹ | صفت .. | ۳۲ |
| ۸۰ | مصدر . | ۳۳ |
| ۸۱ | فعل . | ۳۴ |
| ۸۲ | قیود . | ۳۵ |
| ۸۳ | ادات (توری) . | ۳۵ |
| ۸۴ | متلونه . | ۳۵ |
| ۸۵ | لیک نښی .. | ۳۶ |
| ۸۶ | د مستعارو کلیمو لیکنه | ۳۶ |
| ۸۷ | بدیع . | ۳۷ |
| ۸۸ | معنوی صنایع . | ۳۷ |
| ۸۹ | سوال او ځواب . | ۳۷ |
| ۹۰ | ارسال المثل . | ۳۷ |
| ۹۱ | ارسال المثلین . | ۳۷ |
| ۹۲ | کیسی (لغز) . | ۳۷ |
| ۹۳ | مدعا المثل . | ۳۷ |
| ۹۴ | طباق . | ۳۷ |
| ۹۵ | مراعات النظیر . | ۳۷ |
| ۹۶ | لف او نشر . | ۳۷ |
| ۹۷ | عکس او تبدیل . | ۳۷ |
| ۹۸ | حسن تعلیل . | ۳۷ |
| ۹۹ | رجوع . | ۳۷ |
| ۱۰۰ | جمع . | ۳۷ |
| ۱۰۱ | تنسیق الصفات . | ۳۸ |
| ۱۰۲ | تجاهل العارف . | ۳۸ |
| ۱۰۳ | برائت طلب یا حسن طلب . | ۳۸ |
| ۱۰۴ | تلمیح . | ۳۸ |
| ۱۰۵ | تشخیص او انطاق . | ۳۸ |
| ۱۰۶ | حسن مطلع . | ۳۸ |
| ۱۰۷ | حسن مقطع . | ۳۸ |
| ۱۰۸ | تکرار حسن . | ۳۸ |
| ۱۰۹ | مبالغه . | ۳۸ |
| ۱۱۰ | لفظی صنایع . | ۳۸ |
| ۱۱۱ | تجنیس . | ۳۸ |
| ۱۱۲ | توشیح . | ۳۹ |
| ۱۱۳ | قلب . | ۳۹ |
| ۱۱۴ | سجع . | ۳۹ |
| ۱۱۵ | معما . | ۳۹ |
| ۱۱۶ | نظمونه . | ۳۹ |
| ۱۱۷ | ملی نظمونه . | ۳۹ |
| ۱۱۸ | لنډی . | ۳۹ |
| ۱۱۹ | نیمکی یا سر . | ۳۹ |
| ۱۲۰ | چاربیته . | ۳۹ |
| ۱۲۱ | رباعی . | ۴۰ |
| ۱۲۲ | بګتی . | ۴۰ |

| | | |
|---|---|---|
| ۱۲۳ | ناري یا ږغونه . | ۴۰ |
| ۱۲۴ | مشترک نظمونه . | ۴۰ |
| ۱۲۵ | غزل . | ۴۰ |
| ۱۲۶ | بوللـــه . | ۴۰ |
| ۱۲۷ | رباعي . | ۴۰ |
| ۱۲۸ | قطعه . | ۴۰ |
| ۱۲۹ | مثنوي . | ۴۰ |
| ۱۳۰ | مستزاد . | ۴۰ |
| ۱۳۱ | مربع . | ۴۰ |
| ۱۳۲ | مخمس . | ۴۰ |
| ۱۳۳ | مسدس . | ۴۱ |
| ۱۳۴ | ترجیع بند . | ۴۱ |
| ۱۳۵ | ترکیب بند . | ۴۱ |
| ۱۳۶ | بیان . | ۴۲ |
| ۱۳۷ | تشبیه . | ۴۲ |
| ۱۳۸ | د تشبیه غرض . | ۴۲ |
| ۱۳۹ | د تشبیه دوی خواوی . | ۴۲ |
| ۱۴۰ | مرکبه او مفرده تشبیه . | ۴۲ |
| ۱۴۱ | عقلي او حسي تشبیه . | ۴۳ |
| ۱۴۲ | د تعدد په اعتبار د دواړو خواو ډولونه . | ۴۳ |
| ۱۴۳ | د تشبیه ادات . | ۴۳ |
| ۱۴۴ | مرسله تشبیه . | ۴۳ |
| ۱۴۵ | موکده تشبیه . | ۴۳ |
| ۱۴۶ | مجاز . | ۴۴ |
| ۱۴۷ | مستعار مجاز (استعاره) . | ۴۴ |
| ۱۴۸ | د استعارې او تشبیه تر منځ توپیر . | ۴۴ |
| ۱۴۹ | د استعارې ډولونه . | ۴۴ |
| ۱۵۰ | مرسل مجاز . | ۴۵ |
| ۱۵۱ | کنایه . | ۴۵ |
| ۱۵۲ | له صفت څخه کنایه . | ۴۶ |
| ۱۵۳ | له موصوف څخه کنایه . | ۴۶ |
| ۱۵۴ | له نسبت څخه کنایه . | ۴۶ |


## لغاتونه


| | | |
|---|---|---|
| ۱۵۵ | د اووم ټولګي د پښتو لغاتونه . | ۴۷ |
| ۱۵۶ | د اتم ټولګي د پښتو لغاتونه . | ۵۰ |
| ۱۵۷ | د نهم ټولګي د پښتو لغاتونه . | ۵۵ |
| ۱۵۸ | د لسم ټولګي د پښتو لغاتونه . | ۵۸ |
| ۱۵۹ | د یوولسم ټولګي د پښتو لغاتونه .. | ۶۴ |
| ۱۶۰ | د دولسم ټولګي د پښتو لغاتونه .. | ۷۳ |


## کتابونه او مؤلفان


| | | |
|---|---|---|
| ۱۶۱ | کتابونه او مؤلفان .. | ۸۰ |


## په پښتنو پاچاهانو پورې مربوطې تاریخي لیکنې


| | | |
|---|---|---|
| ۱۶۲ | په پښتنو پاچاهانو پورې مربوطې تاریخي لیکنې . | ۸۲ |

## یادښت

۱۶۳ یادښت .. ۸۳

**و من الله توفیق**

# د پښتو او پښتنو تاريخ

## د پښتو لرغونتوب

په لومړی سر کی اريايان ټول په يوه ژبه ږغيدل چی اريک نوميده. ميکس مولر وايی د سانسکريت ځخه دمخه هم يوه ژبه ويل کيده چی مور ته پکښی موير ويل کيده، چی دا ژبه د ټولو اندو اروپايی ژبو مور ده. استرابون په لومړی ميلادی پيړی کی ويلی: پارسيانو، ميديانو، باختريانو او سغديانو تقريباً په يوه ژبه سره خبری کولی. د اريايی ژبو ګروپونه په لاندی ډول دی:




په دغه دری واړو ښاخونو کی اوستا، سانسکريت او پښتو د خوږو خويندو په نامه ياديږی، چی يوازی پښتو يی ژوندی ده. ډارمستېټر وايی چی پښتو نه د پارسی او نه هم د پهلوی يوه لهجه ده بلکه دا يوه لرغونی ژبه ده او لرغونتوب يی د زند سره برابر دی او د پارسی او پهلوی ځخه زيات دی. اوستا لومړی په مادی ژبه ليکل سوی ؤ چی دغه مادی ژبه د پارسی سره ډير ورته والی لری. د ايران د تاريخ په شهادت ميديان د باختر ځخه راغلی دی مګر ګريوسون انګريز وايی چی د اريايی ژبو لوی ښاخ ميدی نوميږی او غلچه، اورمړی، بلوچی او پښتو په ميدی ګروپ کی شاملوی، او دغو ژبو ته پارسيک ګروپ وايی. نو: ميدی ژبی هغه ژبی دی چی د ايرانی او هندی يعنی (پارسيک او هنديک) ژبو تر منځ سيمه کښی ويل کيږی. پښتو ځانته جلا ژبه ده مګر دغه جلا والی تر منځنيو زمانو پوری دی او اصلاً د ټولو ژبو مور يوه ده. د ناروی پوهاند مارګنسترن وايی چی افغانستان د آسيايی او اروپايی ژبو مرکز دی او پښتو په اريايی ژبو کی يوه مهمه ژبه ده.

## د پښتو ادب تاريخ

پښتو د پښت توکم زړه لرغونی ژبه ده چی تر اوسه يی دری زره کلنی زړی کليمی په خپل شکل يا په لږ بدلون ساتلی دی. دا ژبه د اراېی ژبو په باختری ګروپ پوری اړه لری، د اکسوس او اندوس تر منځ خاوره سيمه کی ويل کيږی او نږدی شل ميليونه وګړی وربآندی ږغيږی. د پښتو ژبی لومړی شعر چی د پټی خزانی په واسطه لاس ته راغلی دی د امير کروړ سوری دی:

زه يـــــم زمـــــــــری پر دی نړی له ما اتل نشته
په هند و سند و پـــــــــــــــر تخار او پر کابل نشته
بل پـــــــــــــــه زابل نشته
له مـــــــا اتـــــــــــل نشته

د پښتو ادب لومړی دوره د (۱۰۰هـ ق) ځخه تر (۹۰۰ هـ ق) پوری ده. په دی دوره کښی د پښتو پاخه او غښتلی شاعران تير سوی دی خو له بده مرغه چی د شعر يوه يوه نمونه يی پاتی سوی ده، لکه: بيټ نيکه، شيخ اسعد سوری، ښکارندوی، تايمنی، ملکيار غرشين، بختيار کاکړ، شيخ متی او نور. کله چی په اوومه پيړی کی چنګيزيان راغلل نو پر پښتو يی هم تاثير وکړ او د هوتک بابا او نورو حماسی اشعار منځ ته راغلل لکه چی وايی:

په کلی او کـــــــــــــــور باندی مغل راغی      هم په غزنی هـــــــــــــــــم په کابل راغی

د لومړی دوری اشعار د افکارو په لحاظ ساده او سليس دی، سوچه او سپيڅلی لغات پکښی ډير دی زيات يی په ملی وزنونو او بحرونو ويشل سوی دی. د شفاهی ادب په برخه کی پښتو لندی د پښتو ادب يوه سپيڅلی ساده او غوره برخه ده چی د طبيعی جوړښت له حيثه پخوانو اريايی اشعارو ته ډيری ورته دی. د تاريخ له مخه د غه

لنډۍ په څلورمی هجری پیړی یا په بله وینا په غزنوی دوری پوری اړه لری:

چی د خــــــــــــــالــو لښکری راغلی زه بــــــــــــه کومل ته د خپل یار دیدن ته ځمه

ملک خالو د سلطان محمود غزنوی په لښکرو کی یو پښتون سر لښکر ؤ. په لومړۍ دوره کښی د پښتو د نثر برخه کمزوری ده. د شعر لومړی دوره ډیر سوچه او د نورو ژبو تر تاثیر لاندی نه ده. د نثر لومړی کتاب چی یوازی نوم یی د پټی خزانی په واسطه موږ ته راغلی دی (د سالو وږمه) نومیږی چی ابو محمد هاشم سروانی د دریمی هجری پیړی په نیمائی کښی د عربی اشعارو د فصاحت او بلاغت په بیان کښی لیکلی دی. د دی دوری مشهور کتاب د سلیمان ماکو تذکرة الاولیاء نومیږی چی په (۶۱۲ هـ ق) کی یی لیکلی دی. د محمد بن علی تاریخ سوری، د شیخ کټه لرغونی پښتانه، د شیخ ملی دفتر او د خان کجو تاریخ د دی دوری د نثر هغه کتابونه دی چی یوازی نومونه یی پاته سوی دی، د لومړۍ دوری اشعار او نثرونه د اسلامی احساساتو په رڼا کی لیکل سوی دی. د پښتو ادب بله دوره له (۹۰۰ هـ ق) څخه تر (۱۳۰۰ هـ ق) پوری ده، په دی دوره کی د عربی زیات تاثیر په پښتو کی لیدل کیږی، د دی دوری اثار هم د دینی احساساتو په رڼا کی لیکل سوی دی. د دی دوری د قافیه وال نثر تأداب اینبودونکی روښانیان دی. د دی دوری د نثر مشهور کتابونه د میاروښان خیرالبیان او د اخوند درویزه مخزن الاسلام دی. د روښانیانو په سلسله کښی ارزانی میرزا انصاری، دولت خان لوانی پاخه صوفیان او د دیوانونو خاوندان دی. په پښتو شاعرۍ کښی تصوفی افکار د یو مکتب او مسلک په توګه د دوی په واسطه پښتو ادب ته راننوتی دی. د دی دوری په لومړۍ برخه کی د اخوند قاسم فواید الشریعت، د فقیر حسین خلاصة الاسلام، د بابوجان مجموعه هم په همدغه نیم منظوم سبک کی لیکل سوی دی. ددی سبک یوه نمونه داده:

مرګ به ورسی و سړی ته نا ګهان نشته په دنیا کښی د سړی تل تر تله مقام

د دی دوری په نثرو کی د عربی او فارسی تاثیر زیات دی، خیر البیان د پښتو سوچه او زاړه لغات راوړی مګر مخزن الاسلام دغه صفت نه لری. د دی دوری په دوهمه برخه کښی د پښتو نثر لمن ډیره پراخه سوی ده ددی برخی د نثر د میدان لوی پهلوان خوشحال خان خټک دی. ده د نثر قافیه وال سبک ساده شکل ته راواړوه. دستارنامه، بیاض او پښتو هدایه د ده منثور کتابونه دی. د بیاض نثر ډیر خوندور او له محاوری سره پوره نږدیوالی لری، مثلاً داجمله: (په دامنځ کی خبر راغئ چی شجاعت له ډیر لښکر سره په ګنداب کی ډوب سو). په نثر کښی [د عبدالقادر خټک ګلدسته، د ګوهر خان قلب اسیر، د افضل خان خټک تاریخ مرصع او علمخانه دانش، دمحمد ظفر تاریخ اعثم کوفی، د مولانا عبدالحلیم اختیارات بدیعی] دا ټوله د خوشحال خان خټک لمسو او یا د دوی په سپارښتنه لیکل سوی دی. د محمد رسول بیاض، د نورمحمد نافع المسلمین، د محمد هوتک پټه خزانه، د عبدالله احمدشاهی فتاوه، د میا معظم شاه تواریخ رحمت خانی دا ټول د دی دوری غوره تاریخی او دینی کتابونه دی، په ټولو کښی پټه خزانه یو مهم اثر دی چی د پښتو ادب پانګه یی راساتلی ده. د پټی خزانی نثر د خوشحال خان خټک په سبک کی دی. د دی دوری په وروستۍ برخه کی د نواب محبت خان ریاض المحبت، د قاسم علی اپریدی فرهنګ اپریدی، د الله یار خان عجایب اللغات، د نواب افضل الدوله پښتو تفسیر، د دوست محمد خټک تفسیر بدرمُنیر، د مراد علی تفسیر یسیر او د مولوی احمد ګنج پښتو مهم او مشهور کتابونه دی. د دی دوری د نظم لوی پهلوان هم خوشحال خان خټک دی. فضل نامه، سوات نامه، بازنامه او فراق نامه یی د نظم مشهور کتابونه دی. یوازی کلیات یی څلویښت زرو (۴۰،۰۰۰) بیتو ته سرېږی. د ده په زامنو کی اشرف خان هجری، عبدالقادر سکندر، صدرخان د دیوانونو خاوندان دی، د ده لور حلیمه او د اشرف خان مور توتیا هم د پښتو شاعرانی وی. کاظم خان شیدا، کامګار او علی خان هم د خټکو د کورنی له شاعرانو څخه دی. په دی وخت کی د پیښور او باګرام په سیمو کی د رحمان بابا او حمید د شعر انګازی اوچتی سوی. قلندر اپریدی، خواجه محمد بنګښ، محمد یونس معزالله، حسین، مصری خان ګګیانی، او په سوونو نور شاعران د دوی د لاری پیروان او د خوږو دیوانونو خاوندان دی. د دولسمی پیړی د پښتو د ادب د ودی او پرمختګ یوه مهمه دوره ده. په دی دوره کی د پښتو په زاړه مرکز کندهار کی د شعر او ادب ډیوی بلی سوی او د شاه حسین هوتک دربار له پښتنو شاعرانو څخه ډک سو، نازو انا، شاه حسین، زینبه، احمدشاه بابا، تیمورشاه، ریدی خان مومند، پیرمحمد کاکړ، شمس الدین کاکړ، میانعیم متی زی، میرزا حنان کندهاری، رحمت داوی، په هرات کی سپینه او عزیز خان رڼا خیل او په لره پښتونخوا کی مطیع الله بیدل، محمدصاحب زاده داپوری، حافظ عبدالعظیم رانی زی د دی دوری د وروستۍ برخی مشهور شاعران دی. زموږ د موجوده څیړنی له مخی تر (۱۳۰۰هـ ق) پوری د ټولو شاعرانو شمیر پنځو سو ته رسیږی مګر د ټولو کتابونه لاس ته نه دی راغلی یا تلف سوی دی او یا انګریزانو لندن ته وړی دی. په دولسمی پیړی کښی دری مشهور سبکونه منځ ته راغلل:

- د خوشحال خان خټک حماسی سبک

- د رحمان بابا تصوبي سبک
- د حميد بابا ادبي سبک

د پښتو ادب اوسنۍ دوره له (۱۳۰۰هـ ق) څخه شروع کيږي او تردي وخته رارسيږي. د امير شيرعلی خان په وخت کی په افغانستان کی د پښتو د ژوند خواته توجه وسوه او ډير فوځی اصطلاحات او قواعد پښتو سول د امير حبيب الله خان په وخت کی پښتو په مکتب کی داخله سوه، د امان الله خان په دوره کی پښتو مرکه جوړه سوه، د نادرشاه په وخت کی د کندهار پښتو انجمن او د ظاهر شاه په وخت کی پښتو ټولنه منځ ته راغله، په دی دوره کی ورځپاڼی او مجلی راووتلی او د غربی دنيا د پوهی او تعليم اثر ځان په پښتو کی هم ځرګند کړ. په کوزه پښتونخوا کی قاضی ميراحمد شاه رضوانی او منشی احمدجان د پښتو نثر د نوی سبک پاخه استادان دی، شکرستان افغانی او بهارستان افغانی د رضوانی د نثر غوره کتابونه، د قصه خانۍ ګپ او د افغانستان تاريخ د منشی احمد جان نثری اثار دی. د انګريزانو د جنګ په دوران کی پښتو ډيری حماسی چاربيتۍ ويلی دی چی په دی لړ کی د نورشالی، اکبر شاه، احمدګل نواب، طالب ګل او پاياب نومونه د پوره يادونی وړی دی چی د دوی دغه جنګی چاربيتۍ ډارمستيټر په پښتونخوا هاروبهار کښی راوړی دی او اوس د پښتو ټولنی په نوی اثر توری بريښ کی هم چاپ سوی دی. په دی وخت کی په پښتونخوا کی پښتو شاعرانو مقابله شروع کړه چی وروسته تر هغه د جلال-آباد اوسنی شاعران لکه غريبی او مخی او د کابل غلام محی الدين افغان او مولوی صالح محمد د يادونی وړ دی. د دی دوری په دوهمه برخه کښی لوی لوی ليکوالان ميدان ته راووتل او ډير غوره اثار يی وليکل لکه محمدګل-مومند، عبدالحی حبيبی، ګل پاچا الفت، قيام الدين خادم، عبدالرؤف بينوا، صديق الله ريښتين، چی دغه کسان په نثر او نظم دواړو کی غښتلی وه. په کوزه پښتونخوا کی د نثر پاخه استادان سيدراحت زاخيلی، ماسټر عبدالکريم، قاضی عطاء الله، دوست محمد کامل، سيد رسول رسا، عبدالخالق خليق او د شرع استادان امير حمزه شينواری، سمندرخان سمندر، اجمل خټک، عبدالغنی خان غنی او داسی نور دی. په دی وخت کی ډرامی، ناولونه، ګرامری کتابونه او قاموسونه وليکل سول او د خارجی ژبو څخه زياتی ترجمی وسوی.

## پښتو د پخوانيو شاهانو په درباروکی

لومړی پاچا چی د پښتو سره يی مينه درلوده امير کروړ ؤ چی د امير فولاد سوری زوی او په (۱۳۹هـ ق) کی په منديش کی پر تخت کښيناست، دی نه يوازی داچی د پښتو سره يی علاقه درلوده بلکی د پښتو ژبی يو شاعر هم ؤ چی د شعر نمونه يی په لاندی ډول ده:

زه يـــــــم زمــــــــــــری پر دی نړی له ما اتل نشته
په هند و سند و پـــــــــــــــــــر تخار او پر کابل نشته
بل پـــــــــــــــــه زابل نشته
له مـــــــــــا اتـــــــــــــــــل نشته

د امير کروړ وروسته نورو سوری پاچاهانو هم د پښتو سره علاقه درلوده چی د امير محمد سوری (د سوری کورنۍ آخر پاچا) د دربار شاعر شيخ اسعد سوری وؤ، هغه وخت چی امير محمد سوری د سلطان محمود غزنوی په بند کی د غور د آهنګران د کلا څخه غزنی ته وړل کيدی او زهر يی وخوړل نو شيخ اسعد چی د هغه ډير سخت دوست ؤ د هغه په غم کی يی لويه قصيده وويل، البته دی لومړی شاعر دی چی په پښتو کی يی قصيده وويل. د نوموړی قصيدی سر دادی:

د فلک له چـــــــــــــــــــــــــــــــــارو څه وکړم کوکار
زمولوی هر ګل چـــــــــــــــــــــــــی خاندی په بهار

شيخ اسعد سوری په (۴۲۵هـ ق) کی د زمينداور په بغنی کی وفات سو. تر سوريانو وروسته سلطان شهاب الدين غوری هم د پښتو سره علاقه درلوده، دده په وخت کی دوه لوی شاعران تير سوی دی.

- ښکارندوی غوری د سلطان شهاب الدين غوری معاصر ؤ چی سلطان شهاب الدين غوری په هند حمله وکړه نو په (۵۷۱هـ ق) کی ښکارندوی غوری دده په ستاينه کی ډيری قصدی وويلی چی د يوی قصيدی سر يی دادی:

د پسرلی ښکلونــــــــــــــــکـــــــــــی بيا کړه سينګارونه
بيا يی ولونل پـــــــــــــــــــــــــه غرونو کی لالونه

- د شهاب الدين غوری بل معاصر شاعر ملکيار غرشين دی، شهاب الدين غوری په هند کی د اوسيدو ځای ورو باخښنه. ملکيار غرشين د مجاهدينو د تشجيع دپاره يوه ترانه ويلی ده چی سر يی دادی:

ښښتن مـــــــــــــــو مل دی اوس مـــــــــــــــو یرغل دی
هیواد د بـــــــــــــــــــل دی
غازیــــــــــــانــــــو گوری
ښښتن مـــــــــــــــو مل دی
د همدی ترانی په آخر بند کی د سلطان شهاب الدین غوری داسی ملاتړی کوی:
غازیــــــــــــانــو راشئ ټول شاوخــــــــــــــوا شئ
د شهاب پــــــــــــــه ملا شئ
دښمن مــــــــــــــــو غوځ کئ
ښښتن مو مـــــــــــــــــــــل دی
تر سلطان شهاب الدین غوری وروسته د سلطان غیاث الدین غوری په دربار کی هم پښتو لوړ مقام درلود. دده د دوری مهم شاعر تایمنی ؤ. د سلطان په مدح کی یی ډیر اشعار ویلی دی چی یو څو بیتونه یی په لاندی ډول دی:

نن زه ږغیږم پــــــــــــــــه صفت د سلطان
چی دی بادار غـــــــــــــــــــــازی ملک د جهان
تل دی بری وی د غـــــــــــــــــــازی پر میدان
زه تایمنی ستاینه کــــــــــــــــــــــــــــړم د سلطان

د ملتان لودی شاهانو هم د پښتو سره علاقه درلوده. سلطان نصر لودی چی د حمید لودی وروسته په (۳۴۱هـ ق – ۳۹۰هـ ق) پر تخت کښیناست د پښتو ژبی شاعر ؤ، او همدارنگه د ده اکا *شیخ رضا لودی* په پښتو شعرونه ویل. سلطان فیروز شاه د سالار رجب زوی او د غازی ملک خان وراره چی خپل د اکا د زوی سلطان محمد شا تر مرگ وروسته په (۲۴/محرم/۷۵۲هـ ق) کی پر تخت کښیناست، پښتو دومره ارزښت ورته درلود چی د دربار هر سړی ته د پښتو په وجه قدر ورکول کیدی دغه پاچا تر ۳۸ کالو پاچاهی وروسته په (۱۸/روژه/۷۹۰هـ ق) کی وفات سو. سلطان بهلول لودی چی پر هند یی ۳۸ کاله پاچاهی وکړه د پښتو بدیهه شاعر ؤ وایی چی خلیل نیازی د ده د دربار پښتون شاعر د هندوستان د برسات په موسم کی دا لاندی رباعی د سلطان په مخ کی وویله:

خړی وریــــــــــــــځـــــــــــــی ژاړی له پاسه کویله ږغ کا بیلتونه لــــــــــــــــه لاسه
یه: هغه لونــــــــــــــــــی گوهر په خول ستا دا مرحبا کا ستا زمونږ مــــــــــــــــــــــواسه
سلطان سمدستی دا لاندی رباعی وویله:

ملک بـــــــــــــــــــــــه زرغون کړم په ورکړه راسته
گوره وریځی د داد لـــــــــــــــــــــــــــــه پاسه
خول می د عدل پــــــــــــــــــــــــه درو رون دی
جهان به زیب مومــــــــــــــــــــــــــــــی زما له لاسه

دا پادشاه په (۸۹۴هـ ق) کی وفات سو.
میرویس نیکه که څه هم پاچا نه ؤ خو شاعران او ادیبان یی روزل. کله چی دوی قیام کاوه نو د رحمان بابا دیوان یی خلاص کړ او دا لاندی بیتونه راغلل:

زه مکتوب غوندی پــــــــــــــــــه پټه خوله گویا یم
خاموشی زما تیری کـــــــــــــــــا تــــــــــــــر غوغا زما
کښت د عشق پـــــــــــــــــــه توده ځمکه امان چیری؟
سمندر بویه چـــــــــــــــــــــی زیست کا په صحرا زما

نو دوی هم چپ پاته سول او په پټ فعالیت یی شروع وکړه او کله چی د ملی قیام وخت راغی نو بیا یی درحمان بابا دیوان پرانیست او دا لاندی بیتونه راغلل:

چی آسمان یـــــــــــــــــــــــــی مخ پټ کړی په سحاب ؤ
خدای و ماته ښکاره کــــــــــــــــــــــــــــــــړ هغه نمربیا
چی رقیب راته ترلی پـــــــــــــــــــــــــه زنځیر ؤ
خپل حبیب راباندی پـــــــــــــــــــــــــرانیست هغه ور بیا
په وصال یـــــــــــــــــــــــــــــــی منت بار اوسه رحمانه
چی صدف کی دخــــــــــــــــــــــــــل نشته د گوهر بیا

نو ټولو پښتنو په اتفاق سره ملی قیام وکړ او دوی کامیابه سول. د میرویس نیکه مور نازو انا د پښتو شاعره وه

چې دوه بیتونه یې په لاندې ډول دي:

سحرګه وه د نـــــــــــــــــــــرګس لیمه لانده
ځاځکې ځاځکې یـــــــــــــــــــــــــــــي له سترګو څڅېده

ما ویل څه دي ښکلې ګله ولـــــــــــــــــــــــي ژاړې
ده ویل ژوند مـــــــــــــــــــــــــــــي دی یوه خوله خندېده

برسیره پر دې د میرویس نیکه اکثره سپه سالاران او ملګري د پښتو ژبې شاعران وه لکه سپه سالار سیدال خان ناصر، سپه سالار داود هوتک، د پټې خزانې د لیکونکي پلار (ملا پیرمحمد میاجي مشهور په پیر افغان)، بابو جان بابی، ملا نور محمد غلجي او نور. د پښتنو دا ملي قاید په (۲۸/ذیجة الحرام/۱۱۲۷هـ ق) کې وفات سو. شاه - حسین هوتک د میرویس نیکه زوی چې په (۲۳/ربیع الاول/۱۱۱۴هـ ق) کې د کلات د سیوري په علاقه کې زیږېدی ؤ او په (۱۱۳۵هـ ق) کې د خپل ورور شاه محمود هوتک په انتخاب په قندهار کې پادشاه سو او تر (۱۱۵۱هـ ق) پورې یې پاچاهي وکړه. دده په وخت کې ډېر زیات علمي کاروانه وسول. شاه حسین هوتک لومړی پاچا ؤ چې پښتو ژبې ته یې خاصه توجه وکړه. دده په وخت کې پټه خزانه تألیف سوه. _د محمد هوتک په حواله:_ شاه حسین هوتک به کله پښتو او کله فارسي اشعار ویل، پښتو اشعار به یې ملا یار محمد ته ویل او هغه به ځینې غلطۍ ځینې ایستلې، د شاه حسین د یوې غزلې سر دادی:

بېلتانه دی د غمو پـــــــــــــــــــــــــه چپاو چور کړم
په تیارو کې د هجران یـــــــــــــــــــــــــي له تا دور کړم

د شاه حسین هوتک خور میرمن زینبه هم د پښتو ژبې شاعره وه، د ده د دربار نور علماء او پښتانه شاعران په لاندې ډول دي:

- افضل العلما ملا یارمحمد هوتک چې لوی عالم او د پښتو ادیب ؤ او په فقه کې یې د مسائل ارکان خمسة په نامه کتاب لیکلی دی.
- محمد هوتک چې پټه خزانه، خلاصة الفصاحة او خلاصة الطب یې په پښتو لیکلي دي، دی ښه شاعر هم ؤ چې د یوې غزلې سر یې دادی:

ساقي پاڅه! د ســـــــــــــــــــــــــرو میو ډک یو جام را
ستا له غمه نـــــــــــــــــــــــــــــــا آرامه یم آرام را

- بل عالم او شاعر ملا زعفران تره کی ؤ، د پټې خزانې مؤلف د مدالهام او صدر الفاضل په نامه یاد کړی دی او وایي: _د پادشاه کېن لاس دی او یو کتاب یې د ګلسته زعفراني په نامه لیکلی دی._
- سالار بهادرخان چې د شاه حسین مشهور سالار، بازو او ښه شاعر ؤ، پادشاه ورته په ورور او عوامو ورته امیرالامراء ویل.
- ریدی خان هم د پښتو ښه شاعر ؤ. دی په (۱۱۳۶هـ ق) کې اصفهان ته ولاړ، د پادشاه سره د خبرو وروسته کندهار ته راغئ او محمودنامه یې په نظم ولیکل نو شاه حسین هوتک ورته زر طلاوې صله کړې.
- نصرالدین خان اندړ هم د پښتو شاعر ؤ، په اشعارو کې یې د نصر تخلص کاوه.

تر هوتکیانو وروسته، احمدشاه بابا یو لوی شاعر ؤ چې د اشعارو یو دیوان یې سته. د احمدشاه بابا دربار لومړی دربار دی چې پښتو ګرامر پکښې لیکل سوی دی، دا ګرامر د پښتو شاعر پیرمحمد کاکړ د احمدشاه بابا د زوی شهزاده سلیمان دپاره چې دده شاګرد ؤ لیکلی دی. دا کتاب د پښتو لومړنی ګرام دی او تراوسه زمونږ لاس ته راغلی دی. تیمورشاه هم په پښتو شعرونه ویل چې د یوې غزلې سر یې دادی:

نن مې بیا له تورو سترګو ســـــــــــــــــــــره جنګ دی
پر لبانو یـــــــــــــــــــــــــــــي د زړه د وینو رنګ دی

زمان شاه که څه هم شاعر نه ؤ مګر د پښتو ادیبان او شاعران یې روزل. مثلاً رحمت داوي چې په کندهار کې اوسیده او په (۱۲۱۰هـ ق) کې یې دلیلا او مجنون قیصه په پښتو نظم کړه. په مقدمه کې د خپل پاچا داسې ستاینه کوي:

سلطان د شـــــــــــــــــــــاه زمان دی — دی خاقـــــــــــــان ابن الخاقان دی
پلار نیکه یـــــــــــــــــــــي پادشاهان وؤ — دویه تاج د هـــــــــــــــــر افغان وؤ
شکر شکر شـــــــــــــــــاه زمان — غنیمت دی دا زمـــــــــــــــــــــان

د هغه وخت دوه نور شاعران میا نعیم متي زی او ګل محمد ابدالي وه.

امير دوست محمد خان په وخت کې هم پښتو په شاهي دربار کې خاص ځای درلود او دده دوه وروڼه مهردل خان مشرقي او سردار پردل خان د پښتو شاعران وه. د سردار مهردل خان ځای په کندهار کې ؤ او هر مازديگر به د کندهار نامتو ادبا لکه ميرزا حنان، حاجي عبدالله، صديق آخندزاده او نور شاعران دده په ځای کې سره راټوليدل او هلته به يې علمي او ادبي بحثونه کول. د سردار مهردل خان د يوې غزلې سر دادی:

پلو واخله له سپوږمـــــــــــــــــــــــــــــی مخه ميرمنی
ستا بی مخه راته شپې دی ورځـــــــــــــــــــــــــــی سپينی

د سردار پردل خان د يوې بدلې چې پر ملي وزن يې ويلې ده سر دادی:

دی گورئ د گل په شان مـــــــــــــــــــــــــــی ژړ رخسار د يار دی
عالم يـــــــــــــــــــــــــــــی تمه دار دی

امير شير علي خان پښتو ته خاصه توجه درلوده ټولې عسکری بولې او د ملکي مامورينو القاب يې په پښتو واړول، علاوه پر دی د امير شير علي خان د خولې ځو لنډۍ هم اوريدل سوی دی، لاندی لنډۍ يې هغه وخت ويلې چې د کابل څخه مزار ته پر لار وه او د بدبختيو ورته مخ ؤ:

ما ويل په تا بـــــــــــــــــــــــــــه زړگی ښاد کړم
اوس له تا وړم د ارمانجن زړگـــــــــــــــــــــــی داغونه
د غم لښـــــــــــــــــــــــــــکری راپسی دی
د پاچهی تاج مـــــــــــــــــــــــــــی پر سر له ملکه ځمه

د امير حبيب الله خان په وخت کې پښتو په تعليمي نصاب کې شامله سوه، په امانيه دوره کې په کابل کې پښتو - مرکه جوړه سوه چې دغه مرکې د پښتو ژبې قواعد وليکل، نوی نومونه او اصطلاحات يې جوړ کړل. ځينې کتابونه يې د ښوونځيو دپاره جوړ کړل يو کتاب د پوازينې پښتو او بل د پښتو ښوونه په نامه طبع او خپاره سول. پښتو مرکې د پښتو ژبې يو جامع قاموس هم وليکه مگر متاسفانه چې طبع او نشر نسو. د سراج الاخبار او طلوع افغان په جريدو کې هم پښتو جاري سوه.

## د افغانستان جريدې

۱- شمس النهار: هغه وخت چې په (۶۹ – ۱۸۶۸م) کې سيد جمال الدين مجبوره سو چې خپل ملک پريږدی نو امير شيرعلي خان ته يې د يوې جريدې وړانديز وکړ. امير هم په (۱۲۹۰هـ ق) کې جريده نشر او خپره کړه. دغه جريده شمس النهار په هفته کې يو وار په (۱۶) صفحو کې د بالاحصار په سنگې مطبعه کې چاپيده. په لومړی مخ کې يې د شمس النهار کابل عنوان د دوو زمريانو تر منځ ليکل سوی ؤ چې د هر زمری په يوه لاس که توره او بل لاس کې عنوان ؤ. دغه جريدې مدير نه درلود او د جناب ميرزا عبدالعلي په اهتمام خپريده. د شمس النهار د ليکنو څخه معلوميږي چې د امير شيرعلي خان په وخت کې افغانستان په شمالي برخو کې د توپ جوړولو يوه ماشين خانه درلوده او همدارنگه په (۱۲۹۱هـ ق) کې د يوې سختې زلزلې خبر ورکوی.

۲- معرف معارف: دا په افغانستان کې لومړی معارفي مجله وه چې د پوهنې له وزات څخه د (۱۲۹۸هـ ش) د سنبلې په اوله په کابل کې نشر سوه. ددی مجلې قطع ډيره کوچنې وه چې د معمولي کاغذ اتمه برخه کيدله. په لومړی کال (۳۰) مخه او په دوهم کال کې يې (۶۰) مخه درلودل. دا مجله د (۱۳۰۱هـ ش) کال د ثور تر مياشتی پوری خپره سوه. د لومړی کال چلوونکی يې معلوم نسو خو د دوهم کال چلوونکی يې محمد حسين د کابل د حبيبی ليسې مدير او محرر يې ښاغلی حافظ امير محمد ؤ.

۳- ارشاد النسوان: د ښځو دا جريده په [(پنجشنبه) ۱/۱/۱۳۰۰هـ ش] کې چاپ او نشر سوه. په افغانستان کې دا د ښځو لومړی مجله ده. مديره يې اسمار د محمود طرزی ماندينه او محرره يې روح افزا د محمد زمان خازن الکتب لور وه چې هری يوی خپل د نوم مخفف په ترتيب سره د مجلې پر سر (ا – ر) او (ر – ا) ليکل. دا مجله هر پنجشنبه د ده افغانانو په کاروان سرای کې پر نازک پسته يې کاغذ په سنگې چاپخانه کې چاپيدله. د جريدې نوم او عنوان د يوه کتاب، د يوی توری او يو خول تر رسم لاندی ليکل سوی او دا خول بيا د دوو وږو په مينځ کې رسم سوی ؤ. لومړی دا جريده په (۴) مخونو کې مگر وروسته تر (۱۲می) گڼې په (۸) مخونو کې چاپيدله.

## د پښتنو هيواد

۱- پکتيکا (د سورت اباسيند، پښين او سيند تر منځ علاقه): چې د روه په نامه هم يادېده. د پکتيکا په ولايت کې ځلور قومونه [گنداری، (اپاريتي = اپريدي)، ستاگيدی او داديکی] اوسيدل.

۲- گندهارا: ددی ولايت لويديځ خواته اراکوری او ختيځ خواته يې اندوس (اباسيند) دی. د کابل شاوخوا سيمې،

ننګرهار او پیښور پکښې شامل وه. مرکز یې ننګاراهاراياهډه وه او دلته ګندارياڼ اوسیدل چې ټول پښتانه دي.

**۳- روه:** دانوم په اوستا کې (اروا – اروه) راغلی دی. او سویلي خوا غزني د روه په نامه یادیږی. د روه کلیمه د خوشحال خان ختک له وخته عامه ده. اشرف خان هجری د خوشحال خان ختک زوی چې د مغلو سره ۱۴ کاله بندي ؤ داسې وایي:

قاصدان له روهــــــه نه راځی مدت شو سلام باد رارسوی منت یــــــــی تم دی

## باګرام په پښتو ادب کې

دا هغه باګرام نه دی چې دوه نیم زره کاله پخوا د کاپیسا مرکز او د (۶۰۰) کالو دپاره د افغانستان د امپراطوری مرکز ؤ بلکه دا هغه باګرام دی چې د خیبر او پیښور په منځ کې پروت دی. ځینی خلک وایي باګرام د بګ رام (د خدای باغ) په معنا او ځینی بیا وایي چې د بالک ګرام (د هلکانو کلی) په معنا دی خو باګرام په زیاتو معناؤ استعمال سوی دی لکه: پایتخت، د نجیبانو ښار، د خدای باغ، د مُریدانو او راهبانو کلی او هم د بودایی دین د مقدسو ځایونو دپاره استعمالیده.

بسم الله الرحمن الرحیم

# دپښتنو ادیبانو تاریخچه

## امیر کروړ

امیر کروړ د امیر پولاد سوری زوی چه په ۱۳۹هـ کی دغور په مندیش کی امیر شو، امیر کروړ ډیر غښتلی وو او په یو تن له سلو تنو جنګاورانو سره جنګیده. امیر کروړ په زمینداور کی دمندیش په شان مانۍ درلوده او په دوبی کی به په زمینداور کی وؤ. سوریان د هغه سور له اولادی څخه دی چه د سهاک له پښته ؤ. امیر پولاد د عباسیانو او ابومسلم خراسانی په ملاتړی جنګ کاوه. په تاریخ سوری کی محمد بن علی البستی داسی لیکلی دی چه امیر کروړ د عباسیانو دپاره ډیره سوبی کړیدی. شیخ کټه له تاریخ سوری نقل کوی چه: امیر کروړ ډیر عادل سړی وو چه په کال ۱۵۴هـ کی د پوشنج په جنګو کی مړ سو او دده وروسته دده زوی امیر ناصر امیر سو.

### دامیر کروړ دکلام نمونه

زه یـــم زمـــری پـــر دی نـــړی لـــه ما اتل نسته
پـــه هـــنـــد و سـنـد و پـــر تـخار و پر کابل نسته
بـــل پـــه زابـــل نـــســتـــه لـــــه مـــــا اتـــل نـــســـتـــه

## بیټ نیکه

دبیټ نیکه نوم مورخینو بیټن او بټن هم لیکلی دی، دده ژوند د ۳۰۰ او ۴۰۰هـ ترمنځ اټکل سوی دی. تر ټولو پخوانی کتاب چه دده اشعار پکښی راغلی دی تذکرة الاولیاء دی چه سلیمان ماکو په ۶۱۲هـ ق کال کی لیکل دی. بیټ نیکه دوه ورونه درلودل چه سړبن او غرغښت نومیدل، بیټ نیکه خپل اسمعیل زوی و سړبن ته ورکړ او د سړبن اولاده زیاته سوه.

لـــویـــه خـــدایـــه! لویه خـــدایـــه! ســـتـــا پـــــــــه مینه په هر ځایه
غـــــر ولاړ دی درنـــــاوی کـــښـــی ټـــولـــــــــه ژوی پـــه زاری کښی

## پیر روښان

د پیر روښان اصلی نوم بایزید، په (۹۳۱هـ ق) کی زیږیدلی، د پلار نوم یی عبدالله چی په اووم پښت کی شیخ سراج الدین انصاری ته رسیږی، د نیکه نوم یی محمد ؤ او په قوم اورمړ اصلی وطن یی قندهار او د شیرشاه سوری د مرګ وروسته د پښتونستان په کانی ګرام کی اوسیده. پیر روښان د وخت مخالفینو پیر تاریک باله، ده د وخت متداوله علوم د ملا سلیمان کالنجری او ملا پاینده څخه ولوستل او بیا د فلسفی د تحصیل او د تصوف د معلوماتو د تکمیل دپاره هند او ماوراء النهر ته ولاړ کله چی دی وطن ته راغی نو مغول په افغانستان کی مسلط وه، ده پښتانه د مغولو پر خلاف پاڅول، دی په پای کی د شینوارو د علاقی (تور غره) ته نږدی په (کالا پایی) نومی ځای کی په داسی حال کی چی د متجاوزینو سره جنګیده جل وواهه او له تندی مړ سو چی د مړینی نیټه یی د (۹۹۰هـ ق) او (۹۹۴هـ ق) تر منځ تخمین سوی ده. پیر روښان د توری سره یو ځای کتابونه هم لیکلی دی چی د هغو څخه خیر البیان دی چی په پښتو، عربی، فارسی او هندی ژبو یی لیکلی دی او داکتاب اوس په پیښور کی چاپ سوی دی. پیر روښان په فلسفه او حکمت کی ډیر رسیدلی ؤ چی په هغه وخت کی پیر بابا او د هغه د غښتلی مرید اخوند درویزه چی په بونیر کی اوسیدل تر منځ زیاتی مناظری او منازعی وسوی چی اخوند درویزه هم د پیرروښان پر علم او ځیرکی قایل ؤ. د پیر روښان څخه د هغه لاندی تصانیف راپاته دی: مقصود المومنین، حال نامه، صراط التوحید، خیرالبیان. پیر روښان د وحدت الوجود د مسالی لوی مبلغ تیر سوی دی چی شیخ محی الدین ابن العربی مشهور فیلسوف او متصوف هم تر ده ډیر پخوا دغه مساله څیړلی ده، مولانا بلخی، حسن بصری، شیخ عبدالقادر جیلانی، جنید بغدادی، ذوالنون مصری، بایزید بسطامی، فرید الدین عطار، شمس تبریزی، سعدی، حافظ، جامی او داسی نورو اکابرو په خپل وار د دغی مسالی طرفداری کړی ده، دا یوه نوی مسله نه وه چی پیر روښان منځ ته راوړی وه بلکه دی هم د نورو علماؤ پر منډ روان وؤ او د میرزاخان دولت لوانی په شان شاعران هم په دغه مسله کی په ده پسی تللی دی.

نقل کا چی: هغه وخت چی شیرشاه سوری د پښتنو ننګیالی پاچا په هند کی تر پنځو کالو پاچاهی کولو وروسته وفات سو، د ظهیرالدین بابر زوی همایون بیا وکړای سوه چی هند ته ولاړ سی خو ژوند یی وفا ونکړه او یو کال وروسته مړ سو او د ده وروسته دده ۱۴ کلن زوی اکبر دده پر ځای کښیناست، اکبر د خپلو پلرو په ډول د پښتنو

سره مخالفت شروع کړ، په (۱۵۸۶م) کال کې یې یو لوی لښکر د خپل رضاعي ورور (زین خان کوکه) او (راجا بربل) په سالارۍ د اټک خواته واستاوه چې په نتیجه کې اته زره تنه سپاهیان، راجا بربل او ځینې نور سرداران مړه او ماته یې وخوړه چې په دې ځای کې پیر روښان هم جنګیده.

## میرزاخان انصاری

دنور الدین زوی او دبایزید روښان لمسی ؤ، په قوم اورمړ، په ۹۸۸هـ ق کې زیږیدلی او په ۱۰۴۰هـ ق کې د دکن په جنګ کې مړسو او دی د شعرونو یو دیوان هم لري

## رحمن بابا

رحمن بابا د عبدالستاور زوی، په قوم مهمند او په (۱۰۴۲هـ ق) کال کې د پیښور د مهمندو د بهادر په کلي زیږیدلی دی. رحمن بابا یو صوفي سړی وو چې فقه او تصوف یې له ملا محمدیوسف یوسفزي څخه زده کړل او نور علوم یې په هند کې زده کړل او هم یې یو وار په زلمیتوب کې د خوشحال خان سره په اکوړه کې لیدلی وه. رحمن بابا د شعرونو دوه دفتري دیوان لري. دده د کلي خلک اوس هم د هغه ونې درناوي کوي چې رحمن بابا تري لاندې کښینستی. رحمن بابا په (۱۱۱۸هـ ق) کې وفات سوی او د پیښور د علاقې د هزارخاني په هدیره کې ښخ دی.

### درحمن بابا د کلام نمونه

چــې مــدام د بــل و عــیـبــو تـــه نــظــر کــړي
خــدای لـــه خــپـلــه عــیـبــه ولـــي بــې خبر کړي

کـــه یـــوه جـــودانـــه عـــیـــب ویـــنـــې پـــه بـل کـې
هـغـــه یـــوه جـودانـــه عـیـب بـــه یـــې لـــوی غـر کړي

## حمید مومند

حمید بابا په قوم مومند، دپیښور د ماشوخیلو په کلي کې زیږدلی دی، د زیږیدنې نیټه یې نه ده معلومه مګر دمړینې نیټه یې پروفیسر بومهارټ ۱۱۴۵هـ ق ښودلی دی.د حمیده بابا په شعرونو کې دوه خصوصیتونه سته: اول داچې ښکلي تشبیهات او استعاري پکښې سته او بل داچې د پښتو ژبې زاړه لغاتونه یې پکښې راوړي دی حمید مومند د ۳ مرجانو په نامه دیوان لري، د ۱۱۳۷هـ کال د شاه او ګدا قیصه چه هلالي په فارسي لیکل وه په پښتو یې ترجمه کړه او د مولانا غنیمت د نیرنګ عشق ترجمه ده چې په پښتو مثنوي یې لیکلې ترجمه کړې ده.

## خوشحال خان خټک

خوشحال خان په (۱۰۲۲هـ ق) کال د ربیع الثاني په میاشت له پیښوره پنځه ویشت (۲۵) میله لیرې د لمر خاته د لنډي سیند پر غاړه په (اکوړه) نومي ځای کې وزیږید چې پلار یې شهباز خان د یحیی خان زوی او ملک اکوړي نمسی د خټکو د قبیلې یو مقتدا مشر ؤ چې د هغه تر مړینې وروسته خپله خوشحال د قوم مشر سو. د خوشحال خان خټک ۲۶ کلن زلمی زوی په (۱۰۸۹هـ ق) کې ځوانیمرګ سو نو ده به همیشه ویل چې دابښه وو چې په جنګ کې مړ سوی وای نه په تلتک کې. خوشحال خان تر شپیتو زیات زامن درلودل او یودیریش یې لوڼې وې او د ۷۸ کالو په عمر د (۱۱۰۰هـ ق) کال د ربیع الاول په ۲۸ وفات سو چې وروستئ وصیت یې داؤ: (ما هلته ښخ کړي چې د مغلو سیوري مې پر خاوره ونه شي، او د مغلو د سپرو د پښو ګرد مې پر هدیره ونه لویږي!!)

### د خوشحال خان خټک د کلام نمونه

مـــرد هـــغـــه چـــې هـــمـــتـــنـــاک بـــرکـتـنـاک
د عـــالــــمـــه ســـره خـــوش پـــه زیـــســـت و ژواک

مـــخ یـــې مـــخ، قـــول یـــې قـــول، عـــهـــد یې عهد
نـــه دروغ، نـــه یـــې فـریـــب، نـــه تـــش تـــپـــاک

## شیخ تیمن (رح)

شیخ تیمن د شیخ کاکړ زوی ؤ شیخ تیمن د غور برې خواته ولاړ او هلته میشت سو نو ځکه یې خلک اوس اولاد په کاکړو کې نه شماري او اوس یې اولاد د تایمني په نامه مشهوره دی. کاکړ بابا لا ژوندی وو تیمن له غوره راغی او په ژوب کې یې ورسره ولیدل او بیرته ولاړ په کجران کې و اوسید او د علاؤالدین حسین سام په زمانه کې وفات سو. د تیمن بابا دغه شعرونه زما پلار له (بستان اولیا) څخه نقل کول ما له ده واوریدل:

کــــهــــيـــخ رنـــا د لـــمـــر خـــپره شوه
زمـــا پـــه کــــور د ويــــر نــــاره ســـوه
د بــيـــلـــتــون ورځ تـــوره تـــيـــاره شوه
ږغ شـــو نـــاخـــاپـــه چــــی بـــيـلتون راغئ

## کاظم خان شیدا

کاظم خان شیدا د پښتو د مشهور لیکوونکی افضل خان زوی، د نامتو شاعر اشرف خان هجری لمسی او د پښتو د نومیالی پلار خوشحال خان ختک کړوسی دی. د (۱۱۴۰هـ ق، ۱۷۲۷م) کال په شاوخوا کی د پیښور د ختکو د علاقی د (سرای) په (آفضل آباد) کی زیږیدلی دی. څه وخت چی دده پلار افضل خان وفات سو نو د قوم د مشرتوب واګی دده مشر ورو اسدالله په لاس کی واخستلی خو څنګه چی اسدالله یو ډیر تند خوی سړی وو نو د خپلو ورونو او خپلوانو سره یی بد سلوک کاوه چی ددی له امله کاظم خان شیدا لومړی د شرقی علومو دزده کړی دپاره کشمیر  ته ولاړ، وروسته سرهند او بیا د ژوند تر پایه د رامپور د پښتنو سره پاته سو. کاظم خان شیدا د شعرونو یو دیوان لری چی په (۱۱۸۱هـ ق) کی د ترتیب څخه خلاص سوی دی. د کاظم خان شیدا د کلام نمونه په لاندی ډول ده:

ځـــای د روغ د لـــيونـــی شـــه کـــه هوشـــيار يـی
صـــلـــح کـــل د ځـــان پـــيـــشـــه لکه صحرا کړه

## محمد هوتک

د پټی خزانی مؤلف محمد هوتک د داود خان زوی، د قادر خان لمسئ، د (۱۰۸۴هـ ق) کال د رحجب المرجب په دیارلسمه په کوکران کی پیدا سوی دی. د عمر تر اتلس کلنی پوری یی علوم زده کړل، دده تالیفات دادی: پټه خزانه، خلاصة الفصاحت، خلاصة الطب (۱۱۳۹هـ ق – چی شاه حسین هوتک پر دغه کتاب سل طلاوی بخشـــش ورکړی دی) او هم یو د شعرو دیوان لری. د دولت نورو خلکو هم ده ته بخشـــشونه ورکول لکه بهادرخان.

## سید جمال الدین افغان

د کنړ د ولایت د ساداتو په یوه علمی او دینداره کورنی کی په (۱۳۵۴هـ ق) کال کی چی د (۱۸۳۸م) سره سمون خوری پیدا سوی دی، دپلارنوم یی سید صفدر بن سیدعلی دی. سید جمال الدین افغانی په نهم نسب کی سید علی ترمذی، په اتلسم نسب کی سید جلال ته چه په ګنج العلم مشهور ؤ او په دیرشیم نسب کی سید الشهداء حضرت حسین ته رسیږی. سید صفدر د امیر دوست محمدخان په حکومت کی لس کاله په کابل کی تیر کړل سیدجمال الدین تر اتلس کلنۍ پوری د خپل کورنۍ سره وؤ. ده تر اتلس کلنی پوری پر ټولو مروجه علومو تسلط پیداکړ او ابتدایی زده کړی یی دخپل پلار څخه کړی دی. په دری، عربی، انګلیسی، روسی، فرانسوی او ترکی ژبو یی لیک او لوست کولای سو او په اردو ژبه یی هم خبری کولای سوی. سید جمال الدین د ۱۸۶۱م کال څخه تر ۱۸۶۸م کال پوری د امیر دوست محمدخان، امیرشیرعلی خان او امیر محمداعظم خان مشاویر وؤ، د محمداعظم خان د اخری ماتی وروسته یی د امیر شیرعلی خان څخه د حج ته دتلو اجازه واخستله او د کندهار پر لار هند ته روان سو. سیدجمال الدین د ترکیی په نشان تاش کی د ۱۸۹۷م کال د مارچ په ۹ نیټه د ۶۰ کالو په عمر مړ سو او ځلوېښت کاله وروسته دکابل پوهنتون په ساحه کی ښخ کړل سو.

### دسید جمال الدین لومړی سفر

لومړی هند ته ولاړ، یو کال وروسته په ۱۸۵۷م کال کی حج ته ولاړ هلته یی هم یو کال تیر کړ وروسته تر هغه شام، فلسطین، عراق، ایران، ترکیی او بخارا ته ولاړ له دغه پنځه کلن اوږده سفر وروسته بیا هرات، کندهار او جلال آباد ته راغی هلته د امیردوست محمدخان په دربار کی مشاویر او د شهزاده محمد اعظم خان معلم هم سو.

### دسید جمال الدین دوهم سفر

سید جمال الدین په دوهم سفر کی د غربیانو پر ضد د العروة الوثقی جریده را وایستل، ددی جریدی مدیر سید جمال الدین او لومړی محرر یی د مصر نامتو مفتی او لیکوال شیخ محمد عبده وؤ. لومړی ګڼه یی په ۱۸۸۴م کال د مارچ په ۱۳ نیټه خپره سوه دانګریزانو د زیاتو کوښـــښونو په نتیجه کی د العروة الوثقی جریده داکتوبر په میاشت کی د اتلسمی ګڼی دخپریدو وروسته بنده سوه.

## جنرال بخت خان پښتون

بخت خان لومړی د پرنګیانو په توپخانه کی نوکر، وروسته د لویو افسرانو په قطار کی شامل سو خو ده دا وظیفه

پرېښوده، په بریلي کې یې د خپل پیر حضرت سرفراز علي صاحب څخه یې اجازه وغوښته او د آزادۍ په غزا کې شریک سو. په (۱۸۵۷م، ۱۲۷۳هـ ق) کې د مریټ څخه تر کلکتي پورې هند د انګلیسیانو په لاس کې وؤ. د حافظ رحمت خان لمسی نواب بهادر خان برېڅي د بخت خان په تدبیر ډیلي ونیوه وروسته تر هغه یې بدایون ونیو چې بیا د انګریزانو له خوا په چل ونیول سو او اعدام سو. جنرال بخت خان په ۲ د جولاۍ په (۱۸۵۷م، ۱۲۷۳هـ ق) کې ډهلي ته د ۱۴۰۰۰ پښتنو سره په وسلو سمبال ننوت، دا خبر شهزاده مغل میرزا خپل پلار بهادر شاه ظفر د ډهلي مغل پاچا ته ورکړ هغه په ډېر اخلاص د بخت خان هر کلي وکړ او د فرزند لقب یې ورکړ یو ډال او د جواهرو ډکه توره یې ورکړه او په ټول ډهلي کې اعلان وسو چې بخت خان د ټول فوج اعلی افسر جنرال مقرر سو. جرنیل بخت خان د ۱۰۰۰۰ فوځ سره په تیس هزارۍ کې پر انګریزانو حمله وکړه چې دوی یې مات کړل او زیات غنایم یې لاس ته راوړل. یو فوځ باغپت او بل علي پور ته ولیږل سو چې غرمه جرنیل بخت خان ته خبر راغی چې غازیانو غټه سوبه وکړه ددې خبر په رارسیدو سره ټوله اولس هر ډول قرباني ته ملا وتړله. ډهلي ۴ میاشتې او څلور ورځې د جنرال بخت خان په لاس کې وؤ خو د جنرال بخت خان په مخ کې غټ خنډ مغل میرزا وؤ ځکه چې هغه بې تجربه وؤ او پلار یې د ټوله فوځ سپهسالاري ورکړې وه. د میرزا مغل خسر ((میرزا الهی بخش)) پر جنرال بخت خان د بهیاګانو قرض ورکول بند کړل . حکیم احسن الله د فوځ یوه برخه بهر ته ولیږله او بل داچې د دوا او مرمیو فابریکه یې وسوځوله. پاچا ((بهادرشاه ظفر)) همایون ته پنا یووړه، جرنیل بخت خان، همایون او نورو کسانو د پاچا وېښولو هڅه وکړه مګر الهي بخش هغه ډېره بیده کړی وه او ویښ نه سو نو بخت خان هم لومړی لکنهو ته ولاړ او تر هغه وروسته د جلال آباد ضلعې ((هردویي)) ته ولاړ کله چې یې ولیدل چې غداران هر ځای سته نو یوه شپه داسې له اولسه ورک سو چې پته یې معلومه نسوه.

## حافظ رحمت خان

حافظ رحمت خان برېڅي په (۱۷۰۸م) کې زیږیدلی دی، پلار یې شاه عالم خان او نیکه یې محمود خان او غور نیکه یې شهاب الدین نومیده چې په کوټبا بابا مشهور ؤ.حافظ رحمت خان ۱۴ زامن درلودل. د برېڅو اصلي وطن د کندهار ښوراوک او د پښین علاقه ده مګر د دوی زیاتي قبیلې د یوسف زو په لوی هجرت کې له خپل ټاټوبی څخه د اباسیند خواته لیږدیدلي دي. د حافظ رحمت خان پلار شاه عالم خان یو نوکر درلود چې داود خان نومیده، داود خان چې کله ځوان سو نو روهیل کنډ ته د مال او دولت د پیداکولو دپاره ولاړ چې وروسته بیا په غښتلتوب ډېر مشهور سو، وروسته شاه عالم خان هم ورغی او دوه زره روپۍ یې وربخښلې، داود خان د کمایون د راجه دیبي چند له خوا ووژل سو، تر هغه وروسته علي محمد خان (علي محمد خان په هلکوانۍ کې د داودخان لاس ته ورغلی وو چې په زوی ولي یې نیولی وؤ) نواب سو، علي محمد خان د پښتنو د خوشحالولو دپاره حافظ رحمت خان په زیاتو خطونو راوغوښته چې آخر د شیخ کبیر او ګل شیر خان سره روهیل کنډ ته راغی. حافظ رحمت خان دلته درې کاله تیر کړل ولاړی خپل ځای ته او بیرته راغی چې په دی واریې خپل کډه هم راوستل او د علي محمد خان په فوځ کې شامل سو. د ډهلي پادشاه محمد شاه په (۱۷۴۲م) کې ۵۰۰۰۰ لښکر د راجه هرنند په مشرۍ د دوی د ځپلو دپاره راواستاوه چې حافظ رحمت په ۴۰۰۰ لښکر وکړای سوه چې دوی مات کړي او خپله راجه هرنند مړ سو. په ۱۷۴۴م کې یې کمایون ونیو او د الموړی په کلا یې قبضه وکړه چې وروسته د هوا د ناسازی په وجه بیرته الموړی ته ولاړ. په ۱۷۴۵م کې بادشاه د کمایون د نیولو هڅه کړه او ۱۰۰،۰۰۰ فوځ یې راواستاوه دا ځل علي محمد خان او دوه زامنو عبدالله خان او فیض الله خان د بادشاه دربار ته پنا یووړه دلته د پښتنو انتظام خراب سو خو حافظ رحمت خان د ۷۰۰۰ لښکر سره ډهلي ته نږدې ورغی او د علي محمدخان غوښتنه یې وکړه بادشاه دغه غوښتنه ومنله او علي محمد خان ته یې د سرهند صوبه داري ورکړه. په ۱۸۴۸م کې کله چې احمدشاه بابا د هند د نیولو په نیت راغی نو د ډهلي بادشاه محمدشاه د پښتنو او پښتنولۍ د بیرې څخه علي محمدخان او رحمت خان ته د روهیل کنډ نوابي ورکړه او دوی هلته ولاړل. محمدشاه مړ سو پر ځایي یې زوی احمدشاه کښیناست، پر صدارت هم لانجه جوړه سوه څوک د صفدرجنګ او څوک د قمرالدین خان د زوی پر خوا وه چې صفدرجنګ رحمت خان راوغوښت او خپله یې د وزارت رتبه ونیوله، حافظ رحمت خان بیرته روهیل کنډ ته ولاړ. علي محمدخان په ۱۷۴۹م کې د استسقاء په مرض د سیپتمبر په میاشت مړ سو. د علي محمد خان وصیت حافظ رحمت خان وؤ مګر حافظ رحمت خان پګړی د علي محمد خان د زوی سعدالله پر سر کښېښوده په ظاهره مشر سعدالله وؤ مګر کار ټوله د حافظ رحمت خان په لاس کې وؤ. په پای کې حافظ رحمت خان د شجاع الدوله له لاسه د انګریزانو په ملګری مړ سو.

## نازو انا (میرمن نازو)

د نازو انا تولد په (۱۶۰۱م) کال کی په تازی نومی ځای کی چی دکلات او کندهار ترمنځ یو رباط دی واقع سوی دی. نازوانا د ملخی توخی لور او د حاجی عادل خور وه، په حباله د ښالم خان هوتک وه چی د کرم خان زوی وو. د نازوانا ځلور زامن وه چی مشر یی حاجی میرویس خان دی او نور یی عبدالعزیز خان، یحی خان او عبدالقادر خان دی. کله چی میرویس نیکه تولد سو نو میرمن نازو ته په خوب کی شیخ بیټنی ورغی او ورته ویلی یی وه: [دا زوی دی ښه وروزه چی دی به لوی کارونه وکړی] تر څو چی میرویس نیکه په (۱۱۱۹ هـ ق) کی پښتون قوم د ګرګین د شره وژغوره. نازو انا د شعرو یو دیوان هم لری چی دوه زره بیتونه پکښی دی چی دا لاندی رباعی د نوموړی میرمنی څخه پاته ده:

سحرګاه وه د نرګیس لیمه لانده — څاڅکی څاڅکی یی له سترګو څڅیده
ماویل څه دي ښکلیه ګله ولی ژاړی — ده ویل ژوند می دی یوه خوله خندیده

## میرمن زینبه

میرمن زینبه د میرویس نیکه لور، د علومو استاد یی ملا نورمحمد غلجی ؤ، دا ډیره عالمه او فاضله ښځه وه چی د پادشاهی مشوری به یی هم خپل ورور حسین ته ورکولی او هغه به عمل پر کاوه. زینبه یوه پوهه او عالمه ښځه هم وه چی خپله یی شعرونه هم ویل، مثلاً لاندی بیتونه یی د شاه محمود د مرګ په ویر کی ویلی دی:

ږغ سو چی ورور تیر له دنیا سونا
قندهار واړه په ژړا سونا
زړه می په ویر کی مبتلا سونا
چی شاه محمود له ما جلا سونا

## زرغونه انا

زرغونه انا د احمدشاه بابا مور وه. زرغونی انا په (۱۱۷۴هـ ش) کی احمدشاه بابا د دی نظریی څخه منصرف کړ چی نوی کندهار باید اووه دیوالونه او څو خندقونه ولری او هم زرغونی انا په (۱۱۷۴هـ ش) خلکو ته یقین ورکړ چی احمدشاه بابا ماته نه ده خوړلی. زرغونه انا د کندهار د ښار تر جوړیدو وروسته د احمدشاه بابا په ژوند کی وفات سوی ده.

## ملاله

د (۱۲۹۷هـ ق) کال د شعبان (برات) د میاشتی په اوولسمه د دوشنبی په ورځ د میوند پر دښت د پښتنو او انګریزانو سره جنګ ؤ، نږدی وه چی پښتانه ماتی وخوری نو ملاله راغله او بیرغ یی په لاس کی واخیست او لاندی لنډۍ یی وویله:

خال به د یار له وینو کښیږدم
چی شینکی باغ کی ګل ګلاب وشرموینه
که په میوند کی شهید نه سوې
خدایږو لالیه! بی ننګۍ ته دی ساتینه

## بی بی نیکبخته (رح)

بی بی نیکبخته د شیخ الله داد لور، په قوم مموزۍ چی په اشنغر کی یی پلار او نیکه د ممن زیو مرشدان وه. محمد هوتک په پټ خزانه کی لیکلی دی چی: زما پلار روایت کا چی شیخ امام الدین غوریا خیل په خپل کتاب (اولیای افغان) کی هسی کښلی دی چی: بی بی نیکبخته په سنه (۹۵۱هـ ق) کی په حباله د شیخ قدم قدس الله راغله چی د خواجه محمد زاهد خلیل متی زی زوی ؤ. په (۹۵۶هـ ق) کی یی له بطنه شیخ میاقاسم افغان په بدنی کی پیداسو چی بیا په هند او پښتونخوا کی مشهور سو. شیخ امام الدین هم ددی عرفاؤ له اولاده دی، شیخ امام الدین هسی لیکی چی دی عارفی په (۹۶۹هـ ق) کی یو کتاب لیکلی دی چی (ارشد الفقرا) نومیږی او هسی بیتونه یی پکښی لیکلی دی چی فقرا او عبادالله ته مفید دی او زما پلار چی کله بنو ته تللی وو د هغه یوه نسخه یی لیدلی وه چی لاندی بیتونه یی مثال دی:

د خـــدای حـــق تـــه غـــاړه کـښـــیـــږده
نـــــوری نــــــوری ویـــــنـــا پـــــریـــــږده
دنـــیـــا پـــاتـــــه لـــــه هـــــــر چـــا ده
پـــــه اخــــــلاص کـــــی ځـــــیـــــنـــی لـــیږده

## زرغونه

زرغونه د ملا دین محمد کاکړ لور وه، په پنجوایی کی اوسیده، علوم یی د پلار څخه زده کړل، په حباله د سعدالله خان نورزی وه. د شیخ مصلح الدین د بوستان کتاب یی په (۹۰۳هـ ق) کی په پښتو شعر نظم کا او نوم یی (بوستان د پښتو) وو. محمد هوتک وایی: زما پلار په سنه (۱۰۲۲هـ ق) کی د زرغونی خط لیدلی ؤ چی لاندی بیتونه یی مثال دی:

اوریـــدلـــی مـــی قـــصـــه ده چـــی لـــه شـــاتـــو هـــم خوږه ده
د اخـــتـــر پـــه ورځ ســـهـــار بـــــایـــزیـــد چـــی ؤ رویدار

# د پښتنو شاعرانو د کلام نمونی

## بیټ نیکه

لویه خدایه! لویه خدایه!
ستا په مینه په هر ځایه
غر ولاړ دی درناوی کښی
ټوله ژوی په زاری کښی
دلته دی د غرو لمنی
زموږ کیږدی دی په کښی پلنی
دا وګړی ډیر کړی خدایه!
لویه خدایه! لویه خدایه!

## رحمن بابا

همه واړه په تسبیح دده مشغول دی
که ملک دی که پیری دی که انسان دی
چی مدام د بل و عیبو ته نظر کړی
خدای له خپله عیبه ولی بی خبر کړی
که یوه جودانه عیب وینی په بل کی
هغه یوه جودانه عیب به یی لوی غر کړی
ګوره څه بلند مقام دی د اخلاص
چی جهان واړه غلام دی د اخلاص
عالمان دی روښنایی د دی دنیا
عالمان دی د تمام جهان پیشوا
زه رحمان حلقه بګوش د هر عالم یم
که اعلی دی که اوسط که ادنا
کر د ګلو کړه چی سیمه دی ګلزار شی
اغزی مه کره چی پښو کښی به دی خار شی
هغه زړه به له طوفانه په امان وی
چی کښتی غوندی د خلکو بار بردار شی
دنیا دار که مستغنی په سیم و زر دی
هنرمند سره ګنج د خپل هنر دی
د ریاء خرقه یی خدای مه کړه په غاړه
رحمان کوږ پټکی ترلی قلندر دی
ته مؤمن ژوندی په دین یی زما یاره
ته فریاد ژړا کوه په خو کوکاره
استغفار توبه کوه د ځان دپاره
ته هم ځان ساته پناه غواړه له ناره
بیداری کړه په سهار کښی زما دلداره
که امید لری له رحمه له کرمه
ستا هم بویه په هرچا باندی کرم
اوس ده ستا رضا نیکی کړی که بدی کړی
نیک و بد دی دواړه ښکوی شی په قلم
خدایه امان راکړی له دا هسی زندګی
چی ته بد وایی له بله، بل له تا
ښه خواړه چی یو یی خوری بل ورته ګوری
خواړه نه دی هغه زهر دی ګویا
هر مرغه چی د بل غوښی خوری مردار دی

ځان حلال کړه لکه زانه شاهین مشه

چې تقوی دیانت نه لری رحمانه
ددی هسی همنشین نشین مسه

ښه ده ښه ده دا دنیا
چې توښه ده د عقبا

که یې مال د دنیا ډیر وی
هیڅ پری نه کاندی پروا

عزت نشته زور ورو په حضور کښی
لویی نسته تکبر او په غرور کښی

ملنګان یې د دوهی په غاړه مومی
کوم تودوالی چې مالدار مومی په کور کښی

په دنیا کښی له دنیا ګوښه کنار شه
سمندر غوندی په اور کښی ګلغذار شه

د رحمان په عاشقی کښی سترګی وشوی
چې ځوک وایی عاشق ړوند هغه خوار شه

## احمدشاه بابا

د ننګ مړ خو څه مړ نه دی
د بی ننګه ژوند جفا ده

لاس به واخلم له ننګه
که په ننګ پاته دنیا ده

چې سر پری کړی احمد شاهه
د هغو مینه په رښتیا ده

پسرلی سو ژیر ګلونه
پری بلبل کا چیغارونه

زړه زما کا چیغارونه
د پسرلی په ژیر ګلونه

## خوشحال خان خټک

چې ګټل خوړل بخښل کا ځوان هغه
چې تور لری د توری خان هغه

و نور چاو ته وران مه وایه خوشحاله
چې په قولو عهد روان سو روان هغه

مرد هغه چې همتناک برکتناک
د عالمه سره خوړ په زیست و ژواک

چې دا هسی ښه ویل کا زه حیران یم
چې خوشحال راوړ له کومه دا ادراک

په واک چې نلری په کام کښی ژبه
که ګُنګ سی ښه دی په لویه تبه

په بده ژبه ځان ځی جهان ځی
ایمان لا هم ځی واوره طالبه!

مخ د هغو تور سه چې یی مینی نفسانی دی
یوه مینه باقی ده نوری کلی مینی فانی دی

امر کړه خوشحاله پسته اوسه له نهی
هر چې نهی کاندی هغه زر په پیښیمانی دی

خپل استاد و ماته وه ووی څو پندونه
هر یو پند یی مرغلری دی لالونه

چې په زړه په تأمین د هغو ناز وړه
تل نیازمنو سره وړی دی نازونه

که طالع او هنر دواړه سره کښیږدی
زه خوشحال به پکی ونیسم هنر

درته وښیم کیمیا د سعادت
له بدانو سره مه کوه صحبت

چی کالی یی پاته نسی مرده سوی ته
خدایه ورکړی خوشحال ته هسی رحلت

په دوستانو تلطف کړه خو په تا سی
د ښمن سره هم ښه کوه خلقت

که ژوندون دی هم هغه دی په جهان کی
چی یادیږی د سړی د خوی خصلت

تر مغلو پښتانه په توره ښه دی
که پوهه پښتانه وای څه هوښیار

سر چی وخندی خوانان — څه زمری څه یی هاتیان
ځان ساته نشی له مرګه — که هر څو ساتی خپل ځان
چی دا هسی ښایسته یی ژیره ګله — ځکه تا په ځان شیدا کړله بلبله
تر لکه زیات پیغمبران دی — څوک نبی څوک مرسلان دی
هم واړه نیک کردار دی — امتیان دی وفادار دی
د دین کار په ده تمام سو — خاتمت دده په نام سو
هغه څه دی روغ صورت دی — چی بهتر تر سلطنت دی
خپل نیت ښه لره خوشحاله — که څه ښه دی خو ښه نیت دی

عادت چی بد لری ځان یی ژړلی دی
عادت چی رد لری ځان یی ژړلی دی
عادت په پند نه ځی عادت په بند نه ځی
عادت له سره سره تړلی دی

## ګل پاچا الفت

رب العلمین دی رحمة العلمین ګنی
نه لری ثانی چی دی خاتم النبین ګنی

ژاړی په غمونو کی خواخوږی له هر چا سره
سل پتنګان سوځی د یوی شمعی ژړا سره

داسی بیغمی دی خدای (ج) په هیڅ کور کی پیدا نکړی
یو کور چی ویر وی او بل خاندی له لیلی سره

له وهم و خیاله او د عقل تصور نه بهر
چیرته چی نه رسیږی هیڅکله د علم نظر

اهل عرفان په تضرع ماعرفناک وایی
مونږ هغه حمد کله ویلی سو چی تاته ښایی

په بهار کی د خزان تصور کاندی
ژوندی ځان خپل ګنی تورو خاورو لاندی

بی حسابه څاڅکی توی په بحر و بر شی
له لکونو او کروړونو یو ګوهر سی

رنګ په رنګ ګلان پیداسی په غرو رغو کی
په کی یو نیم د لیلی پیکی ته ورسی

دی زیارت کی وینم بل راز تاثیرونه
دلته مه کوه واړه سوالونه

نه یی سیال یی نظیر سته په جهان کی
بوعلی باندی نازیږی افغان ځکه

دیره لویه هستی سوه له خاورو لاندی

بلخ د ده لـــــــــــــــه غمه وینمه وران څکه

چـــــــــی د غمجنو په حال سوځی هغه زړه غواړمه
داسی پتنګ ســـــــــره یو ځای خپل سوځیده غواړمه

لږ غوندی درد او دل ســـــــــوزی د همدردئ دپاره
که پـــــــه کوم زړه کی ځای لری تری ځاریده غواړمه

## حمید مومند

ستا د عشـــــــــــــق د وینو ډک شو ځیګرونه
ستا په لاره کــــــــــــــی بایلی زلمی سرونه

هر ناکس لــــــــکــــــــه مګس پری بنیږی
چی حمید نـــــــــــــرم ګـــــــــویی کا شکرلب

چی سړی لـــــــــــــــه سړی کړی د دنیا طمع
سړیتوب بـــــــــــــــه یی سپیتوب سی په دا طمع

له دغی طمعی طاعـــــــــــــــون ښه دی حمیده
چی کـــــــــــــــوی د نفس لپاره د چا طمع

شعر نه دی دا خـــــــــونــــــــاب د سوی زړه دی
یا وتلی دســـــــــتـــــــــــی دم له خولی د مړه دی

یا د وینو آباسیند وهــــــــلــــــــــــــی موج دی
یا له ښاره د حیرات وتــــــــلــــــــــــــی فوج دی

د هغه لــــــســــــتـــــــونـــــــــی لاس یدبیضا ده
چی پـــــــــــــــــــری وچی کاندی اوښکی د یتیم

ځو به خـــــــــــــوری پـــــــــــردی مالونه په ستم
یوه ورځ بــــــــــــــــه دی په نس کی شی اږم

که امسا یــــــــــــــــــــــی د موسی بولی وګړی
ښایی نن ساعت حمیده ســـــــــــــتــــــــــا قلم

دا آغاز مـــــــــــــــی پــــــــــه نامه د هغه خدای دی
چی یی نـــــــــــــــــرم ګره کُشای د شاه ګدای دی

د احد لــــــــــــولــــــــــــی به څوک وکه حمیده
چی یی نهایت نـــــــــــــــــــــه ایسی تر بریده

چـــــــــــــــــی منشاء د پیدایش دی محمد دی
چی مــــــــــایـــــــــــــــه د زیبایش دی محمد دی

په حمید د خــــــــــــپــــــــلی مینی سیلاب جوړ که
له سینی یـــــــــــی مـــــــــــاسوا بندونه کوړ که

تول دی مـــــــــــــســــــــــــه په زرګونه زر و سیم
چی تـــــــــــــه یـــــــــو ککوړی خوری پکی یا نیم

چی غنچه یـــــــــــــــــــی د حمید د خاطر واکړه
پری لــــــــــــــــــه کوم لور یی راوالوت دا نسیم

## حافظ

جنګ تــــــــــــــــــوری شپی د بدمرغی سوله سبا راولی
جګړه تیارو ســــــــــــــــره راځی سوله رڼا راولی

جنګ بوری میندی ژړوی په ځوانی مرګـــــــــــــو بچو
په وچو شونــــــــــــــــــدو د یتیم سوله خندا راولی

الهی ستا پـــــــــــــــــــــه حضور د عجز سر ږدم
د محشر په ورځ به څه د ستا پـــه در ږدم

چـــــــــــــــــــــی بلا د چا د سر پری دفع کیږی
زه حافظ کسی سپند پـــــــه دا مجمر ږدم

د ملی وحدت په چـــــــــــــــــاره فکر بویه
په دی پاکه ښکلی لاره فــــکـــــر بویه

چـــــــــــــی حافظ پری خوشحالیږی دی یو والی وطنواله برخــــــــــــــورداره فکر بویه
لوی نعمت دی پــــــــــــــه دنیا کی د روغتیا شی خبری شا و خــــــــوا کی د روغتیا
ښوونځی پــــــاکـــــــه جامه پاکه کور یی پاک وی
چـــــــــــی پیداسی خـــــــــوی په چاکی د روغتیا
خوږ وطنه! مونږه ستا پـــــــــــــــه لمن شنه یو
که تـــــــــــه نــــــــه یی مونږ به یو هم چیری نه یو
ګرانه وطنه! زړه دی نـــــــــــــــــه کړی ښته پورته
ستا له پاره دانګو مونږه لـــــــــــــــــــــوی داور ته
بیرغ د ســــــــــــــــولـــــــی مو پــــــــه لاس کی د بشر دی سولـــــه غواړو
جګړه دی ورکـــــــــــــــــــــــــــــه سی جګړه کی ډیر خطر دی سولـــــه غواړو
زما د آبادی لپاره پـــــــــــــــــــــــورته شئ اوچت شئ
مـــلا وتړئ زلمو
لاسونه ســـــــــــــــــــــــــــره ورکړئ ټوله په مینه یو قوت شئ
ملا وتـــړئ زلمو

## ګل کوهی

چـــــــــــــــــــــــــــا چی خپل قدر پخپله وکړ ګله!
ستاره د هغه قـــــــــــــــــــــــــــوم په عروج سوله
هر یو کار کـــــــــــــــــــــــه ته همت وکړی اسان دی
کار له دی کـــــــــــــــــــاره ګران نشته چی کار نه وی

## حیدری

څو د اسلام لپاره نسی ســــــــــــــــــــــــر په دار مسلمه
پیدا به نکړی تــــــــــــــرقـــــــــــــی د خپل دیار مسلمه
څو چی اوصاف حـــــــــــــــیدری په ځان کی نکړی پیدا
کله به سر کړی د دښمن په ســـــــــــــــــر د دار مسلمه

## بهائی جان

محمد لـــــــــــــــــــــه دنیا درومی جهان ژاړی ځمکه ژاړی غــــــــــــرونه ژاړی، آسمان ژاړی
ولی نـــــــــــــــــــــــــــــکوی ژړا بهائی جانه! مدینی تـــــــــــــــــــر خاورو لاندی یاران ژاړی
سنګریزی د حـــــــــــــــــــــرم وایی محمد رسول الله دی
په کعبه کښی صنعم وایـــــــــــــــــــــــی محمد رسول الله دی
ستا اولاد بهائی جـــــــــــــــان دی غزل وایی بلبل خوان دی
سپیرو سترګو پر نـــــــــــــــــــــم وائی محمد رسول الله دی

## عبدالقادر ختک

که سپین او ســــــــــــــــــــــــــره یی په کور کښی تل وی
چی نه یـــــــــــــــــــــــــــــــــــــــی علم نه یی عمل وی
بنیاد یـــــــــــــــــــــــــــــــــــــی نسته آخر به خوار سی
بخت به تـــــــــــــــــــــــــــــــــــــــــر کومه ورسره مل وی
زار شم، قـــــــــــــــــــــــــــــــربان شم د پلار تر پنده راته یـــــــــــــــــــــــــــــــــی ووی زما فرزنده!
لذت دور کـــــــــــــــــــــــــــــــــــړی تر ساتل ډیر دی خو بی خبر یـــــــــــــــــــــــــی ممسک له خونده
نندارو لره راځـــــــــــــــــــــــــــــــی چی پسی ځونه
په اختر بـــــــــــــــــــــــــــــــــــــه خلمی جونه کا سیلونه
تیر شو وار عبدالقادره رابــــــــــــــــــــــــــــــــــه نه سی
که ژړا کړی کـــــــــــــــــــــــــــــــــــه فریاد کړی که اهونه

## کاظم خان شیدا

ورکه دنیا ســـــــــــــــــــــــــه بده یې طمع
واوره له مـــــــــــانـــــــــــــــه که لرې سمع
بیم یې د ســـــــــــــــــــــــر سی په شان د شمع
چې سیم و زر کا پـــــــــــــــــــه کور کښې جمع
ای د کـــــــــــــــــــــــل جهان صنیعه!
ای د هـــــــــــــــــــــــر آسمان بدیعه!
ستا کـــــــــــــــــــرم پاکه سبحانه
مګس نـــــــــــــــــــــه شړې له خوانه
چې ممسکان کـــــــــــــــــــا سیم و زر جمعه
په صرف یـــــــــــــــــــــی ژاړی مانند شمعه
په بزم ورزم باندې چـــــــــــــــــــــی راسی
د توتی ژبـــــــــــــــــــه زړه د پلنګ لرې

## پیرمحمد کاکړ

طامع همیش وی پـــــــــــــــــــــــه انتظار کښې
آب یې د مـــــــــــــــــــــــــــخ ځی په هر دیار کښې
ګنج چې د صبر پـــــــــــــــیــــــــــرمحمد یا موند
توانګر بـــــــــــــــــــالــــــــــه سی په دا دیار کښې

## کاموال

سره یـــــــــــــــــــــو شئ! په وینا او په عمل کې
اسلامی وحدت پـــــــــــــــــکار دی خپل عمل کې
سره یـــــــــــــــــــــــو شئ کاموال په ژړا سر دی
اور دســـــــــــــــــــــــــــرې یې بل سوی په ګوګل کې

## میاخیل

چې تر څــــــــــــــــــــو د زړه له کومې وحدت نه وی
په دی پوهـ سئ چـــــــــــــــی هیڅ وخت به راحت نه وی
لرې ګـــــــــــــــــــــــــــرځه داسې خلکو نه میاخیله!
د اسلام ســـــــــــــــــــــــــــره چې مینه او الفت نه وی

## ملنګیار

د خدای په دیــــــــــــــن باندې غیرت تل د عزت نښه ده
مرګ د نبی پـــــــــــــــــــــــــه شریعت د شهادت نښه ده
د ملنګیار قلم د حـــــــــــــــــــــــــــــق پاکه صفه کې ګرځی
حق پټول انسان تـــــــــــــــــــــه هر وخت د ذلت نښه ده

## میرزا خان انصاری

نن بـــــــــــــــــــــــــــــــــه وکړم څو صفته
د مـــــــــــــــــــــــــولا له ارادتـــــــــــــــــــــــه
د میرزا کـــــــــــــــــــــــــــــــلام شیرین سو
د روښـــــــــــــــــــــــــــــــان له برکته

## مظلوم یار

زما پر کور د غم نـــــــــــــــــــــاری دی زه به چیری لاړ سم
د تور تم توری تــــــــــــوری شپې دی زه به چیری لاړ سم
بیا دی جهان کړ راتـــــــــــــــــــــــه اور د مظلوم یار قلمه!
دا څه د ویر ســـــــــــــــوی نغمی دی زه به چیری لاړ سم

## نیکمل

د محمد رســــــــــــــــــــــــول الله په دین غیرت دی پکار
په مسلمان د اســـــــــــــــــــــــــلامی قانون عزت دی پکار
چې په میرانه د دښمن مقابله کـــــــــــــــــــــــــوی تل
له داسې ځوان ســـــــــــــــــــــره نیکمله محبت دی پکار

## یونس

هر څـــــــه سوی په ازل کی نور به نسی
چی یی برخه د پیاده ده ســـــــور به نسی
بی دردان به پــــــــــه درد کله کړی یونسه!
مړی ایری که هر څو پو کړی اوربـــــــه نسی

## سید حسن

په نغمه لکه بلبل غـــــــــــریدل زده کړه!
پټه خوله وینا د گــــــــــــل له بلبل زړه کړه!
راحت پریږده زحمت واخــــــــلــــــه سیدحسنه!
د وطن په درد و غــــــــــــم ژړیدل زده کړه!

## شمس الدین مجروح

په مذهب نــــــــــــــه د بلبل نه د پتنگ یم
نه غونټی غوندی د زړه پــــــــــه وینو رنگ یم
تیټ می مـــــــــــه بوله غورځنگ راباندی مه کړه
زه په دی افتاده گی کـــــــــــــی لوی گړنگ یم
چی دی خاوره د ســــــــــــر تاج د ایشیا ده
د جنت په شــــــــــــــان دی ځمکه نورانی
که په چــــــــا کــــــــی پښتنواله په رښتیا ده
په میرانه ســــــــــاتــــــــی خپله ودانی
د غلطی لاری مــــــــــــــل باندی نو څه
چی لار ورکه ســــــــــــــی مزل باندی نو څه
چی آواز یی پــــــــــــــه قام باندی اثر نه کا
د مجروح خواږه غـــــــــــــزل باندی نو څه

## دارالمجالس

عبدالله د ښبنتن دوست وایـــــــــــی یو کال
شو روان پــــــــــــه نیت د حج صاحب د حال
مرتبه د سخاوت د یــــــــــــــــــو درهم
دی سل کاله عبادت ورځنی کــــــــــــــــم

## تفسیرالضحی

هسی وایی د صدیق (رض) پـــــــــه خلافت کی
یو سړ ؤ دوب تمام پــــــــــــــه معصیت کی
باری خدای مـــــــــــــی رامعاف کړه گناهونه
رایـــــــــــــــــی وبخښله واړه نعمتونه

## عبدالشکور رشاد

چی پر کوټ د کالنجر خـــــــــپـــــــلـــــــه سپاه
خیږوله پښتانه غـــــــــــــــازی شیرشاه
چی غالب له دنیا ځـــــــــــمـــــــــه مسعود یم
نور ارمان مـــــــــــــی پر دنیا نسته خوشنود یم
چی لښکرو د جســــــــــــــرت راوړی ناتار
پښتانه ځلمی یــــــــــــــی کړله تار په تار
د زړو نامــــــــــــــردو زویو داغ جسرته!
په حسرت د پیغور نـــــــــــــه اوری د پلار
د مجنون ژوندون بـــــــــــــه څه وی چی لیلا مری

خه په کار دی تش کالبد چـــــــــــی زړه د چا مری
حريت د هـــــــــــــــــــــر ملت د بدن زړه د ی
که دانه ؤ هم ملت مــــــــــــــــــــــری هم بقا مری

## ښکارندوی غوری

د پسرلی ښکلونکی بیا کـــــــــــــــــړه سینگارونه
بیا یی ولونل پـــــــــــــــــــــــــه غرونو کی لالونه
په غورځنگ غورځنگ لــــــــــــه خولی ځگونه باسی
لکه ښن هاتــــــــــــــــــــــــــــــــی ښنا کاندی سیندونه

## افضل الطرایق

شیخ متی چــــــــــــــــــــــــــــــــــــــــی خلیلی ؤ
دی لـــــــــــــــــه آره لـــــــــــــــــــوی ولی ؤ
تر هـــــــــــــــــــــر خـــــــــــــــــــه بهتر دی وروره
زده کـــــــــــــــــــــــــړه داخبره گـــــــــــــــــــوره

## خلیل خان نیازی

خړی وریځی ژاړی لـــــــــــــــــــــــــــــــه پاسه
کویله ږغ کا بیلتون لــــــــــــــــــــــــــــــــه لاسه
که هغه لونـــــــــــــــــــــــــــــــی گوهر په خول ستا
دامرحبا کا ستا، زمونږ مـــــــــــــــــــــــــــــــــــواسه

## سلطان بهلول لودی

ملک بــــــــــــــــــــــــه زرغــون کړم په ورکړه راسه
گوره وریځی د داد لـــــــــــــــــــــــــــــــــه پاسه
خول مـــــــــــــــــــــــــــــی د عـدل په دورو روڼ دی
جهان به زیب مومـــــــــــــــــــــــــــــــــی زما له لاسه

## خزینة الفقراء

حکایت واوره لـــــــــــــــــــــــه مانـــــــــــــــــــــه
یو غل راغی پـــــــــــــــــــــــــــــــــــــــه شپه جانه
عاقـــــــــــــــــــلان خپل غــــــــــــــــــم ږومبی کا
جاهلان آخـــــــــــــــــــــــر هـــــــــی هـــــــی کا

## عبدالحی حبیبی

تـــــــــــــــــل بهیږئ نـــــــــــــــــــــــه وچیږی
ای ژونـــــــــــــــــــــــــدی بهانـــــــــــــــــــــــده روده
ته د ژوند مســــــــــــــــتـــــــــه چـــــــــیـــــنـــه وی
ولی نه گوری چـــــــــــــــــی خـــــــــــــه وی

## احمدشاهی شهنامه

چی روان ســــــــــــــــــو شهریار | و ایران ته پــــــــــــــــــــــه دا لار
نشاپور تــــــــــــــــــــــــه سو روان | شاهـــــــــــــــــــــــی بخش شاه شاهان

## همیش خلیل

موتی خاوره د وطن بـــــــــــــــــــــــه پری ورنکړم
که په سر د ځمکی هـــــــــــــــــــــــــــــر وطن ختن سی
که غلیم له ما بـــــــــــــــــــــــــــــــــری یووړ محبوبی!
ستا پړونی دی زمـــــــــــــــــــــــــــــــــــــا د تن کفن سی

## لایق

لویه لــــــــــــــــــــــــــوړه هندوکشه! | د زمـــــــــــــری او بـــــــــــــــاز وطنه!

د هیرمند او آمـــو پلاره　　　د طوفان او سـیـل مینه
ویاړه ویاړه چـــې راغلی په افغان نوی شباب دی
په هر فکر و هـــر نظر کې د ژوندون نوی باب دی

## شیخ تیمن

ګهیځ رڼا د لـمـر خپره سوه
زما په کـور د ویر ناره سوه
اور بل دی پرېښودی واتـه کړی
زما د بل اور کـړوون راغـئ

## د واصل روښانی د منتخباتو نمونه

هر چې دا اشنا یـی وی پر بل مین سی
کل ښادی به یـی بدله په شیون سی
ای واصله پـه غفلت د زړه غبار دی
د یو یار صیقل در واخله چـی روشن شی

## جانان فدوی

د هر تخم اصل پاک راځـی له پاسه
په باطل یـی آلوده کا ناسپاسه
که ګوهر پـه لاس کی ورکړی بی قیمته
په کسیره به یـی بدل کا ناشناسه

## امیرحمزه شینواری

چی یی ته چاتـه تیټ نسی ننګیالی زما ژوندون کړه
زړه زما دی مسلمان وی تفکر مـی د پښتون کړه
زه دی وچ هډوکی شپیلم خـو ملت می دی سلطان وی
دا زما د صحن سیوری پـه معنا کی همایون کړه

## اشرف خان هجری

عزت ګرځی هم هغه پـه جهان غواړی
چی نیولی یـی دامن د لوی همت دی

## د میاروښان خیر البیان

وړاندی وخـوری اتام　　　ښه په پاکه جامه دی واغوندی چـی لری په تن

## فیاض

روایت دی لـه ثقه ؤ راویانو
په داشان خبری کـړی ای سامعانو
لونګین دی پـه سینه باندی زنګیری
فقیر ځکه لکه مـار هسی تاویری

## سکندر خان ختک

ای زما د کـور رڼا د سترګو توره
خدای دی نه کاندی پـه تا باندی مور بوره
ای زما زویـه د نیکو خوی پیداکړه
له دنیا نه مینه دیـره په عقبا کره
څو چه مـی لری په زړه کښی مینا خاندی
میخوران ځکه پـه څښل د صهبا خاندی
کباب د سکندر زړه دی د اشنا پـه بیلتانه کښی
چی بوی د وریتو غوښو هـو دده له ګفتګو ځی

## میرمن نازو

سحــــــــــــــــرګاه وه د نرګس لیمه لانده　　　　ځاځکی ځاځکی یــــــــــــــی له سرتکو څڅیده
ما ویل څـــــــــــــه دی ښکلیه ګله ولی ژاړی　　　　ده ویل ژوند می دی یــــــــــــوه خوله خندیده

## میرمن زینبه

ږغ سو چــــــــــــــــــــــی وروړ تیر له دنیا سو نا
قندهار واړه پـــــــــــــــــــــــــــه ژړا سو نا
د خالق رحم تـــــــــــــــــــــــــــل پر تا سونا
قندهار واړه پـــــــــــــــــــــــــــه ژړا سو نا

## سپینه

غلیم پـــــــــــــــــــــــــــــــر شهر بیا هجوم راوړی
مخ ته ولاړ دی یـــــــــــــــــــــــــــار محمد پیاوړی
دښمن سومات راغـــــــــــــــــــــی دوران د کامران
د یارمحمد د بـــــــــــــــــــــــــری ستوری ځلان

## بی بی نیکبخته

د خدای حق تـــــــــــــــــــــــــــه غاړه کښیږده
نوری نوری وینا پـــــــــــــــــــــــــری ږده
دنیا ترک وهـــــــــــــــــــــــــــــــه که پوه یی
د بقا پـــــــــــــــــــــــــــــــــــر لوری پښی ږده

## زرغونه

اوریدلی مـــــــــــــــــــــــــــی قیصه ده　　　　چی له شاتو هـــــــــــــــــــــــم خوږه ده
تواضع بـــــــــــــــــــــــــــه دی سور لوړکا　　　　تکبر بـــــــــــــــــــــــــــه دی تل ځوړ کا

بسم الله الرحمن الرحیم

# پـــښـــویـــه

## لومړنی موضوعات

**پښویه:** هغه اصول او قواعد چې د ژبې داخلي جوړښت تشریح کوي پښویه بلل کیږي چې په عربي شکل یې نحوه، دری دستوري زبان، انګلیسي ګرامر او لاتیني ګراماتیک دی.

**پښتو توری:** د پښتو د الفباء توری دیرش (۳۰) دی چې عبارت دی له:

ا – ب – پ – ت – ټ – ج – چ – ځ – څ – خ – د – ډ – ر – ړ – ز – ژ – ږ – س – ش – ښ – غ – ک – ګ – ل – م – ن – ڼ – و – ه – ی

- د عربي ژبې لس ځانګړی توری هم په پښتو دخیلو کلیمو کښې استعمالیږي او عبارت دی له:

ث – ح – ذ – ص – ض – ط – ظ – ع – ف – ق

- د پښتو سوچه او خاص توری اته دی چې عبارت دی له:

ټ – ډ – ړ – ځ – څ – ڼ – ږ - ښ

- د دری توری پکښې څلور دی چې عبارت دی له: [چ – پ – ګ – ژ] څخه
- د پښتو ۲۶ توری چپ (بی غږه) او څلور توری یې کومکی (غږیز) دی
- د پښتو چپ (بی غږه) یا اصلي توری عبارت دی له: [ب – پ – ت – ټ – ج – چ - ځ – څ – خ – د – ډ – ر – ړ – ز – ژ – ږ – س – ش – ښ – غ – ک – ګ – ل – م – ن – ڼ] څخه
- په پښتو کی کومکی غږونه پر دوه ډوله دی چې یوی یې توری او بل یې حرکتونه دی
- د پښتو ژبې کومکی حرکتونه په لاندې ډول دي:
  - زور: یو توری په خوځښت او حرکت راولي او اواز په پورته لوری بیایی
  - زیر: د هغه په وسیله یو توری خوځنده ویل کیږی او غږ کښته خواته بیایی
  - پیښ: یو توری ځرګند او د (واو) خواته مایل کیږی یا په بل عبارت د سپک (واو) آواز ورکوی
  - زورکی: د کلیمی په پیل او مینځ کی د یو مایل خط په شکل لیکل کیږی
  - خج: د آواز د فشار څخه عبارت دی لکه: غوټه، کونده
- د پښتو ژبې کومکي توري په لاندې ډول دي:
  - الف: د کلیمی په منځ او آخر کی راځی لکه: کاکا، ماما، اکا او داسی نور
    - په پښتو کی الف پر څلور ډوله دی
  - واو: په پښتو کی واو څلور ډوله دی:
    - نرم واو: چې پوست او نرم ویل کیږی او دمخه توری زور لری لکه: لو، پلو، کنډو
    - ځرګند واو: چې دمخه توری یې ځرګند دروند پیښ ولری لکه: کچالو، تالو، چاقو
    - اوږد واو: چې اوږد او نرم ویل کیږی او دمخه توری یې اوږد پیښ لری لکه: کور، مور
    - کوچنی واو: چې دمخه توری یې سپک لنډ پیښ ولری لکه: لومړی، تاسو، پوښتنه
  - ه: په پښتو کی ه پر دوه ډوله ده:
    - ځرګنده او لویه (ه): هغه ده چې دمخه توری یې زور ولری لکه: پانه، لښته، ځانګه
    - پټه او کوچنی (ه): چې دمخه توری یې زورکی ولری لکه: زړه، پسه، نیکه
  - ی: په پښتو کی ی پر پنځه ډوله ده:
    - نرمه (ی): دمخه توری یې زور لری او تل د نارینه نومونو په پای کی راځی لکه: اوړی، منی، ژمی
    - ځرګنده (ي): چې درنده ادا سی، دمخه توری یې ځرګند او دروند زیر لری لکه: ښادي،

دښمني، دوستي

- اوږده (ی): چې اوږده ویل کیږی دمخه توری یی اوږد زیر لری لکه: مني، يخي، کوښي
- زورکی والا (ئ): چې دمخه توری یی زورکی لری او یوازی د کلیمی په پای کښی راځی لکه: خولی، ماڼی، کرکی
- امریه (ئ): دا (ئ) ډیره د امر پر مهال کارول کیږی نوره کټ مټ زورکی والا په څیر ده لکه: ولیکئ، وخورئ، وزغلئ

# د کلام اجزاوی

هغه لفظ چې د یوی معنی دپاره د خولی څخه راوځی کلیمه نومیږی او کلیمه پر دوه ډوله ده چې عبارت دی له: تقریری او تحریری څخه. د کلام توکی په لاندی دول دی:

## نـــــوم

هغه کلیمه ده چې د زمانی له ښودلو څخه پرته مستقله معنی لری او د یوشی، شخص یا یو کیفیت د نوملو دپاره استعمالیږی لکه: سړی، لرگی، ویره، لمر، چرگ او داسی نور. نوم پر پنځه ډوله دی چې عبارت دی له:

- **خاص نوم:** هغه نوم دی چې په خاص شی، ځای او یا سړی باندی دلالت کوی لکه: کابل، میرویس، نیکه، خوشحال، خټک او داسی نور
- **د جنس نوم:** هغه نوم دی چې په لړو او ډیرو باندی یو شان دلالت کوی لکه: اوبه، غنم، تیل او نور.
- **د جمیعت نوم:** هغه نوم دی چې په لفظ کی مفرد وی او په معنی کی د یوی ډلی او جمیعت لپاره راځی لکه: لښکر، جرگه او داسی نور.
- **مجرد نوم:** هغه دی چې مادی وجود نه لری او په سترگو نه لیدل کیږی او شته والی یی په غیر پوری اړه لری لکه: عقل، پوهه، ویر او داسی نور
- **عام نوم:** هغه نوم دی چې په عام شی، ځای او یا سړی دلالت وکړی لکه: لرگی، پانه، هینداره او داسی نور.

**مذکر او مؤنث نومونه:** په پښتو کی ټول نومونه د جنسیت له مخی پر دوه ډوله دی چې عبارت دی له : مذکر او مؤنث څخه چې دغه دواړه ډولونه یی لاندی ځینی نښی لری :

- هغه نومونه چې په پای کی یی لاندی علامی راسی مذکر بلل کیږی
  - نرمه (ی) لکه : لرگی، منگی، سړی، وږی، تږی، ...
  - څرگند واو لکه : تالو، چاکو، بانو، ...
  - کوچنی (ه) لکه : تره، وراره، زړه، نیکه، ...
  - نرم واو لکه : پلو، لو، کندو، ...
  - هغه ټول نومونه چې په پای کی یی اصلی توری راغلی وی او سماعی مؤنث نه وی مذکر گڼل کیږی، لکه : میز، لاس، اور، غل، مل، ...
    - هغه ساکنه (ی) چې دمخه یی ساکن (و) او یا الف وی د اصلی توری حکم لری لکه : زوی، سوی، لوی، ځای، چای، ...
- د مؤنث په اړه لاندی موضوعات سته
  - هغه نومونه چې په پای کی یی لاندی علامی راسی مؤنث بلل کیږی
    - څرگنده (ه) لکه : اسپه، لښته، پنه، توره، ...

- زورکی والا (ۍ) لکه : خولۍ، ډوډۍ، ښځۍ، څوکۍ، ...
- الف لکه : ژړا، خندا، نڅا، ملا، شا، ښوروا، ...
- اوږد (و) لکه : ښارو، زانګو، لامبو، ...
- څرګنده (ی) لکه : بیاتی، دوستی او ښادی. مګر په نسبتی صفتونو کی څرګنده (ی) د مذکر لپاره راځی لکه : دوبی، موچی، ډولی، ربابی، ...
- اوږده (ی) لکه : ادی، ناوی، ملګری، تری، ...

o د مؤنث نوم ډولونه: مؤنث نومونه لاندی ډولونه لری

- حقیقی لفظی مؤنث (ساکښ نښه والا) : هغه نومونه دی چی ساکښ او د تانیث نښه هم پکی وی لکه : غوا، چرګه، اسپه، ...
- حقیقی غیرلفظی مؤنث (ساکښ بی نښی) : چی د یوه ساکښ نوم او د تانیث نښه نلری، لکه : مور، خور، ترور، دی ډول مؤنث ته معنوی مؤنث هم وایی
- غیرحقیقی لفظی مؤنث (بی ساه نښه والا) : هغه مؤنث ته وایی چی د بی ساه شی نوم او د تانیث علامه هم په کی وی لکه : لښته، پاڼه، غرمه، څوکۍ، رڼا، ځانګو، ...
- غیر حقیقی غیرلفظی مؤنث (بی ساه بی نښی) : هغه ته وایی چی د بی ساه شی نوم وی او د تانیث نښه تری لویدلی وی، لکه : لمن، ستن، برستن او میچن. دی ډول مؤنث ته سماعی مؤنث هم وایی.

**مفرد او جمع نومونه :** نوم د شمیر له مخی پر دوه ډوله دی : مفرد او جمع

- **مفرد :** هغه نوم ته ویل کیږی چی پر یوه شی یا یو کس لاندی دلالت کوی لکه : هلک، ونه، لرګی، ...
- **جمع :** هغه نوم ته ویل کیږی چی له یوه نه پر زیاتو شیانو او یا کسانو دلالت کوی لکه : هلکان، ونی، ...

**د یو مفرد نوم د جمع کولو طریقه :** د یو مفرد نوم د جمع کولو دپاره ضروری ده چی پوهـ سو چی هغه مذکر دی او که مؤنث، چی په دی ترتیب سره د مذکر او مؤنث نومونو د جمع کولو طریقی په لاندی ډول دی

- د مذکر نومونو د جمع کولو طریقی په لاندی ډول دی

o د هر مفرد نوم او صفت چی په پای کی یی نرمه (ی) راغلی وی په جمع کی دغه (ی) په څرګنده (ي) بدلیږی. لکه ستوری – ستوري، نوی – نوي، لوښی – لوښي، اغزی – اغزي او داسی نور.

- په دی ډول نومونو او صفتونو کی د ساکښ په پای کی د (ان) په راوړولو سره هم جمع کیږی، لکه : میړیان، غوایان، کابلیان، کندهاریان او داسی نور

o ساکښ صفات چی په آخر کی یی څرګنده (ي) یا څرګند واو راغلی وی د (ان) په راوړلو جمع کیږی، لکه : موچي – موچیان، دوبي – دوبیان

o هر صفت چی په منځ کی یی (واو) یا (ی) راغلی وی او دغه واو یا ی په مؤ نث کی غورځیدلی وی نو په جمع کی هغه په الف بدلیږی او پای کی یی کوچنی (ه) زیاتیږی لکه : پښتانه، ړانده،

رانیه، ترخه، تروه او داسی نور.

- ځینی دوه توریز یو څپه ییز نومونه او صفتونه د کوچنۍ (ه) په زیاتولو جمع کیږی، لکه : غله، مله، مږه، سره، شنه، اومه، اوږده او داسی نور.
- هغه نومونه او صفتونه چی په آخر کی یی اصلی حرف راغلی وی که ساکښ وی عموماً د (ان) په زیاتولو او که بی ساه وی د (ونه) په زیاتولو جمع کیږی، لکه : چرګان، اوښان، کورونه، کالونه، ...

- د مؤنث نومونو د جمع کولو طریقی په لاندی ډول دی
  - هر مفرد مؤنث نوم چی په آخر کی یی (و) او یا (ا) وی د ګانی په زیاتولو جمع کیږی لکه : زانګو – زانګوګانی، پیشو – پیشو ګانی او داسی نور
    - ځینی پښتانه د الف نومونه د وی په راوړلو جمع کوی لکه : ژړاوی، رڼاوی او داسی نور
  - هر مفرد مؤنث نوم چی په پای کی یی څرګنده (ي) یا زوره کی والا (ۍ) راغلی وی، نو ساکښ یی په (ګانی) او بی ساه یی په زوره کی والا (ۍ) سره کیږی، لکه : مامي – مامي ګانی، انی – انی ګانی، دوستي – دوستۍ، وداني – ودانۍ او داسی نور
  - کوم نومونه چی په پای کی یی اوږده (ې) راغلی وی په (انې) جمع کیږی، لکه : ناوې – ناویانې یا ناوې ګانی او داسی نور
    - تول سماعی مؤنثات په اصل کی (ه) لری نو ځکه یی جمع په آخر کی د اوږدی (ې) په راوړلو راځی لکه: غیږ – غیږې، لار – لارې، لمن – لمنې او داسی نور
  - د نسبتی صفاتو او شریکو صفاتو ښځینه جمع له نرینه جمع څخه د اوږدی (ې) په زیاتولو جوړیږی لکه : کابلیان – کابلیانې، کولالان – کولالانې، خواران – خوارانې او داسی نور
  - د معنوی مؤنثو جمع تر یوی قاعدی لاندی نه راځی او په وروسته ډول راځی : مور – میندې، خور – خویندې، ترور – تریندې، نجلی – نجونې او داسی نور

**د نوم حالتونه:** د نوم حالتونه پر دوه ډوله دی، اول معنوی او دوهم لفظی

**د نوم معنوی حالتونه:** د نوم مشهور معنوی حالتونه څلور دی چی په لاندی ډول دی

<u>فاعلی حالت:</u> کوم نوم چی په جمله کی فاعل وی، هغه حالت ته فاعلی حالت وایی، لکه زلمی خط لیکی، چی دلته زلمی فاعلی حالت لری

<u>مفعولی حالت:</u> کوم نوم چی په جمله کی مفعول وی، هغه حالت ته مفعولی حالت وایی، لکه : بریالی ډوډی خوری، چی دلته ډوډی مفعولی حالت لری

<u>ندایی حالت:</u> که کوم نوم ته ږغ او نداء وسی نو هغه نوم په ندایی حالت کی دی، لکه: له ای هلکه، چی دلته هلک ندایی حالت لری.

<u>ارتباطی حالت:</u> که یو نوم د ارتباط له حروفو سره راوړل سی، هغه نوم ارتباطی حالت لری، لکه له کوره راغلم، چی دلته کور ارتباطی حالت لری

- په پښتو کې د ارتباط توري [په، پر، د، تر، بې، نا، له، ته، لره، نه، څخه، ځينې، سره] دي
- که دوه نومونه د [د] په واسطه ارتباط پيداکړي نو هغه وخت ورته اضافي ارتباط وايي، په اضافي ارتباط کې لومړي مضاف اليه او وروسته مضاف راځي، لکه: د زلمي قلم د اختر ورځ او که مضاف اليه اضافي ضمير وي نو بيا مضاف دمخه راځي لکه: قلم مې راکه. کتاب دې څه سو؟
  - په پورته مثالو کې زلمي او اختر مضاف اليه، قلم او ورځ مضاف دي

**د نوم لفظي حالتونه:** په پښتو کې نومونه د پای د بدلون په لحاظ په څو ډوله دي چې په لاندې ډول بنودل کيږي

- هغه نوم چې په نرمه (ی) ختم سوی وي، په ندايي حالت کې مفتوح راځي او فتحه يې په (ه) ليکل کيږي او په فالي حالت او ارتباطي حالت کې د جمع په شکل اوړي يعنې نرمه (ی) په څرګنده (ی) بدليږي او په نورو حالاتو کې په اصلي شکل راځي
  - ندايي حالت: ای زلميه!
  - فاعلي حالت: زلمي خط وليکه.
  - ارتباطي حالت: زلمي ته خدای تعالی ښه پوهه ورکړې ده.
  - اصلي حالت: توريالی سبق وايي، زلمی څه وايي؟، توريالی يې بوت
- هغه صفت چې منځ کې يې (و) وي په ندايي حالت کې مفتوح او په فاعلي او ارتباطي حالت کې د جمع په صورت راځي، لکه: ای پښتونه! واړه هلک وخندل، بې ننګي د پښتنانه مرګ دی.
- کوم نومونه چې په صحيح حرف ختم سوي وي، جمع يې په (ان – ون) کيږي، په ندايي حالت کې مفتوح يعنې د صحيح توري د زور په ځای (ه) ورسره نښلول کيږي او په نورو حالاتو کې په اصلي صورت راځي، لکه: ای ځوانه!، ای هلکه!، ای اباده!
- سماعي مؤنث او په (ه) او څرګنده (ي) مختوم مؤنث په ندايي، فاعلي او ارتباطي درې واړو حالتونو کې په جمع بدليږي، لکه: ای ميرمنې!، دښمنې ډير کورونه وران کړل.
- هغه معنوي مؤنث چې په صحيح حرف ختم وي په ندايي حالت کې يې په آخر کې اوږده (ې) زياتيږي د [له، بې، تر] سره مفتوح او په نورو حالاتو کې په خپل شکل راځي لکه: ای مورې! ای خورې!
- د جمع او جنس نومونه چې په څرګنده (ي)، اوږده (ې) يا په (ه) مختوم وي په ندايي، فاعلي، ارتباطي حالاتو کې يې د آخر (ی) او (ه) په اوږد (و) بدليږي، لکه: ای سړيو!، ميلمنو ډوډۍ وخوره.
- جمع مذکر او جنس نوم چې په صحيح حرف ختم وي، په ندايي، فاعلي او ارتباطي حالتونو کې يې آخر ته کوچنی واو زياتيږي، لکه: ای هلکانو! هلکانو سبق ووايه.

**يادښت:** ټول صفات چې جمع نه لري که چيرې موصوف يې جمع وي نو په دريو واړو حالتونو کې يې په آخر کې (واو) زياتيږي، لکه: ای غمجنو!، لړو کسانو کار وکړ.

**يادښت:** په پښتو کې مصدر د جمع مذکر حکم لري او په دغو درې واړو حالتونو کې يې په آخر کې واو زياتيږي لکه: ډيرو ليکلو ستړی کړم، دا د خوړلو ښښلو وخت نه دی

**نه بدليدونکي نومونه:** په پښتو کې ځينې نه بدليدونکي نومونه هم سته چې هغه په ټولو حالاتو کې په يو ډول

استعمالیږی او په پای کی یی کوم بدلون نه راځی، دغه ډول نومونه په بیلابیلو حالاتو کی لاندی بڼودل کیږی

- هغه نومونه چی په پای کی یی (الف) راغلی وی، لکه: ای کاکا!، دادا می راته یوښه قلم راوړ.
- هغه نارینه نوم چی په کوچنی (ه) ختم وی، لکه: ای نیکه!، ځلمی ته خپل تره قلم وباخښه.
- هغه نوم چی په پای کی یی ځرګند او اوږد واو وی لکه: پیشو غوښه وتښتوله.
- هغه نوم چی په زورکی والا (ی) ختم وی لکه: ږلی، ځوکی، نږی او داسی نور.
- هغه نوم چی په اوږده (ې) ختم وی لکه: ادی شیدی راوړی، له خواښې سره یی وخوړې.
- هغه نارینه نوم چی په ځرګنده (ی) ختم وی لکه: موچی بوټونه وګنډل، دوبی زما دریشی سبا ته راوړی.
- هغه مذکر نوم چی په ځرګنده (ه) ختم وی لکه: ګرانه میلمه! ډوډی وخوره، کوربه میلمه ته په درنه سترګه ګوری

## ضمیرونه

**ضمیر:** ضمیر هغه کلیمه ده چی د نوم پر ځای د تکرار د لری کولو لپاره راځی

- ضمیرونه په پښتو کی پر څو ډوله ده چی مهم یی په لاندی ډول دی
- **شخصی ضمیرونه:** هغه دی چی پر یو معین شخص یعنی پر متکلم، مخاطب او غائب باندی دلالت کوی.

شخصی ضمیرونه د استعمال له مخی پر دوه ډوله دی: متصل او منفصل.

- **متصل ضمیرونه:** هغه دی چی یوازی نه راځی او تل د فعل سره پیوست استعمالیږی، متصل ضمرونه دادی:
  - م: د مفرد متکلم لپاره لکه په ځم کی
  - و: د جمع متکلم لپاره لکه په ځو کی
  - ی: د مفرد مخاطب لپاره لکه په ځي کی
  - ی: د مفرد مذکر غائب لپاره لکه ځلمی تللی دی
  - ل: د جمع مذکر غائب لپاره لکه هلکان راغلل
  - هـ: د مفردی مونثی غائبی لپاره لکه ملالی له خوبه پاڅیده.
  - ی: د جمعی مونثی غائبی لپاره لکه ځینی نجونی یو هنځی ته ولاړی
  - ځرګنده (ی): په حال او مستقبل کی د مفرد، جمع او مذکر او مونث لپاره راځی لکه: زلمی سهار وختی له خوبه پاڅی – ملالی چای ځښی، هلکان سبق وایی.
- دغه ضمیرونه همیشه د افعالو سره پیوست راځی نو ځکه فعلی ضمیرونه هم ورته وایی.
- متصل ضمیرونه دوه حالته لری. په لازمی فعلونو کښی د فاعل په حیث او په متعدی فعلونو کښی د مفعول په حیث راځی مګر په استعمال کی منفصل ضمیرونه هم ورسره راتلای سی.
- متصل ضمیرونه یوازی په ماضی فعلونو کی مفعولی حالت لری او په حال او استقبال کښی تل د فاعل په حیث راځی
- د ضمیر فاعلی حالت:

| | مفرد | جمع |
|---|---|---|
| متکلم: | زه ګرځم | مونږ ګرځو |
| مخاطب: | ته ګرځی | تاسی ګرځئ |
| مذکر غائب | دی ګرځي | دوی ګرځي |
| مونث غائب: | دا ګرځیده | دوی ګرځیدلي |

- د ضمیر مفعولی حالت:

| | مفرد | جمع |
|---|---|---|
| متکلم: | زلمی زه وپیژندلم | زلمی مونږ وپیژندلو |
| مخاطب: | زلمی ته وپیژندلي | زلمی تاسی وپیژندلئ |
| مذکر غائب | ما دی ولیده | ما دوی ولیدل |
| مونث غائب: | ما دا ولیدله | ما دولی ولیدلي |

- **منفصل ضمیرونه:** هغه دی چی له بلی کلمی سره پیوست نه راځی بلکه ځانله او جلا لیکل کیږی، منفصل ضمیرونه پر دوه ډوله دی: مستقیل او غیر مستقیل
  - **مستقیل منفصل ضمیرونه:** مستقیل منفصل ضمیرونه په لاندی ډول دی:
    - زه – ما: د مفرد متکلم لپاره
    - مونږ: د جمع متکلم لپاره
    - ته – تا: د مفرد مخاطب لپاره
    - تاسی: د جمع مخاطب لپاره
    - دی – ده: د مفرد مذکر غائب لپاره – د نږدی غائب لپاره یعنی د دریم سړی لپاره که څه هم حاضر وی.
    - دا – دی: د مفرد مونث غائب دپاره
    - دوی: دجمع غائب دپاره
    - هغه – دغه: د مفرد مذکر دپاره
    - هغه – هغی: د مفرد مونث غائب دپاره
    - هغوی: د جمع غائب دپاره
  - دغه ضمیرونه د استعمال له مخی بیل بیل حالتونه لری چی په لاندی ډول دی:
    - په دغه ضمیرونو کبنی (ده، دی، هغه، هغي) یوازی یو فاعلی حالت لری، یعنی یوازی د متعدی ماضی د فاعل په حیث استعمالیږی او په نورو حالاتو کی نه راځی لکه:

| مذکر | جمع |
|---|---|
| ده ښتکی وخوړ | دی ښتکی وخوړ |
| هغه ښتکی وخوړ | هغه ښتکی وخوړ |

    - (ما، تا): دا دوه ضمیرونه په متعدی ماضی کی د فاعل په حیث او په حال مستقبل او امر کبنی د مفعول په حیث راځی لکه:

| فاعلی | مفعولی |
|---|---|
| ما خط ولیکه | توریالی ما وینی |
| تا خط ولیکه | توریالی تا وینی |
| | ته به ما کورته بوځی؟ |

    - (زه، ته): دا دوه ضمیرونه هم فاعلی حالت لری هم مفعولی، په متعدی ماضی کی د مفعول په حیث او په لازمی افعالو، او متعدی حال او استقبال کی د فاعل په حیث استعمالیږی لکه:

| مفعولی | فاعلی |
|---|---|
| زه زلمی ولیدلم | زه زلمی وینم، زه ځم |
| ته زلمی ولیدلی | ته زلمی وینی، ته ځی |
| | زه به خط ولیکم، زه تللی وم |
| | ته به خط ولیکي، ته تللی وی |

    - (دی، دا، هغه): دا ضمیرونه هم دوه حالته لری، فاعلی او مفعولی، مگر فاعلی حالت یی په متعدی افعالو کی په حال او مستقبل پوری خاص دی او مفعولی حالت یی کوم اختصاص نه لری، په ماضی او حال دواړو کبنی راځی لکه:

| فاعلی | مفعولی |
|---|---|
| دی خط لیکی، دی به خط ولیکی | ما دی ولید، زه دی بیایم |
| دا خط لیکی | ما هغه ولید، زه به هغه راولم |

    - (مونږ، تاسی، دوی، هغوی): دغه څلور د جمع ضمیرونه دی د استعمال له مخی هیڅ اختصاص نه لری، په ماضی او حال کبنی د فاعل په حیث استعمالیږی او هم د مفعول په حیث لکه:

| مذکر | جمع |
|---|---|
| مونږ سبق ووایه | توریالی مونږ ولیدلو |
| تاسی څه کوئ؟ | توریالی تاسی ولیدلئ |
| مونږ خط لیکو | توریالی دوی ولیدل |
| دوی به زما قلم راوړی | توریالی مونږ وینی |
| هغوی کورته ولاړل | او تاسی نه وینی |

- په پورته ضمیرونه کښې یوازې (زه، ته، دی، دا، هغه) ارتباطي حالت نه لرې او نور ټول ضمیرونه د ښکاره نوم په شان ارتباطي حالت لرې او د ارتباط له توورو سره استعمالیږی لکه:

| | |
|---|---|
| ما: ما ته څه وایې؟ | مونږ: مونږ ته خپل وطن ګران دی |
| تا: له تا سره مې کار دی | تاسې: تاسې ته خبره کوم |
| ده: ده ته څه مه وایه | دوی: پر دوی باندی کار ډیر دی |
| دې: د دې کور چیرته دی؟ | هغوی: هغوی ته مې کتابونه ورکړل |
| هغې: له هغې نه دا پوهه ده | |

- **غیر مستقیل منفصل ضمیرونه:** په پښتو کې ځینې غیر مستقیل منفصل ضمیرونه هم سته چې د نورو کلیمو د راوړلو څخه بغیر نه استعمالیږی چې په لاندې ډول دی:
  - <u>مې – مو:</u> د متکلم دپاره
  - <u>دې – مو:</u> د مخاطب دپاره
  - <u>یې:</u> د غائب دپاره
  - غیر مستقیل منفصل ضمیرونه درې حالتونه لرې: فاعلي، مفعولي، اضافي مګر فاعلي حالت یې په ماضي متعدي پورې او مفعولي حالت یې په امر حال او مستقبل پورې اړه لرې، مثالونه یې دادی:

| فاعلي حالت | مفعولي حالت | اضافي حالت |
|---|---|---|
| کتاب مې واخیست | ته مې چیرې بیایې؟ | کتاب مې راکړه |
| کتاب مو واخیست | دی مو چیرې بیایې؟ | کتابونه مو راکړه |
| کتاب دې واخیست | زه دې له ځانه سره بیایم | کتاب دې څه شو؟ |
| کتاب یې واخیست | زه مو له ځانه سره بیایم | کتابونه مو څه شول؟ |
| | زه یې کورته بیایم | کتاب مې ورک شو |

- **استفهامي ضمیرونه:** استفهامي ضمیرونه هغه دي چې د سوال او پوښتنې په وخت کښې استعمالیږی چې په لاندې ډول دی
  - **چا، څوک:** د اشخاصو لپاره راځي. (چا) د ماضي متعدي په فاعلي حالت او ارتباطي حالت کښې او (څوک) په نورو حالتونو کښې استعمالیږی لکه: چا سبق ولوست؟ چا خط ولیکه؟ چا ته وایې؟ دا سړی د چا ورور دی؟ څوک راغلی دی؟
  - **څه، څومره، څو:** دغه درې واړه ضمیرونه په درې واړو حالتونو کښې راځي لکه: څه وچیچلې؟ تا څه واخستل؟ له څه ویریږی؟ دا قلم دې په څو واخیست؟ څومره اخلې؟ څو وم؟ څو ومه؟ کوم-کومه؟
- **ربطي ضمیرونه:** په پښتو کې یو ډول ربطي ضمیرونه هم سته چې په جملو کې د ربط وظیفه اجراء کوی او اوله جمله د دوهمې جملې سره تړی، دغه ضمیرونه زیات له دوو جملو څخه جوړ سوی دی چې مثالونه یې په لاندې ډول دی:
  - **څوک چې:** څوک چې بد کرځي، بد پرځي
  - **چا چې:** چاچې کار وکړ، ګټه به مومي.
  - **څه چې:** څه چې کرې، هغه به ریبي.
  - **څومره چې:** څومره چې خوړلی سی وخوره!
  - **هرڅه:** هر څه چې وایې وایه.
  - د (ترې، ترینه، ځینې، پرې، پکښې) کلمې هم د ربطي ضمیرونو وظیفه اجراء کوې، لکه:
  - دغه کلمې په اصل کښې ددې کلمو (ترده، له ده، په هغه کښې) پر ځای په مخفف ډول استعمالیږی
    - <u>ترې – ترینه:</u> قلم ترې واخله – قلم ترینه واخله
    - <u>ځینې:</u> پوښتنه ځینې وکړه
    - <u>پرې:</u> زما پرې روپۍ دی
    - <u>پکښې:</u> زلمی پکښې ناست دی
- **مبهم ضمیرونه:** په پښتو کې ځینې مبهم ضمیرونه هم سته چې د یو نامعلوم شي یا شخص پر ځای استعمالیږی او پر دوه ډوله دی: بسیط او مرکب

- **بسیط مبهم ضمیرونه:** بسیط مبهم ضمیرونه په لاندی ډول دی:
  - **څوک:** څوک کار کوی او څوک ساعت تیروی
  - **چا:** چا کار کړی دی او چا نه دی کړی
  - **څه:** څه دادی او څه نور دي
  - **څو:** څو یی مړه سول او څو یی پاته دی
  - **هیڅ:** دلته هیڅ نسته
- **مرکب مبهم ضمیرونه:** مرکب مبهم ضمیرونه ډیر دی چی یو څو یی په لاندی ډول دی:
  - **هرچا:** هر چا پکښی خبری وکړی
  - **هر څه:** دلته هر څه پیداکیږی
  - **هیڅوک:** هیڅوک نه وایی چی ناپوه یم
  - **هیچا:** هیچا ته څه مه وایه
  - **هر یو:** هر یو وایی چی زه من یم
  - **بل یو:** بل یو هم نسته
- **اضافی ضمیرونه:** په پښتو کی اضافی منفصل ضمیرونه په لاندی ډول دی: (دغه لاندی ټول اضافی ضمیرونه تل د مضاف څخه دمخه راځی)
  - **زما – زمونږ:** د متکلم لپاره، لکه: زما کور په کابل کښی دی – زمونږ هیواد افغانستان نومیږی
  - **ستا – ستاسی:** د مخاطب لپاره، لکه: ستا فکر ښه دی، ستاسی خیال څنګه دی؟
  - **د ده – د دوی:** د نږدی مونث غائب دپاره، لکه: دده لاس خوږیږی
  - **د هغه – د هغوی:** د لیری مذکر غائب دپاره، لکه: د هغه پلار ژوند دی
  - **د دې، د دوی:** د نږدی مونث غائب دپاره، لکه: د دې زړه ډاډه دی
  - **د هغې – د هغوی:** د لیری مونث غائب دپاره، لکه: د هغې مور ژوندئ ده
- **اشاری ضمیرونه:** په پښتو کی ځینی اشاری ضمیرونه هم سته چی د اشاری په ډول د اشخاصو او شیانو په ځای استعمالیږی. په پښتو کی اشاری ضمیرونه په لاندی ډول دی:
  - **دغه، دغو:** د نږدی مذکر دپاره
  - **هغه، هغو:** د لیری مذکر دپاره
  - **دغی، دغو:** د نږدی مونث دپاره
  - **هغې، هغو:** د لیری مونث دپاره
  - له اشاري ضمیرونو سره که چیری مرجع نه وی ذکر سوی، نو اشاری ضمیرونه بلل کیږی لکه په لاندی مثالونو کښی او که چیری مرجع ورسره راغلی وی نو بیا ورته اشاری صفت ویل کیږی لکه: دغې ښځی ډوډی پخه کړه – دغو سړو لار جوړه کړه – دغه هلک یو پوه هلک دی
  - په پورته کلیمو کښی (دغی، هغی) د مفرد مونث دپاره، او (دغو، هغو) د جمع مذکر او مونث دپاره د ماضی متعدی په فاعلی حالت او ارتباطی حالت کښی استعمالیږی او (دغه، هغه) په نورو حالاتو کښی د مونث، مذکر، جمع او مفرد دپاره یو ډول راځی، لکه په لاندی مثالونو کښی:

| فاعلی حالت | ارتباطی حالت | نور حالتونه |
|---|---|---|
| دغې ډوډی پخه کړه | له دغې نه قلم واخله | دغه راغلی ؤ |
| هغی کالي و وینځل | هغې ته کاغذ ورکړه | دغه راغلی وه |
| دغو لار جوړه کړه | د دغو کار ولې نه کوې؟ | هغه نه ؤ راغلی |
| هغو خپل کار وکړ | له هغو پوښتنه وکړه | هغه نه وه راغلی |

## صــفــت

صفت هغه کلیمی ته وایی چی د یوه نوم حالت، کیفیت او څرنګوالی بیانوی. صفات پر څو ډوله دی او په لاندی ډول ښودل کیږی

۱- **اصلی صفت:** چی د یوه نوم ذاتی ښه والی او بدوالی ښکاره کړی لکه: ښه ، بد، مشر او داسی نور.

۲- **نسبتی صفت:** چی یو بل نوم ته یی نسبت سوی وی لکه: کندهاری، یوسف زی، کورنی او داسی نور

۳- **اشاری صفت:** هغه کلیمی چی د هغو په واسطه یو نوم ته اشاره وسی او هغه ته اختصاص ورکړی اشاری

صفت بلل کيږی لکه:

- کورتۍ دی په څور روپۍ ګنډلې ده
- دغه باغ د انګورو دی
- دغه سړی د غنمو لو کوی

**۴- عددی صفت:** هغه کلیمه ده چې د هغو په واسطه د یو شی د شمیر اندازه معلومیږی لکه: دوه لاسونه، دوی سترګی، پنځه ورځی او داسی نور

- که چیری یو عدد یوازی شمیر او اندازه وښیی مطلق عدد یی بولی او که چیری په رتبه او درجه هم دلالت وکړی نو رتبی عدد ورته وایی لکه: دی یو کمیس په شل روپۍ ګنډی، د میاشتی ۲۶مه ورځ
- مطلق عددونه بی له یو او دوه څخه د مذکر او مونث له پلاره یو شان راځی او رتبی عددونه د خپل موصوف تابع دی لکه: لسم کال، لسمه ورځ

**۵- استفهامی صفتونه:** چی د پوښتنی په وخت کی استعمالیږی او موصوف ورسره راغلی وی لکه: څومره غنم دی په کار دی؟ کوم هلک پوه دی؟ څو کتابونه اخلې؟

**۶- فعلی صفتونه:** هغه دی چی د فعل او کولو معنی هم پکی وی او د نورو صفاتو په شان د یو نوم حال او شان هم بیانوی. فعلی صفات پر دوه ډوله دی:

- **فاعلی صفات:** لکه: پالونکی، تلونکی، تللی، راغلی، پاڅیدلی، ګرځیدلی او داسی نور
- **مفعولی صفات:** لکه: ساتلی، لیکلی، پری کیدونکی، وهل کیدونکی او داسی نور

**۷- مجرد صفتونه:** مجرد وصف هغه ته وایی چی په خارج کی کوم مادی وجود نه لری او خالی وصف او حالت تری مرادیږی لکه: لیونتوب، هوښیارتوب، روغتیا، اوږدوالی، دوستی، دښمنی او داسی نور

- په پښتو کی د مجرد وصف د جوړولو مشهوری علامی دادی: (توب، تیا، والی) دغه علامی د اسم او صفت په اخر کی راځی او مجرد صفتونه تری جوړیږی
- مجرد صفتونه په نورو حکمونو کی د مجردو نومونو په شان دی او په جملو کی فاعل، مفعول او مضاف الیه واقع کیږی لکه:
  - ۱- د بدن پاکولی د صحت لپاره ضروری دی
  - ۲- د زلمیتوب زمانه د کار او فعالیت زمانه ده

## مـــصــــدر

مصدر هغه کلیمه ده چی بی له زمانی څخه یو فعل او کار ښی او زمانه تری نه معلومیږی. په پښتو کی مصدرونه په لاندی ډول دی:

### مصدر د لفظ په لحاظ پر پنځه ډوله دی:

**۱- لام والا:** لکه وهل، تلل
**۲- ول والا:** لکه: غورځول، ماتول، خندول، الوزول، تودول
**۳- یدل والا:** لکه: ګرځیدل، مړیدل، پاڅیدل
**۴- کول والا:** لکه: پورته کول، پخلا کول
**۵- کیدل والا:** لکه: پری کیدل، وهل کیدل

### د مصدر معنوی ډولونه په لاندی ډول دی:

**۱- لازمی:** هغه دی چی فعل یی یوازی په فاعل تمامیږی او مفعول ته ضرورت نه لری لکه: تلل، ګرځیدل
**۲- متعدی معلوم:** چی فعل یی یوازی په فاعل نه تمامیږی بلکی مفعول هم غواړی لکه: تړل، ساتل، پخول، آشنا کول
**۳- متعدی مجهول:** چی فاعل یی معلوم نه وی لکه: پری کیدل، وهل کیدل
**۴- متعدی حکمی:** چی د معنی په لحاظ لازمی وی مګر په استعمال کی د متعدی مصدرونو حکم لری او د (ما، تا، ده) ضمیرونه ورسره استعمالیږی لکه: ده وخندل، هغه وژړل. دغه ډول مصدرونه عبارت دی له: خندل، ژړل، دانګل، زانګل، لامبل، ټوخل

- لام والا مصدرونه متعدی هم راځی او لازمی هم مګر د ول او کول والا مصدرونه همیشه متعدی وی او د یدل او کیدل والا مصدرونه کله لازمی او کله متعدی مجهول وی. <u>لازمی لکه:</u> ګرځیدل، پخلا کیدل <u>او متعدی مجهول لکه:</u> ډبیدل، پری کیدل

## د پښتو مصدرونه د اشتقاق په لحاظ پر دری ډوله دی:

**۱- تغیر نه منونکی:** هغه مصدرونه چی د حالیه افعالو په ګروپ کی خپله اصلی ماده ساتی او کوم اساسی بدلون یکی نه راځی تغیر نه منوونکی مصدرونه دی لکه: (منل، ساتل) چی د حال، مستقبل صیغی یی بی له کوم تغیره جوړیږی. مثالونه یی دادی: حال، مستقبل، امر، ماضی، استمراری، فعلی صفت. منم، وبه منم، ومنه، مانه، منلی، ساتم، وبه ساتم، وساته، ساته، ساتلی.

**۲- قانونی تغیر منونکی:** هغه مصدرونه دی چی د حالیه افعالو په اصلی ماده کی د یوی قاعدی سره سم تغیر راځی لکه: وتل، تلل چی د حال په فعل کی یی (ت) په (ځ) بدلیږی مثالونه یی دادی: وځم، وبه وځم، ځم، ځم به، ځه

**۳- بی قانونه تغیر منونکی:** هغه مصدرونه دی چی په حالیه افعالو کی یی اصلی ماده بی له کوم قانون او قاعدی بدلیږی دغه ډول مصدرونه په پښتو کی لږ او په دی ډول دی: (کتل، لیدل، وژل، موندل، نښتل، ختل) چی د حال فعلونه یی داسی راځی: (ګورم، وینم، وژنم، مومم، نښلم، خیژم)

## فـعـل

فعل هغه کلیمه ده چی په یوه زمانه کی د یوه کار په کولو او یا کیدلو دلالت کوی لکه (وایی، وبه وایی، وویل) چی لومړی کلمه په حال، دوهمه په راتلونی او دریمه په تیره زمانه کی د ویلو کار او چار ښیی

**د امر فعل:** هغه کلیمه ده چی د هغی په واسطه د یو کار د کولو حکم کیږی، د امر فعل ویل کیږی لکه: وګوره، کښینه، وساته او داسی نور

## فعل د اشخاصو په لحاظ پر دری ډوله دی:

د متکلم فعل، د مخاطب فعل او د غایب فعل چی دغه هر یو بیا په مفرد، مونث، مذکر و مونث ویشل کیږی

## فعل د معنی په لحاظ پر شپږ ډوله دی:

فعل د معنی په لحاظ پر: (لازم، متعدی، معلوم او مجهول، مثبت او منفی) ویشل کیږی

- **لازمی فعل:** لازمی فعل یوازی په فاعلی تمامیږی لکه: پاڅید، کیناست، وخوت
- **متعدی فعل:** متعدی فعل سربیره پر فاعل، مفعول هم غواړی یعنی یوازی په فاعل نه تمامیږی لکه: زلمی کتاب لولی، زه خط لیکم، دی ډوډی خوری
- **معلوم او مجهول فعل:** که چیری په جمله کی د یو فعل فاعل معلوم ؤ هغه ته معلوم فعل وایی لکه: زه دی پیژنم، خو ته مانه پیژنئ. او که فاعل معلوم نه ؤ هغه ته مجهول فعل وایی لکه: ورمه شپه میاشت لیدل سوی ده، زلمی هره ورځ وهل کیږی
- **مثبت او منفی فعل:** مثبت فعل د یو کار په کولو او منفی یی په نه کولو دلالت کوی لکه: زه هره ورځ لامبم، خوک چی نه لامبی د هغه وجود خیرن وی

## فعل د زمانی په لحاظ پر دری دوله دی:

**۱- حال فعل:** حال فعل هغه کلیمه ده چی په موجوده زمانه کی د یو کار په کولو دلالت کوی، لکه: وهی، غواړی، ګورم، ګرځم

**۲- مستقبل فعل:** مستقبل فعل هغه کلیمه ده چی په راتلونکی زمانه کی د یو کار په کولو دلالت کوی لکه: وبه یی لیکم، و به یی وینم، وبه یی لولم

**۳- ماضی فعل:** د ماضی فعل هغه کلیمی ته ویل کیږی چی په تیره زمانه کی پر یو کار دلالت کوی لکه: ولویده، پاڅیده، وساته او نور. د ماضی فعل ډولونه په لاندی ډول دی:

- **استمراری ماضی:** چی په تیره زمانه کی د یو فعل دوام او استمرار ښیی. استمراری ماضی له مصدر څخه ډیر آسانه جوړیږی او د مصدر په پای کی متصل ضمیرونه ګردانیږی او دغه اته صیغی ځینی جوړیږی
  - ختلم: د مفرد متکلم لپاره
  - ختلو: د جمع متکلم لپاره
  - ختلی: د مفرد مخاطب لپاره
  - ختلئ: د جمع مخاطب لپاره
  - خوت: د مفرد مذکر لپاره
  - ختل: د جمع مذکر لپاره
  - ختله: د مفرد مونث لپاره

- ختلې: د جمع مونث لپاره
- **مطلقه ماضی:** مطلقه ماضی هغه ده چی په مطلق ډول په تیره زمانه کی د یو فعل په کولو دلالت کوی او کوم قید تری نه معلومیږی. مطلقه ماضی د استمراری ماضی په سر کی د (و) په زیاتولو جوړیږی. مثالونه یی دادی:
- زه په باغ کی وګرځیدم
- مونږ په باغ کی وګرځیدو
- ته چیری وګرځیدی؟
- **نږدی ماضی:** په نږدی زمانه کی د یو کار په کولو دلالت کوی نږدی ماضی د فعل صفت په اخر د (یم، یو، یی، دی، ده، دی) په ګردانولو جوړیږی لکه: ختلی یم، ختلي یی، ختلي دی، ختلی ده، ختلي دی
- **لرې ماضی:** په لرې زمانه کی د یو کار په کولو دلالت کوی لرې ماضی د فعلي صفت په پای کی د (وم، وو، وی، و، وو، وه، وی) په ګردانولو جوړیږی لکه: ختلی وم، ختلی وو، ختلی وې، ختلی ؤ، ختلی وو، ختلی وه، ختلی وې
- **امکاني ماضی:** امکانی ماضی هغی ته وایی چی په تیره زمانه کی د یو کار امکان ښیي او پر دوه ډوله دی: استمراری او مطلقه
- **امکانی استمراری ماضی:** د فعلی صفت په پای کی دی (شوم، شوو، شوی، شو، شول، شوه، شوی) په ګردانولو جوړیږی لکه: ختلای شوم، ختلای شوو، ختلای شوی، ختلای شو، ختلای شوه، ختلای شوی
- **امکانی مطلقه ماضی:** د امکانی استمراری ماضی په سر کی د (و) په زیاتولو جوړیږی لکه: وختلای شوم، وختلای شوو، وختلای شوی، وختلای شو، وختلای شول، وختلای شوه، وختلای شوی
- **احتمالی ماضی:** په تیره زمانه کی په احتمالی ډول د یو کار په کولو دلالت کوی احتمالی ماضی د فعلی صفت په پای کی د (به یم، به یو، به یی، به یې) په ګردانولو جوړیږی لکه: راغلی به یم، راغلی به یو، راغلی به یی، راغلی به یې
- **تمنایي ماضي:** په تیره زمانه کی د یو فعل د کولو آرزو ښکاره کوی. په تمنایي ماضی کی د فعلی صفت څخه وروسته (وای) او په سر کی یی (که، کشکی) راځی، لکه: کشکی زه هم تللی وای، که ته راغلی وای ښه به ؤ، زره می کیده چی تللی وای
- **تأکیدی ماضی:** له لیری ماضی څخه د فعلی صفت په آخر کی د (به) په زیاتولو جوړیږی لکه: راغلی به ؤ، تللی به وی

## قـــیــود

قیود هغه کلیمه ده چی د فعل سره یو ځای کیږی او هغه په یو حالت او وضیعت پوری مقید کوی. مثلاً په دی جمله کی (زلمی راغی) هیڅ قید نسته او که ووایو چی (زلمی په خندا راغی) نو دلته یو بل شی هم پیدا سو چی د راتلو فعل یی په هغه پوری مقید کړ او هغه د خندا حالت دی. قیود په پښتو کی زیات قسمونه لری او د بیلو بیلو مقصدونو لپاره استعمالیږی

**۱- د زمانی قیود:** چی یو فعل ته د زمانی او وخت قید ورکوی لکه: پرون ولاړم اوس راغلم، زه همیشه کار ته د وخته ځم، هرکله راشی هرکله اوسی

**۲- د ځای او مکان قیود:** لکه: دلته کښینه، پاس وخیږه، کښته کوز سه، نږدی راسه، وراندی لاړ سه

**۳- د شک قیود:** لکه: ګوندی راسی، ښایی سبا ته ولاړ سم

**۴- د علت قیود:** لکه: ځله ځی؟، ولی نه کښینی؟

**۵- د وضیعت او حالت قیود:** لکه: ژر ژر راځه، په منده منده ځه، ولی ورو ورو ځې؟

**یادښت:** په پښتو کی صفات هم د قید په صورت استعمالیږی لکه: یواځی مه ځه، له دی سره ملګری ولاړشه، له مانه پټ ولاړې، زلمی هغلته غلی ناست دی

## ادات (توری)

هغه کلیمی چی په خپلواکه توګه معنا نه لری او یا یواځی کوم مطلب او معنا نه ورکوی ادات یا توری نومیږی لکه: (له، پر، که او هم).

- ادات په جمله کی د ارتباط او اتصال دنده سرته رسوی
- **د عطف ادات:** دوه کلیمی یا دوه جملی یو له بل سره نښلوی چی عبارت دی له:(او، هم، بیا، پسی)

## مــتــلــونــه

متلونه هغه پراخه مفهوم لرونکی، په وزن برابری او لنډی ویناوی دی چی د استدلال د تائید لپاره د خبرو اترو په ترڅ کی ویل کیږی. لکه په لاندی مثالونو کی :

- کوږ بار تر منزله نه رسیږی

- څه چې کړی، هغه به ریبی
- میرونه مری او نومونه یې پاتې کیږی

# لیک نښې

په پښتو کې لیک نښې په لاندې ډول دي

**کامه (،):** دا علامه د عطف یعنې واو په ځای د مختلفو جملو د بدلیدو او د وینا د انفصال لپاره استعمالیږی

**وقفه (؛):** دا علامه د مشابهو جملو په آخر کې ایښودل کیږی او په وینا کې له فاصلې نه زیاته وقفه او انفصال راښیٔ

**ټکی (.):** دا علامه د جملې په آخر کې راځی او له وقفې څخه زیاته فاصله راښیٔ

**شارحه (:):** دا علامه د هغې جملې په آخر کې ایښودل کیږی چې وروسته یې تفصیل او شرحه راځی

**ربط (-):** دا علامه د یو کلیمې ربط له بلې سره ښیئ

**لینډۍ( ):** ددې دوو قوسې کرښو په منځ کې معترضه جمله، خاص نومونه، اعداد او خارجې کلمات لیکل کیږی.

**تفریقیه [ ]:** هر کله چې په یوه معترضه جمله کې بله معترضه جمله یا کلمه راسی نو لومړی معترضه د تفریقیې علامې په منځ کې او بله معترضه جمله په معترضه علامه کې راځی یعنې په دې شکل [--- (---) ---].

**غبرګونې لینډۍ، ممیزه (( )):** کله چې یو عبارت له یوکتابه نقل کیږی یا کومه مقوله راوړله کیږی نو په ممیزه علامه کې یې لیکو.

**د پوښتنې نښه (؟):** دا علامه د هغې جملې په آخر کې راځی چې مطلب ترې استفهام او پوښتنه وی

**د تعجب علامه (!):** دا علامه د تعجب، حیرت، تردید، امر او نداء په وخت کې استعمالیږی

**د انصراف علامه (...):** د خبرو د قطع کولو په ځای یا د محذوفو جملو او کلیمو په عوض دغه ټکی راوړل کیږی، که د یوې جملې په پای ځلور نقطی راغلی وی نو لومړی دری یې د انصراف علامه او ځلورمه نقطه یې د جملې د پای نقطه ده.

**لاندې کرښه ________:** که یوه جمله یا نوم په خاص ډول د پاملرنې وړ وی نو ترې لاندې یوه اوږده کرښه راکښل کیږی لکه: ښاغلو <u>دلته دریدل منع دی</u>.

# د مستعارو کلیمو لیکنه

په پښتو کې مستعارې کلیمې پر دوه ډوله دی چې یو ډول یې په خپل اصلی شکل لیکل کیږی او بل ډول یې په اوښتلی شکل لیکل کیږی.

**لومړی ډول:** هغه مستعارې کلیمې چې په خپل شکل لیکل کیږی

- د عربی ټولې علمی، مذهبی اصطلاح ګانې نوم او أعلام چې بې له کوم تغیره پښتو ته راننوتی دی په خپله اصلی بڼه لیکل کیږی لکه: صرف، نحو، منطق، معرفت، حج، زکوة، قبله، مدینه، قاهره، حمید، محمود او داسې نور.
- هغه کلیمې چې په خواصو پوری اړه لری، یعنې استعمال یې عمومی او ډیر نه وی، په هغو کلیمو کې هم بدلون نه راځی او په خپل شکل لیکل کیږی لکه: قاضی، حاکم، عالم او داسې نور.

**دوهم ډول:** هغه مستعارې کلیمې چې په اوښتلی شکل لیکل کیږی

- هغه کلیمې چې زیاتی استعمالیږی او ضرورت ورته ډیر وی په اوښتلي شکل لیکل کیږی لکه: وخت، خلک، کمیس او داسې نور چې اصلی یې وقت، خلق او قمیص دی
- هغه کلیمې چې هم یکی معنوی او هم یکی لفظی تغیر راغلی وی په اوښتلی شکل لیکل کیږی لکه: اورته، عورت او داسې نور
- هغه کلیمې چې استعمال یې عام وی او په منځ او پای کې یې (ط، ص، ث، ع) راغلی وی په اوښتلی شکل لیکل کیږی لکه: غلت، ختا، جوسه، خلاسې چې اصلی یې غلطه، خطا، غصه، جوثه، خلاصې دی

**یادښت:** دوهم ډول کلیمو ته پښتو سوې کلیمې وایی

# بـــديـــع

**بديع:** بديع په لغت کی نوی شی ته وايي او په اصطلاح کی هغه علم ته وايي دکوم په واسطه چه د کلام ښه والی څرګندیږی. ددی علم واضع عبدالله مغنز دی. دبديع علم پر دوه ډوله دی اول لفظی او دوهم معنوی.

## معنوی صنایع

**سوال او ځواب:** هغه صنعت ته وايي چه شاعر په خپل کلام کی پوښتنی او ځوابونه سره يوځای کړی، لکه:

وی مـــــــــــی زلفی دی پر مخ ولی تاویږی وی نوروز دی شپه او ورځ ســـــــــره سمیږی

**ارسال المثل:** که شاعر په خپل کلام کی کوم مشهور متل راوړی هغه ته ارسال المثل وايي، لکه:

وايي زوی او لور تر پښو اوبـــــــــه تر حلقه فراموش په بيلتانه ځـــــــــــان او جهان شی

**ارسال المثلين:** هغه ادبی صنعت دی چی شاعر په خپل شعر کی دوه متلونه راوړی لکه:

چی اوربشی کـــــــــری کـــلـــه غنم کيږی دی ريښتيا ځـــــه چـــــی کری هغه به ريبی

**کيسی (لغز):** چه ديوشی د خواصو صفات او نور نښی وښودل سی او ددغه خواصو او نخښو له مخی له مخاطب څخه د هغه شی د ښودلو پوښتنه وسی کيسه بلل کيږی:

له پاسه راغی سور بلوخ، اغوستی يی پنځه پنځوس

**مدعا المثل:** هغه ادبی صنعت دی چی شاعر په يو نيم بيتی کی يو مطلب راوړی او په بل نيم بيتی کی د خپل مطلب د اثبات دپاره يو خارجی مثال راوړی. لکه

نصيحت پـــــــه غافلانو اثـــــــر نـــــــه کا د سړی اوسپنی خـــــوشـــــــــی ټکول دی

**طباق:** دی صنعت ته تضاد يا تقابل هم وايي هغه دادی چه شاعر په خپل کلام کی داسی کلمی راوړی چه يوه له بلی سره متقابلی وی، لکه:

هر سحر سترګي د ګل پـــــــــــــه اوښو ډکی په دا باغ کی بـــــــــــــــی ژړلو خندا نشته

**مراعات النظير:** چه تناسب او تلفيق هم ورته وايي او هغه دادی چه شاعر په خپل کلام کی داسی کلمی سره يوځای کړی چه يو له بل سره تناسب او نږديوالی ولری.

**لف او نشر:** هغه صنعت ته وايي چه شاعر په خپل کلام کی لومړی څو شيان ذکر کړی وروسته بيا د هغوی تعريف او بيان وکړی. نوکه دغه تعريف او بيان په ترتيب سره سوی وی مرتب او که بيله ترتيب څخه وی غير مرتب لف نشردی، لکه:

په ځان او په جهان کــــــــــــــــی ما دوه ښيزه دی وکښلی
په ځان کی دواړه سترګی پـــــــــــه جهان کی واړه ښکلی

**عکس او تبديل:** که د لومړی فقری يا مصرعی په دوهمه فقره يا مصرعه کی سره واوړی او معنی تضاد ځينی پيدا سی عکس او تبديل نوميږی. لکه:

ما پـــــه سل کرتــه ياد کړی تـــــــــــه رانغلی زه بـــــه سل کرتـــــه درشمه که تـــا ياد کړم

**حسن تعليل:** حسن تعليل دادی چه شاعر دکوم وصف لپاره يو تناسب علت راوړی مګر دا علت بايد خيالی يا ادعائي وی نه حقيقی، لکه:

چی سبا بـــــه لـــــــــــه مجلسه جدا کيږی شمع ځکه درسته شپه د ســــــــــــوز ژړا کا

**رجوع:** په لغت کی بيرته راګرځيدلو ته وايي او په ادبی اصطلاح کی هغه صنعت دی چی يو څوک يوه خبره يو وار اظهار کړی او بيا وروسته خپله خبره باطله کړی لکه:

د ملاخيال دی زه حنان لـــــکــــــه وينته کړم زه غلت ســـــوم کله مــــــــــوی هسی مين سته

**جمع:** د څو شيانو يا صفاتو تر يوه حکم لاندی راوستلو ته وايي لکه:

داهمه واړه عاشق لـــــــــــــــــــره پيداسول که تهمت کـــــــــه ملامت دی کـــــــــه پيغور

**تنسیق الصفات:** تنسیق په لغت کی برابرولو ته وایی او په اصطلاح کی یو بیت کی د څو صفتونو ذکر او بیان ته تنسیق الصفات وایی. لکه:

ناز، نـــخـــری، خــنـــدا، فتنـی، جنـګـونـه　　　له خپل یار ســــــره هم تـــــــــازه دا رنګونه

**تجاهل العارف:** هغه صنعت ته وایی چه شاعر یو معلوم او څرګند شی مجهول وګنی او سره له دی چه په مطلب ښه پوهـ وی دکوم نزاکت لپاره خپل ځان نافهمه واچوی، لکه:

دا د کوم ګلرخ لـــــــــــــــه غمه په ګلشن کی　　　دی ګلان په وینو ســــــــــــــــــره لکه سالو

**برائت طلب یا حسن طلب:** عبارت دی له هغه صنعت څخه دی چی یو شاعر په ډیرو خوږو او له احترامه ډکو کلیمو سره خپله معشوقه ځان ته راغواړی. لکه:

تل درتــــــــه ولاړ دی په دربار کی دی فریاد کا　　　خیر د دیدن ورکړه و خـــــواجه ته په کچکول کی

**تلمیح:** هغه صنعت ته وایی چه شاعر په خپل کلام کی کومی مشهوری قیصی یا واقعی ته اشاره کړی نو که سړی په هغه قصه یا واقعه پوهـ نه وی دشعر معنی ورته ګرانیږی، لکه:

د دنیا په دښمنی کـــــــــــــــــــــی عیسی وخت و آسمان ته

په دوستی کی یــــــــــــــی لاځی تخت الثرایه قارون هسی

**تشخیص او انطاق:** داهغه معنوی صنعت ته وایی چی شاعر پخپل کلام کی یو بی ساه شی ته ساه ورکړی او بیا د هغه په ژبه و غږیږی. لکه:

ما ویل څـــــــــــــــه دی ښکلیه ګله ولی ژاړی　　　ده ویل ژوند می دی یـــــــــــــــوه خوله خندیده

**حسن مطلع:** داهغه معنوی صنعت دی چی شاعر د خپل کلام لومړی برخه په داسی الفاظو سره شروع کړی چی ویوونکی او اوریدونکی دیته مجبور کړی چی دغه کلام تر پایه پوری ولولی یا یی واوری. لکه:

چی د خیال پــــــــــــــــه لاسو تن د دلبر نیسم　　　د هلک پـــــــــــــــه دود په لاس کـــی قلم نیسم

**حسن مقطع:** چه شاعر خپل کلام په خوندورو او زړه وړونکو الفاظو سره بی له کوم شرط څخه قطع کړی، لکه:

د ښادمنو پـــــــــــــــــه خندا ړو　　　د غمجنو پـــــــــــــــــه ژړا ړو

**تکرار حسن:** هغه صنعت ته وایی چه شاعر په خپل کلام کی کوم کلمه د تدریج، تاکید، ډیروالی یا داسی نورو اغراضو له امله تکرار کړی، لکه:

ستا ملالو سترګو زړه لـــــــــــــــــه مانه یو وړ　　　آهــــــــــــو چشمه ګلرخـــــســــــاره راشه راشه

**مبالغه:** که یو شاعر دیوشی وصف ترانداز‌ی زیات بیان کړی او دهغه ښه والی او بدوالی یا تصدیق او تکذیب ته شدت او قوت ورکړی مبالغه بلل کیږی.

مبالغه پر دری ډوله ده: ۱- تبلیغ، ۲- اغراق، ۳- غلو

الف- تبلیغ: هغه دادی چه ادعا هم د عقل او هم عادت له مخی امکان ولری

ب- اغراق: چه مدعا د عقل له مخی امکان ولری خو عادتاً امکان ونه لری

ج- غلو: چه مدعا هم عقلاً ناممکنه او هم عادتاً ناممکنه وی

## لفظی صنایع

لفظی صنعتونه هغه دی چی د شعر یا د نثر فقد د الفاظو سره ارتباط لری یا هغه ښایست چی د کلیمو د ظاهری اړخ او الفاظو د شکل سره رابطه لری. د لفظی ښایست ځینی مشهور ډولونه په لاندی ډول دی:

**تجنیس:** هغه صنعت ته وایی چه شاعر په خپل کلام کی داسی کلمی راوړی چه شکل یی یو او معنی یی بیله وی.

تجنیس په پښتو کی پر اوه ډوله ده

**۱- تام تجنیس:** هغه تجنیس ته ویل کیږی چه شاعر په خپل کلام کی دوی داسی کلمی راوړی چه شکل یی یو او معنی یی بیله وی.

**۲- ناقص تجنیس:** هغه تجنیس دی چه د متجانسو کلمو شکل یو او معنی یی بیله مګر په حرکاتو کی هم توپیر ولری

**۳- زاید تجنیس:** چه د متجانسو کلمو څخه دیوی کلمی په سر، منځ یا پای کی یو توری زیات راشی زاید تجنیس دی

**۴- مرکب تجنیس:** هغه تجنیس ته وایی چه دمتجانسو کلمو څخه یوه کلمه بسیطه او بله مرکبه وی. مرکب تجنیس پر دوه ډوله دی. ۱- متشابه مرکب ۲- مفروق مرکب

**الف: متشابه مرکب:** هغه مرکب تجنیس دی چه بسیطه او مرکبه دواړی یوشکل ولری.

**ب: مفروق مرکب:** هغه مرکب تجنیس ته وایی چه بسیطه کلیمه د بسیطی او مرکبه کلمه د مرکبی کلمی شکل ولری

**۵- مکرر تجنیس:** هغه دادی چه شاعر دخپلو بیتو په پای کی دری داسی متجانسی کلمی څنګ په څنګ راوړی چه د لومړی کلمی په سر کی یو یا څو توری زیات راسی

**۶- مطرف تجنیس:** هغه تجنیس ته وایی چه دمتجانسو کلمو نور شکل یو وی مګر په یوه توری کی سره بیل وی

**۷- خطی تجنیس:** هغه تجنیس ته وایی چه متجانسی کلمی په خط کی سره یو شی وی یعنی د ټکو بغیر یو شکل ولری

**توشیح:** هغه ادبی صنعت ته ویل کیږی چه شاعر خپل شعر داسی جوړ کړی چه دهغه شعر دبیتو یا مصرعو لومړی توری سره یوځای سی له هغه څخه نوم، مصرع، بیت یا کومه جمله جوړه سی.

**قلب:** قلب په لغت کی سرچپه کولو ته وایی، د ادبی فنونو په اصطلاح کی په یوه وینا کی د دوو یا زیاتو داسی کلیمو راوړل دی چی توری یی په شکل او عدد کی سره یو او په ترتیب کی سره اوښتی وی. لکه:

د دوران لـــــه انـــــقـــلابه لا بقا ســـــی اعتماد بـــــــــه دانا څه پـــــــــه دا اقبال کا

په پورته بیت کی (لابقا) د (اقبال) سره اوښتی دی.

**سجع:** سجع په لغت کی د قمری موزون آهنګ ته وایی، اصطلاحاً په نثر کی د جملو او فقرو هم آهنګی ته سجع وایی. لکه: د خوارانو یا ژړا ده یا ښیرا. سجع پر دری ډوله ده:

**۱- متوازی سجع:** هغه سجع ته وایی چی د سجعی په کلیمو کی د غږونو په شمیر، وزن او اخره قافیی کی سره برابری وی لکه: خپله ژبه هم کلا ده هم بلا ده

**۲- متوازنه سجع:** هغه سجع ته وایی چی د سجعی کلیمی په آخر حرف کی سره مختلفی او د حروفو په وزن کی سره یو ډول وی لکه: ښه نوم دی د ځان، بد نوم دی د قام.

**۳- مطرفه سجع:** چی د سجعی کلیمی په آخر حرف کی سره یو او د وزن په شمیر کی سره بیلی وی. لکه: ژرنده که د پلار ده هم په وار ده

**معما:** معما دی ته وایی چه کوم نوم، نیته یا کوم بل مطلب په شعر کی پټ او رمز راوړه شی، مثلاً د یونس نوم او نمک چی دواړه د ابجد په حساب ۱۲۶ کیږی او دلته دواړه یو بل ته نسبت سوی دی.

# نـــظـــمـــونـــه

نظم په لغت کی د مرغلرو پیلو ته وایی او په اصطلاح کی هر هغه کلام چه وزن او قافیه ولری نظم بلل کیږی نظم پر دوه ډوله دی: ملی نظمونه او مشترک نظمونه

## ۱- ملی نظمونه

۱ – **لنډۍ:** لنډۍ هغه اشعار دی چه شاعر یی معلوم نه وی چه ټپه، مسره او ټپۍ هم ورته ویل کیږی.لنډۍ دوی مصرع لری چه اوله مصرع یی ۹ سیلابه او دوهمه مصرع یی ۱۳ سیلابه وی.

۲ – **نیمکۍ یا سر:** دایو ډول شعر دی چه د لنډۍ سره په ګډ ډول ویل کیږی چه لومړی د لنډۍ یو مصرع وړیسی د نیمکی یو مصرع وروسته بیا دلنډۍ یو مصرع او وروسته بیا د نیمکی یو مصرع ویل کیږی او هر وخت دا قاعده نه عملی کیږی بلکه په هر ډول کیدای سی نیمکۍ دلنډۍ سره یو ځای سی.

۳ – **چاربیته:** چاربیتی دادول اشعار دی چه کیسی، نکلونه، داستانونه او نور اوږده اوږده مضامین په کی ادا کیږی. چاربیته یوسر لری چه هغه ته کسر یا پیر ویل کیږی. کسر اول د چاربیتی په سر کی او بیا تر هر بند وروسته تکراریږی او د چاربیتی د مصرعو شمیر د ۴ څخه تر ۲۰ پوری رسیږی. چاربیتی لاندی شکل لری:

۴ ــ **رباعی:** هغه غزل چه موضوع یې پند او نصیحت وی رباعی بلل کیږی.

۵ ــ **بګتې:** بګتې د چاربیتې په څیر یو سر لری چه په عمومی ډول یو بیت وی او د دواړو مصرعو قافیه یې سره برابره وی او دهر بند وروستی مصرع د بګتې له سر سره په قافیه کې یو شی وی. سر یې دهر بند په پای کې تکراریږی

۶ ــ **ناری یا ږغونه:** دا هغه اشعار دی چه په نورو ژبو کې یې مثال هم نه لیدل کیږی او په پخوانیو نکلونو کې راځی مثلاً د آدم خان او دُرخانې په نکل کې راځی

## ۲ـ مشترک نظمونه

۱ ــ **غزل:** دغزلو لومړی بیت ته مطلع وایی. دمطلع دواړی مصرع او د نورو بیتونو دوهمی مصرع یوله بله سره په قافیه کې یوشی وی او په وزن کې د غزلی ټولی مصرع سره برابری وی، دبیتو شیمر یې د ۵ څخه تر ۱۵ پوری رسیږی او اکثره غزلې عشقی وی.

۲ ــ **بوللــــه:** بوللــه یو ډول شعر دی چې قصیده ورته وایی، ډول ډول مضامین پکښې ویل کیږی او دبیتو شمیر یې د ۱۶ څخه تر ۲۰۰ پوری رسیږی.

۳ ــ **رباعی:** رباعی هغه دوه بیتونه دی چه د لومړی بیت دواړه مصرع او د دوهم بیت اخر مصرع په قافیه کې یوشی وی دابايد په فهم کې ولری چه د پښتو ملی رباعی او دپښتو مشترکه رباعی یوتربله فرق لری.

۴ ــ **قطعه:** دوه یا تر دوو زیات بیتونه دی چه د لومړی بیت د دوو مصرعو قافیې سره یو شی نه وی مګر دبیتونو دوهمه مصرعی یې یو ډول قافیه ولری.

۵ ــ **مثنوی:** په مثنوی کې ټول بیتونه یو ډول قافیه نه لری بلکه د هر بیت دواړی مصرع په قافیه کې یو ډول وی دبیتو شمیر یې هم نه دی معلوم بلکه د شاعر په قصه پوری اړه لری کومه قصه چه شاعر یې په شعر کې ادا کول غواړی.

۶ ــ **مستزاد:** هغه شعر دی چې یوه مصرع یې اوږده او بله یې لنډه وی لکه:

نـــــه غـــــوارم چــــې واورم نــــه په خوله د خیر ویـــــل کـــرم — مـــــدام مـنت پـــر بل کرم
چــــې قــــهـــــر راســـــې عـقل می مغلوب سی نو کنځل کرم — مـــــدام مـنت پـــر بل کرم
کــــــه هـــــر خــــــو کــــتابونه رنګ په رنګ و ځان ته ډیر کرم — اوبښـــــې تـر نظر تیر کرم

۷ ــ **مربع:** یو ډول شعر دی چې هر بند یې دوه بیتونه لری د سر په دوو بیتو کې څلور سره مصرع یو ډول قافیه لری، وروسته مصرع ګانی یې اولی دری یو ډول قافیه مګر دریمه یې د اولو څلورو سره یو ډول قافیه لری لکه د پیرمحمد کاکړ په لاندی مربع کې:

زړه مـــــــــــې نــــــــادان و د مــــــینی غل سو — فــــراق یـــــــې اور ؤ رابـــــانــــدی بـل سو
راحـــــــــــت مــــــــــــــــې واړه پـــــه غم بدل سو — اوبښـــــــــې ســــیـــــلاب دی صورت می شل سو
زیــــبا نـــــــګار چـــــــــې زه راپـــــــه یــاد کرم — لـــــــــه درد و غـــــــمــــــــــه آه و فـــــریاد کرم
قـــبـــــــــول حـــــیــــــران یـم د چا ارشاد کرم — لـــــــــه درد و غـــــمــــــه ما خواره د لاری مل سو

۸ ــ **مخمس:** د مخمس هر بند د سره تر پایه پنځه پنځه مصرع دی لومړی پنځه مصرعی یو ډول قافیه لری په نورو بندونو کې لومړی څلور مصرعی په قافیه کې سره یو شی وی مګر پنځمه مصرع یې له لومړیو پنځو مصرعو سره یو ډول قافیه لری او د شعر تر پایه پوری دغه مراعات په کې کیږی. د حمید ماشوخیل د مخمس دوه بندونه په لاندی ډول دی:

د هــــــجــــــران د لاســــه ناست یم ویر ژړلی — لــــــــکــــــــه بـــــت پـــــــه غـتو سترګو دم ختلی
بـــــیــــــهــــــوده په صورت روغ په زړه نتلی — بـــیــــــلــــتـــانــــــــه پــــه مرګی حال یم رسولی

ربه راولی اشنا په سفر تللی

یا له یار سره ولاړ وی په رکاب کی     یا یی مړاوی د هجران په اول تاب کی
یا ډوب مدام د اوښکو په سیلاب کی     حساب نسوم د یوی چاری په باب کی

هسی پاتی سوم بی آبه مخ ناولی

**۹ – مسدس:** هر بند یی شپږ شپږ مصرعې لری. لومړی شپږ مصرعی یو ډول قافیه لری په نورو بندونو کی لومړی پنځه مصرعې یو له بله، په قافیه کی سره یو شی وی مګر د شپږمی مصرعی قافیه د لومړی شپږو مصرعو پر قافیه باندی بنا وی. د شمس الدین کاکړ د مسدس دوه بندونه په لاندی ډول دی:

وخت د سحر دی مرغان چغیږی     جرس اواز کا زړه می لړزیږی
ستر ګی می غورځی بانو رپیږی     اثر د غم دی رامعلومیږی

کوم به د خبر به راورسیږی
د یار د تلو خبری کیږی

داخه عشق نه دی واړه ټګی ده     داصدق نه دی منافقی ده
دا اخلاص نه دی دغا بازی ده     دا یاری نه ده دا بیزاری ده

چی پر یار غم دی پر ما ښادی ده
بی حیا زړه دی زمانا وشرمیږی

**یادښت:** مسبع، مثمن او معشر هم عینی ډول اشعار دی مګر یواځی د مصرعو په تعداد کی یی توپیر سته چی په مسبع کی هر بند اوه مصرعی، په مثمن کی اته مصرعی او په معشر کی لس مصرعی وی چی عینی قوانین مراعاتوی

**۱۰ – ترجیع بند:** د ویلو ترتیب یی داسی دی چی لومړی څو بیتونه وویل سی، وروسته بیا یو بیت د دواړو مصرعو قافیه یی یو له بل سره یو شی وی مګر د نوموړو بیتو سره یی قافیه بیله وی ورولویږی او دغه بیت له هر بند سره تکراریږی. په ترجیع بند کی د هر بند د بیتونو شمیر غالباً د پنځو او لسو بیتو په منځ کی وی مګر پنځه بیته، اوه بیته او نهه بیته ډیر رواج لری او کله کله یی د بیتونو شمر تر لسو هم زیاتی وی. د ترجیع بند د ټولو بندونو د بیتونو شمیر باید مساوی وی. د پیرمحمد کاکړ د ترجیع بند یو بند په لاندی ډول دی:

ستا پر مخ پر تورو زلفو زه شیدا یم     صبح و شام په آه فغان په واویلا یم
په فراق کی دی تل خورم د ځیګر وینی     صبر و توان می بی تا نسته مبتلا یم
نن فلک راباندی تیغ د جورو کیښ     له سرو وینو ډک لړمون لکه حنان یم
رقیبان راسره جنګ و جدل کاندی     په دربار کی دی د سپیو مدعا یم
غزاله غوندی وحشی راخخه مسه     زه صیاد دی د دیدن په تمنا یم
که شل کاله دی مانی وی له ما یاره     بیګانه می هنوز مه ګڼه اشنا یم

له اشنا مکره مانی بی وفایی ده
چی سیخمین بی اوره جدایی ده

**۱۱ـ ترکیب بند:** له ترجیع بند سره صرف دومره توپیر لری چی په ترجیع بند کی کوم بیت چی وروسته تر هر بند راځی تکراریږی مګر په ترکیب بند کی وروسته تر هر بند وروسته یو بیل بیت چی بیله قافیه او بیله معنی لری راوړل کیږی او هم باید د ترکیب بند د بیتو شمیر په هر بند کی مساوی وی. د حمید د ترکیب بند دوه بندونه په لاندی ډول دی:

په منزل به یی سبا ګوره څوک مله وی     نه پوهیږم چی به ساده وی که به غله وی
په څه شان به شکسته زهیر په زړه وی     له نغمی به یی دزړه نغمه په خوله وی
دم قدم به یی خولی د مخ په وله وی     رانجه کړی به یی چا خاوری د پله وی

سزاوار د هر ستم د هر پیغور یم
چی می یار په سفر تلی زه پر کور یم

یا د یاره سره تللی په سفر وای     په هر ځای می غوړولی پری وزر وای
یا یی مړ د بیلتانه د غمه زر وای     یا په دواړو سترګو تپ ړوند په نظر وای
که دانه کیدای هرګزه، معتذر وای     خود به خود می ځان وهلی په خنجر وای

هسی پانی سوم تر یار پوری مخ توری
په جرګه د عاشقانو کی کور ګوری

# بـــیـــان

بیان په لغت کی ایضاح او ځرګندولو ته وایی او په اصطلاح کی هغه پوهنه ده چه د هغی په ذریعه کولای سو چه یو مضمون په بیلا بیلو عباراتو کی بیان کړو او په مختلفو قالبونو کی یی واچوو. مثلاً که موږ وغواړو چه د زلمی زړه ورتیا بیان کړو نو په لاندینیو بیلابیلو عباراتو کی دا مطلب ځرګندولای سو:

۱- زلمی د زمری په شان زړه ور دی
۲- زلمی په زړه ورتوب کی زمری دی
۳- زلمی زمری دی
۴- زلمی د زمری شیدی رودلی دی

او داسی نورو عباراتو کی یی کولای سو.

د بیان علم له دری شیانو څخه بحث او څیړنه کوی: تشبیه، مجاز او کنایه

## تـشـبـیـه

که یو شی له بل شی سره د هغه مشترک وصف په وجه چه ددوی په منځ کی پروت دی مشابه سی، تشبیه بلل کیږی. لکه په دی بیت کی:

خـــپـــل عـــمـر شـــپی او ورځی چه په زړه کړم　　　هـــســی درومــی چــه ګویا د سیند اوبه دی

په پورتنی بیت کی عمر مشبه او د سیند اوبه مشبه به بلل کیږی، تیریده ددوی په منځ کی یو مشترک وصف دی چه شاعر په همدغه وجه خپل عمر دسیند له اوبو سره تشبیه کړی دی.

**دتشبیه غرض:** دتشبیه غرض اکثره و مشبه ته راجع کیږی نو کله د تشبیه څخه غرض د مشبه د حال بیان وی ځینی وخت یی مقدار، ښکلا، ښه والی، بدوالی یا داسی نوری خواوی په نظر کی نیول کیږی. مثلاً په دی بیتونو کی دتشبیه غرض د مشبه د حل بیان دی:

لـــکـــه ونښلیږ مرغیږ په سست دام دسلو لومو　　　هسی زه پریشانو زلفو کښی یستم په کشاله کی

هـــســـی کـــار پـــه مـــا د تـــرکو خندا وکړ　　　لـــکه ووژنـــی یـــوبـــل پـــه مسـخرو کی

**دتشبیه دوی خواوی:** تشبیه دوی خواوی لری یوه خوایی مشبه او بله خوایی مشبه به وایی چه تشبیه د دوو خواوو په لحاظ پر دری ډوله ده:

**الف- مرکبه او مفرده تشبیه:** د تشبیه یوه خوا مرکبه او بله مفرده وی یا داچه دواړه خواوی مرکبی یا مفردی وی نو ځکه په دی برخه کی څلور ډوله تشبیه راځی:

**الف۱--** چه مشبه مرکب او مشبه به مفرد وی لکه په لاندی بیت کی:

ښـــه اتـــکل دی وکـــړه نـــشته ځای د فریاد چاته

لـــکـــه شمع پټه خوله ځه په ژړا له دی محفله

په دی بیت کی پټه خوله ځه په ژړا مشبه او شمع مشبه به دی چه مشبه ترکیبی شکل او مشبه به مفرد شکل لری:

**الف۲--** چه مشبه مفرد او مشبه به مرکب وی لکه په لاندی بیت کی:

آه مـــی لـــکـــه دود لـــه درد وسوزه تر خوله وخوت

چـــتـــر مـــی پـــرســـر شو ســـایـــبـان راسره درومی

په پورتنی بیت کی آه مشبه او مفرد دی او دود په داسی حال کی چه د مین له خولی څخه راوتلی دی او وروسته بیا له هغه څخه چتر او سایبان جوړ سوی دی او دمین پر سر درومی یو ترکیبی حال لری

**الف۳--** چه مشبه او مشبه به دواړه مرکب وی لکه په لاندی بیت کی:

رنـــګ د مـــخ دی پـــه عـــرق کـــی نـــمـــایان دی　　　د ګـــل عـــکـــس ځـــرګـــنـــدیـږی پـــه شـــبـــنم کی

په پورتنی بیت کی د مخ رنګ په عرق کی مشبه او ګل عکس په شبنم کی مشبه به دی او دواړه مرکب دی.

**الف۴--** چه مشبه او مشبه به دواړه مفرد وی لکه په لاندی بیت کی:

عـــاشـقـــان یـــی د دنـیـــا لـــه غمه خلاص کړه عـــاشـقـــی د سـلـیـمـان پـاچـا غـمـی دی

په پورتنی بیت کی عاشقی مشبه او د سلیمان پاچا غمی مشبه به دی چه دواړه مفرد راغلی دی.

**ب- عقلی او حسی تشبیه:** عقلی تشبیه هغه ده چه د عقل په واسطه سړی پری وپوهیږی او حسی تشبیه هغه تشبیه ده چه د حواسو په واسطه یی پیژندنه کیږی یا په بل عبارت که مشبه او مشبه به خارجی وجود ولری حسی او که نه وی عقلی بلل کیږی لکه په لاندی بیت کی:

بـیـهـوده پـیـرمـحـمـد دروهـــی پـــه سـنـــګ نـــصـــیـــحـــت پـــر ســـنـــګـیندلو اثر نکړی

په پورتنی بیت کی نصیحت مشبه او در مشبه به دی نصیحت کوم خارجی وجود نه لری او دُریی لری. نو ځکه موږ وایو چه په دی تشبیه کی مشبه عقلی او مشبه به حسی دی. په عقلی او حسی تشبیه کی کله یوه خوا عقلی او بله حسی وی او کله بیا دواړه خواوی عقلی یا حسی وی نو ځکه په دی برخه کی هم څلور ډوله تشبیه راځی:

**ب۱--** چی مشبه عقلی او مشبه به حسی وی لکه د عبدالقادر په بیت کی:

خیال یـــــــــــــی چی په زړه کی د رخسار ساتم همیش
دننه پـــــــــــه ګـــــــــــوګل کی ګویا نار ساتم همیش

**ب۲--** چی مشبه حسی او مشبه به عقلی وی لکه د میرزا خان په بیت کی:

مقصود یـــــو دی پـــــــــــه کعبه په بتخانه کی که سپین مـــــــــــــخ د یار اسلام زلفی کفار هم

**ب۳--** چی مشبه او مشبه به دواړه عقلی وی لکه:

ښه لیده او ښـــــــــــــه آواز د روح خـوراک دی ځکه هیڅوک مـــــــــــــــــــاړه نشو په لیدو

**ب۴--** چی مشبه او مشبه به دواړه حسی وی لکه د رحمن بابا په بیت کی:

لکه ګل چـــــــــــــــی څوک د طفل په لاس ورکا هسی رنـــــــــــګ دی زما زړه کړ شوک په شوک

**ج- د تعدد په اعتبار د دواړو خواوو ډولونه:** د تعدد په اعتبار هم د تشبیه دواړی خواوی پر څلور ډولونو باندی ویشل کیږی: ملفوفه، مفروقه، تسویه او جمع. چی هر یو یی په لاندی ډول دی:

**ج۱-- ملفوفه:** ملفوفه تشبیه هغی تشبیه ته وایی چی لومړی خو مشبه ذکر سی او وروسته بیا د هر مشبه لپاره مشبه به راوړه سی لکه د علیخان ختک په بیت کی:

توری زلفـــــــــــــی سپین رخسار ورځخه غواړم ځکه خدای تـــــــــــــــه لاس په شام و سحر نسیم

**ج۲-- مفروقه:** که په یو بیت یا یوه مصرع کی څو مشبه به راوړل سی مفروقه تشبیه بلل کیږی لکه د رحمن بابا په بیت کی:

مخ دی اور خـــــــــــــــط دی سبزه ده زه حیران یم چی سبزه پـــــــــــــــه اور کی څنګه زرغونیږی

**ج۳-- تسویه:** چی د دوو یا څو مشبه دپاره مشبه به راوړه سی لکه د میرزا حنان په لاندی بیت کی:

دا پر مخ یـــــــــــــی خال وخط زلفی نه دی تور اطلس یـــــــــــی پـــــــــــر کعبه دی غوړولی

**ج۴-- جمع:** په دی ډول تشبیه کی د یو مشبه لپاره څو مشبه به راوړل کیږی لکه د رحمن بابا په لاندی بیت کی:

هغه سترګی چـــــــــــــــی نرګس و هم بادام دی تیری تـــــــــــــــــــــــوری دی زما په قتلولو

## د تشبیه ادات

هغه توری چی پر تشبیه باندی دلالت کوی د تشبیه ادات بلل کیږی لکه: (غوندی، لکه، څیر، دود، شان، ته به وایی، ته وا، سیال) او داسی نور. تشبیه د اداتو له مخی پر دوه ډوله ده:

**مرسله تشبیه:** هغه تشبیه ته وایی چی ادات پکښی ذکر سوی وی لکه:

یوه ورځ بـــــــــــــه بندیوان د باز په څیر سی چی دی شام او ورځ خوراک ســـــــو د قام غوښی

**موکده تشبیه:** هغه تشبیه ته ویل کیږی چی ادات پکښی نه وی ذکر سوی او دغه تشبیه پر دوه ډوله ده:

**الف:** اول ډول هغه تشبیه ده چی صرف ادات نه وی پکښی راغلی لکه د رحمان بابا په بیت کی:

خدای وما تـــــــــــــــــه ګلونه د جنت کړی که داغونه می پـــــــــــــــــه زړه باندی صنم ږدی

**ب:** بل دا ډول تشبیه ده چی سربیره پر دی چی ادات پکښی نه وی راغلی بلکی مشبه او مشبه به پکښی مضاف او مضاف الیه راغلی وی لکه:

و ناوک تـــــــــــــــه د مژګانو دی هدف کړم په سینه مـــــــــــــــــــــی د زخمونو حساب نسته

په پورته بیت کی یو خو ادات نه دی راغلی بل داچی مژګان مشبه دی دلته مضاف راغلی او ناوک مشبه به دی او دلته مضاف الیه راغلی دی

## مـــجـــاز

مجاز په لغت کې و اجازه ورکړه سوی ته وايي او د زړورتوب او تجاوز په معنی هم راغلی دی، د بیان د پوهانو په اصطلاح کې یو لغت د خپلې اصلي او حقیقي معنی څخه تجاوز وکړي او د بوی غیر وضعی معنی لپاره راوړل سی مجاز بلل کیږی. مثلاً که مونږ زلمی ته خطاب ورکړو چې راسته زمریه نو کله چې موږ دزمري کلیمه د زلمی دپاره استعمال کړه نو دا مجاز بلل کیږی. مجاز پر دوه ډوله دی: مستعار مجاز او مرسل مجاز

**۱- مستعار مجاز (استعاره):** استعاره په لغت کې عاریت غوښتلو او په اصطلاح کې د غیر حقیقي معنی لپاره د کوم لفظ استعمالولو ته وایی په دی شرط چی د حقیقي او مجازی معنی تر منځ د تشبیه علاقه موجوده وی

**د استعاری او تشبیه تر منځ توپیر:** لاندی بیتو ته پاملرنه وکړی:

د پرکار پـــــــــــــــه دود پر سر باندی څرخیږم د اشنا له هجره هـــــســـــــــــــی سرګردان سوم
د یار خیال چـــــــــــــــی راولی د زړه تر کوره په قدم کی یـــــــــــــی ګوهر له سترګو توی کړه

په لومړی بیت کی شاعر خپله مشبه او پرکار مشبه به دی مګر په دوهم بیت کی ګوهر د اوښکو دپاره یو مجاز کلیمه ده چی استعاره راوړل سوی ده. د استعاری او تشبیه تر منځ توپیر په لاندی نقاطو کی دی:

الف- په تشبیه کی مشبه او مشبه به دواړه باید ذکر سی او په استعاره کی یوازی مستعارمنه ذکر سی او که مستعار له راوړل سی نو د مستعار منه د لوازمو څخه هم یو شی باید راوړل سی

ب- په تشبیه کی د مشبه او مشبه به ترمنځ مشترک وصف ته وجه شبه وایی او په استعاره کی یی وجه جامع بولی. په تشبیه کی کله کله وجه شبه او ادات راوړل کیږی مګر په استعاره کی وجه جامع نه راوړل کیږی او ادات بیخی وجود نه لری

ج- په تشبیه کی د قرینی راوړلو ته ضرورت نسته او په استعاره کی قرینه باید هرومرو راوړل سی

**د استعاری ډولونه:** استعاره زیات ډولونه لری چی یو څو یی په لاندی ډول دی:

**مصرحه استعاره:** هغه استعاری ته وایی چی مستعار له حذف سی او یوازی مستعارمنه راوړل سی چی دا دول استعاره په پښتو کی په زیاته پیمانه استعالیږی لکه د کاظم خان شیدا په بیت کی:

خپلې توری دی پـــــــــــه چا دی نن سری کړی چی لیده سی بیا پـــــــــــــــــــه سرو وینو ککړی
په پورتنی بیت کی توری د سترګو معنی لری

**مکنیه استعاره:** هغه استعاری ته ویل کیږی چی شاعر مستعار له ذکر کړی او مستعار منه حذف کړی مګر د مستعار منه له متعلقاتو څخه کوم شی راوړی ځکه چی په دی ډول استعاره کی مستعار منه له خپلو متعلقاتو څخه پیژندل کیږی لکه د رحمن بابا په بیت کی:

هر ساعت زما د غوږ پـــــــــــــــــه تاوولو د فلک لاسونه شنه سوه تـــــــــــــــــــــــر څنګلو
په پورتنی بیت کی فلک د ظالم سړی دپاره استعمال سوی دی یعنی مستعارله (فلک) او مستعار منه (سړی) لاس چی د مستعار منه (سړی) د متعلقاتو څخه شمیرل کیږی دا څرګنده کړه چی مستعارمنه سړی دی

**اصلیه استعاره:** هغه استعاری ته ویل کیږی چی شاعر په خپل کلام کی کوم جامد اسم استعاره کړی لکه:

راښکاره یـــــــــــــــــی نکړه هیڅ د لبو لعل تویوم که لـــــــــــــــــــــــه چشمانو مرغلری

**تبعیه استعاره:** هغه استعاری ته وایی چی د مستعار لفظ جامد اسم نه وی په کی راغلی بلکی فعل حرف یا مشتق اسم په کښی استعاره سوی وی لکه د ښکارندوی غوری په بیت کی:

هر پلورنی ولـــــــــــــــــــــی بهاندی خاندی له خوبنیه سروهی لــــــــــــــــــــــــــه سنګرونه
په پورته بیت کی (خاندی) یو فعل دی چی د اوبو د شرهار دپاره یوه استعاره راوړل سوی ده

**مطلقه استعاره:** هغه استعاری ته ویل کیږی چی د مستعارله یا مستعارمنه له متعلقاتو څخه کوم شی نه وی پکښی ذکر سوی لکه د رحمن بابا په بیت کی:

د دیدن پـــــــــــــــــــــــه ګدایی کی ننګ نسی درویزګر یم د بتانو پـــــــــــــــــــــــه بازار ګډ
په پورتنی بیت کی (بتان) د ښکلو دپاره استعمال سوی دی

**مرشحه استعاره:** هغه استعاره ده چی د مستعارمنه له متعلقاتو څخه کوم شی ذکر سی لکه د پیرمحمد په بیت کی:

ستا د غشو له پــــــــــــــرهاره به روغ نسم چې وشتلی دی پـــــــــــــه زړه لکه خنجریم
په پورتنی بیت کی غشی د بانوګانو لپاره استعاره سوی دی وشتل او پرهار چی د (غشی) یعنی مستعارمنه له متعلقاتو څخه دی هم ذکر سوی دی
**مجرده استعاره:** هغی استعاری ته ویل کیږی چی د مستعار علایم او متعلقات راوړل سی لکه د پیرمحمدکاکړ په لاندی کی بیت کی:

پریشانی مـــــــــــــــی د خاطر ورځنی پاځی چی سنبل سی پـــــــه سپین مخ باندی پریشان ستا
سنبل د زلفو دپاره استعال سوی ده یعنی سنبل مستعارمنه او زلفی مستعار دی
**۲- مرسل مجاز:** که د حقیقی او مجازی معنی تر منځ د تشبیهی علاقه نه وی او د سببیت، مسببیت، ظرفیت، مظروفیت یا داسی نوری علاقی موجودی وی نو مرسل مجاز بلل کیږی، لکه په لاندی بیتو کی:

راته وکړه پــــــــــــه دی سرو شونډو بیان لړ دا زما پـــــــــــــــــه اوړو واچوه احسان لړ
که آهو می د عصمت پـــــــــــه وینو رنګ ده ماته کړی یـــــــــــــــــــی مری د غم زمری ده
که ماته پـــــــــــه شنو کانو کړه وران نسو هغه ښکلی د حسین پـــــــــــــــــــه ککری ده
په لومړی بیت کی شونډی ذکر سوی دی مګر مطلب ځنی ژبه ده ځکه چی بیان په شونډو سره نه کیږی او د شونډو او ژبی ترمنځ د مجاورت او ګاونډی توب علاقه پرته ده نه د تشبیه علاقه، د دوهم بیت په دویم مصرع کی مری ذکر سوی ده مطلب ځنی مغزی دی ځکه چی مغزی ماتیدل په پښتو کی یوه ډیره مشهوره اصطلاح ده او د مری ماتیدلو محاوره په پښتو کی نسته نو ځکه مری ذکر سوی ده او مراد ځنی مغزی دی، مری او مغزی هم د تشبیه علاقه نه لری بلکی د ګاونډیتوب او مجاورت علاقه لری
مرسل مجاز زیاتی علاقی لری چی له هغوی څخه یی ځینی په لاندی ډول دی:
**مجاورت:** هغه علاقه دی چی یو شی یاد سی او مراد ځینی د هغه مجاور او ګاونډی وی لکه په پورته بیتو کی
**سببیت:** چی سبب ذکر سی او مراد ځینی مسبب وی لکه د حمید ماشو خیل په لاندی بیت کی:

هسی موړ کړم د یار غم لـــــــــــه خپله عمره چی پـــــــــــــه حلق کی می اوبه د حیوان نښلی
په پورتنی بیت کی له موړ څخه مطلب بیزاری ده ځکه چی د یار غم شاعر له خپل عمر څخه بیزاره کړی دی او موړ سبب بیزاری دی چی دلته شاعر د بیزاریَ مطلب ځینی اخستی دی
**مسببیت:** هغه دادی چی مسبب ذکر سی مطلب ځینی سبب وی لکه د میرزا حنان په بیت کی:

هیڅ خبر مـــــــــــــی بیا د ورک یوسف رانغی که یعقوب رنګه مـــــــــی شو واړه مژګان سپین
په پورتنی بیت کی (ژړا) چی د مژګانو د سپینوالی سبب ګرځی نه ده راغلی او سبب چی د مژګانو سپینول دی پکښی ذکر سوی دی نو ځکه مسبب بلل کیږی
**کلیت:** چی کل ذکر سی او مراد ځینی جز وی لکه د رحمان بابا په بیت کی:

چا پیژندم زه چـــــــــــــــی عاشق نـــــــــــــــه وم په جهان کی
اوس مـــــــــــــــــی ستاله رویه نوم رسوا په درست جهان دی
په پورتنی بیت کی جهان ذکر سوی دی مقصد ځینی یوازی د رحمان بابا د مسکن شاوخوا او ځینی نور محدود ځایونه دی چی ټوله نړی اصلاً نه ځینی مرادیږی
**جزئت:** چی جز ذکر سی او کل ځینی مراد سی لکه د پیرمحمد کاکړ چی د لاس څخه یی مطلب ټول بدن دی:

آه افسوس بـــــــــه څه رنګ زه پیرمحمد نه کړم چی نه زړه لرم پـــــــــــــــــه لاس کی نه دلبر
**ظرفیت:** چی ظرف ذکر سی او مراد یی مظروف وی لکه په لاندی بیت کی چی د دیګ څخه خواړه مطلب دی:

رقیبان دی می پـــــــــــــــــه آه پوری نه خاندی د مردانو دیګ پخیږی پـــــــــــــــــه مهال پس
**مظروفیت:** چی مظروف ذکر سی مقصد یی ظرف وی لکه د عبدالقادرخان په بیت کی:

په رویمال مـــــــــی اوښکی وچـــــــــی کـــــــړی داد راکـــــړی
زه فـــــــریـــــــاد کـــــــــــرم تـــــــــــه زما پـــه دلاسا سی
په پورتنی بیت کی اوښکی مظروف او سترګی ظرف دی چی مظروف ذکر سوی دی مراد ځینی ظرف دی یعنی سترګی وچیږی نه اوښکی

## کـــنـــایـــه

که کوم مطلب ادا سی او صراحت پکښی نه وی راغلی یعنی معنی یی ښکاره او معلومداره نه وی کنایه ورته

وايي. کنايه پر درې ډوله ده: د صفت، موصوف او نسبت څخه کنايه چې هره يوه يې په لاندې ډول ده:

**له صفت څخه کنايه:** چې له کنايي څخه صفت مراد سي لکه د حميد ماشو خيل په بيت کې:

درويزه لــــــــــه درويـــــزه ګره ناکسی ده          د فلک کچکول تـــــــــه مـــــــــه نيسه کچکول

په پورتنی بيت کې د کچکول نيولو څخه مطلب ګدايي ده او ګدايي صفت دی چې دلته له کنايي څخه مراد دی

**له موصوف څخه کنايه:** چې د کوم شي يو يا څو صفتونه راوړل سي او مراد ځينی پخپله موصوف وی لکه زرغون خان چې په لاندې بيت کې د شرابو صفت ذکر کړی دی او مطلب يې شراب دی:

اور مې بل د زړه پــــــــــه کـــــور کــړه          له هرچا هـــــــــــر څـــــــــه يې تور کړه

**له نسبت څخه کنايه:** له نسبت څخه کنايه داده چې يو يا څو صفتونه ذکر سی او د سړی متعلق يې نسبت وسی مګر مقصد ځينی د هغه امر نفی يا اثبات وی پخپله د سړی دپاره لکه د خوشحال خان خټک په بيت کې:

ته چـــــې ماتـــــــــه وايي وايه څوک دی وژنی          تـــــه لـــــــــه خپلو سترګو غـــــــواړه دا جواب

په پورتنی بيت کې د وژلو نسبت د معشوقی و سترګو ته سوی دی، سترګی د معشوقی يو متعلق دی چې د کنايي په توګه پخپله معشوقه ځينی مرادېږی

# لغاتونه

د پښتو لغاتونه د تعلیمی نصاب د کتابونو پر اساس ترتیب سوی دی چی لغاتونه د اووم ټولګی د پښتو څخه شروع سوی دی او تر دولسم ټولګی پوری دوام لری او پر هر صنف کی د هر عنوان لغاتونه جلاجلا لیکل سوی دی مګر د کار د هوسایی دپاره د هردرس عنوان نه بلکه د هغه درس صفحه لیکل سوی ده.

## د اووم ټولګی د پښتو لغاتونه

### حمد

تسبیح =حمد = صفت کول = ثنا
ملک =ملایکی،=د کلی خان، =مال او دولت
مثل =ساری
معرفت =شناخت = پیژندل = پیژندګلوی
منزه =پاک
مکان =ځای
نمایان =څرګند = ښکاره = عیان
جهت =طرف

### نعت

نعت =د حضرت محمد (ص) صفت کول
العالمین =عالمین = د عالم جمع
ثانی =دوهم
خاتم النبین =د نبیانو ختم کوونکی
نورالیقین =د یقین رڼا
عظیم =لوی
امین =امانت کار
مشرک =هغه څوک چی د الله (ج) سره شریک نیسی
شفیع =شفاعت کوونکی
مذنبین =ګناهکاران
بعث =ژوند
بعدالموت =د مرګ وروسته
حیات =ژوند
ظاهربین =هغه څه چی په ښکاره معلومیږی
سنګین =دروند
الفت =مینه = محبت

### د غازیانو کور

اتلولی =قهرمانی
سپیتانه =سپیتوب
باج =قلنګ = مالیه
شرمښ =لیوه
هوساینه =ارامتیا
اسارت =غلامی، =بندیتوب

### احمدشاه بابا

موســـس =تاسیس کوونکی= اساس اینښودونکی
خرقه =زړه جامه، =چپنه، =هغه کالی چی دیری پینی ولری، =هغه کالی چی د ډول ډول ټوکرانو څخه جوړ سوی وی

### د سولی ترانه

ګلشن =د ګلونو ځای
لر =لری = لیری
بر =نږدی، =وچه
زیر و زبر =میده میده

### املائی لارښوونی

مهلت =وخت
بیلتون =جدایی

### ترانه

عرفان =علم
عهد =پیمان = وعده

### قوی او ضعیف

تقاضا =غوښتنه
کبر = بدکاره = بُزدل
ترسا =عیسوی = مسیحی = نصرانی، =راهب، =عیسوی دینه
تحمیل =تحمل = حوصله
عاطفه =مینه = محبت
لطیف =نرم
غریزه =فطرتی شی، طبعی شی لکه عقل چی په انسان کی وی یعنی عقل د انسان غریزه ده

### له غوره نثرونو څخه

ارتزاقی =هغه څه چی رزق ځینی ترلاسه کیږی
بربنډ =لڅ
اسعار =پیسی
رفا =آسایش = هوسایی
سعادت =نیکبختی = خوشبختی
اجتماعی =ټولنیز
مادیات =مال او دولت
مدهش =وهشتناک
دهشت =هیبت = بیره

پرهار =تپ
صدمه =ضرر = تاوان
خادم =خدمت کوونکی

### د رحمن بابا د کلام نمونه

نامتو =نامور = لوړ نومه
ابتداء =شروع
مفصل =پرله پسی، =مکمل
صوفی = د تصوف او طریقت پیرو، =د ورینو جامو اغوستونکی
فنا =پټ
محبوب =ګران
تخمین =اټکل
دیوان =د شعرونو کتاب
سلیس =ساده
تصوف =صوفی توب
مدام =تل = همیشه
جو دانه =د اوربشی دانه، =د اوربشی د دانی په اندازه
حیله =چل = فریب = مکاری = مکر
تـتو =بار وړونکی خر
منصفی =انصاف
غفلت =تنبلی
سد = هوښ = عقل، =دیوال، =خنډؤ
=د توپک په میل کی تاوراتاو دیوال

### حکایت

قاصد =خبر وړونکی

### پښتو متلونه

مفهوم =مطلب
استدلال =دلیل
افکار =فکرونه
تائید =هوکړه
شفاهی =په خوله ویل
برګی =ټکی
پړ =ملامت
موجب =وجه = سبب
تورزن =توریالی = میړنی = غښتلی
جوته =ښکاره
پری =رسی
میری =دښمنی
کبر =تکبر = غرور = لویی

### اخلاص

مخلص =اخلاصمند
الهام =غیبی آواز

حلاوت =خوږ والی
ساقی =جام وړونکی
همای = یو خیالی مرغه دی
صیاد =ښکاره
مِهر =مینه = محبت
هنګام =وخت

### حضرت سعد بن ابی وقاص (رض)

سوګند =قسم
کړاوونه =تکلیفونه

### مذکر او مؤنث

سماعی =هغه څه چی اوریدل کیږی
معنوی =معنی لرونکی = د معنی څخه ډک

### یرغلګر ته

توکیدل =زرغونیدل = شنه کیدل
اوبه خور =اوبول

### چی ګټل خوړل بخښل کا څوان هغه

حبطه =چټی = بی ښی = عبث، =زهیر = ضعیف
خوان =دسترخوان

### د وخت ارزښت

حضور =حاضر
اُخروی =په آخرت پوری مربوط شیان
خوشی =ایله
مبادا =خدای دی نه کوی، =داسی نه چی

### وطن وایی

اکسیر =کم پیداکیدونکی
افسانه =هغه د درواغو قیصه چی رښتیا نه ورته وی
بڼ =باغ
وحدت =یو والی

### د حضرت حسن بصری (رح) له وینا څخه

آفت =بدبختی
غندل =بد ویل
فاسق =فسق کوونکی

### تاته راشمه زړګی زما فارغ شی

متاع = مال او اسباب

### د زوی روزنه

نخل =درخته
رطب =میوه
حبطه =چټی = بی ښی = عبث، =زهیر = ضعیف
مجرب =تجربه سوی، =موثر = ګټور
جلب =جلو = قبضه
مګس =مچ

ناکس =هغه شخص چې څوک نه لري
بویه =لازم وګڼه

## یو ځنګلی سړی

جویه =ډله
هوس =هیله = آرزو

## حقایق

عروج =لوړیدل
جهد =کوښــښ
تعبیر =نصیب، قسمت، =معنی = مطلب
ګونګړ =یو ډول قیمتی ماده ده
حاسد =کینه کوونکی = بغض کوونکی
طامع =طمع کوونکی

## د بدنیتی نتیجه

کرم =ملامت

## د اسم حالتونه

صادریدل =وتل = خارجیدل
مضاف =اضافه سوی
مضاف الیه =پر ده اضافه سوی

## د اسم لفظی حالتونه

مفتوح =په زور ( َ ) سره ویل
فتحه =زور ( َ )
نداء =ږغ = آواز
مختوم =ختم
موصوف =صفت کړل سوی

## علامه سید جمال الدین افغاني

ذکی =ذهین = هوښیار
مروجه =رواجي
ښکیلاک =استعمار
استعمار =تر لاس لاندی = په قبضه کی
مطلق العنانه =تش په نامه آزاد
محرر =نویشته کوونکی
اخوت =وروروړلی
داعی =دعوه کوونکی
پرتمین =شانداره = عالی = لوړ مقامه

## علم او دانش

سود =فایده
ګوهر =اصلیت
مبتلا =ګرفتار = اخته
باوی =د باو ناروغ = په باو اخته
پیش بینی =لرلیدنه = د پیښی دمخه د پیښی په باره کی ویل
فردا =سبا
عهده =حد او اندازه

مدح =صفت

## په اسلام کی د کار ارزښت

مجال =جرئت
تأمین =په امن کی
تأکید =ټینګار
خلل =تاوان = ضرر

## رښتیا ویل

مکارم =فضایل = بهتروالی
مذمت =غندنه = دچا بد ویل
پتمن =عزتمند
مهذب =متمدن = پرمختللی
بقا =پرمختګ
تقوی =تقوا = پرهیز ګاری
ژمنه =وعده
سدید =درست او محکم
تولنیز =اجتماعی
پریکنده =قاطع
بقا =پایښت

## ناپوهي رنځ دی

درمان =دارو = درمل
ځان ځانی =بی اتفاقی
قام =قوم

## مرســـته

تعاون =مرسته = کومک
زوال =کښته کیدل

## د علماؤ فضیلت

پیشوا =رهبر
کیمیا =ځیرکی، =دارو = دوا
همدمی =ملګرتوب
مُردګان =مړی = مړه
مسیحا =ساتونکی
اولیاء =ولیان = الله (ج) ته نږدی کسان
حلقه بګوش =غلام
اعلی =لوړ درجه
اوسط =منځنۍ درجه
ادنا =کښته درجه
وقار =عزت

## طـمـــع

دُر =ملغلری
صدف = یو ډول سپین د اوبو ژوندی موجود دی چې ملغلری ته ورته دی
طاعون =د اوبا مرض

## لـــنــــډی

ځروبی =ابشار

پردیس =جلا وطنی
سلیس =ساده
عروض = د شعر میزان
حماس =جنګ

### مسلم ته خطاب

ترقی =پرمختګ
دیار =ملک = هیواد = ځای
محبوب =ګران
ګلغذار =د ګلانو ځای
اقتدار =واک = قدرت
صدیق =صادق = ریښتنی
اوصاف =صفتونه

### د تنقیط علامات

عطف =نرمی
انفصال =جلا والی
مشابه =ورته = یو ډول
وقفه =دریدل
شارحه =د تشریح علامه ( : )
تفصیل =شرحه = تشریح
حسد =کینه = بغض
معترض =عرض کوونکی
تفریقیه =جلا کوونکی
مقوله =قول سوی
استفهام =فهمول = پوهول
تردید =تهدید
انصراف =د لاری ځخه اوښتل
محذوف =حذف سوی = د منځه وړل سوی

### لږ ویل ډیر کار کول

زیست =ژواک
تپاک =حرص، =ناقراری = تلوسه،
=خاطر = مدار = عزت
تمکین =قدرت
بلغاک =چیغی = غالمغال
ادراک =درکونه

### د ژوند د چاپیریال لنډ تاریخ – سوله

مه =لړی او دوری
پدیده =واقعه = پیښه
اعلامیه =خرګندونه = خبرونه
بوره =زوی مړی = هغه ښځه چی زوی یی مړی سوی وی
نیمزالی =د پاخه عمر خاونده = چټه پیغله = د پاخه عمر پیغله
ستایل =صفت کول

توکی =اجزاء = مواد
پایله =نتیجه
روږد =معتاد = عادت
ونده =برخه
بدمرغه =بدبخته

### مناجات

مناجات = دعاء، =هغه نظم چی دالله (ج) تعریف پکښی شوی وی
ستم =ظلم
عظمت =لویوالی
ذلت =خواری
غفلت =تنبلی
آفت =بدبختی
غلیم =دښمن
اسیر =بندی

## د اتم ټولګی د پښتو لغاتونه

### حمد

تصور =فکر
ماورا =اخوا
کیف =خرنګوالی
سوا =بغیر
قلیل =لږ
معلول =ګکړ، =ګډ، =محلول
علیل =د علته ډک
تجلی =روښنایی
مجهولات =نامعلوم شیان
مننه =منل، =تشکر
معرفت =علم
اهل =وړ = لایق
تضرع =زاری
ماعرفناک =مونږ پیژندلی نه یی
الفت =مینه = محبت

### نعت شریف

سنګریزی =کوچنی ډبری
صنم =بت، =معشوقه
عصا =لکړه
عرش =تخت
ناقه =اوښه
لوح =تخته = لوحه
رضوان =نعمتونه، =دجنت نوم دی
ثمر =میوه
عجم =هغه خوک چی عرب نه وی

ستنه =تکیه = تکیه گاه، =پایه = ستون
وصال =وصل کیل = یو ځای کېدل

## د یونس بن عبید (رض) تقوی

مزایاء =مزی
اساسات =بنسټونه
اعرابی =صحرایي عرب = هغه عرب چې په صحرا کې ژوند کوي
رذیل =ذلیل کول = بې عزته کول

## خدایه!

اعتقاد =اعتماد = باور
مبری =لیری، =پاک
ریاء =ځان ښودل
مخلص =اخلاصمند
افضل =بهتر
مصؤن =ساتل سوی
کدورت =گرد، =کینه = بغض
ململ =پاک، =یو ډول جامې دی
خاصان =خاص خلک
مردود =رد کړل سوی
اجل =وخت

## په پښتو کې د پردیو لغاتو قانون

مصدر =د وتلو ځای
مفاهمه =پوهیدل = سر خلاصول
توقع =ارزو = اُمید
ترفیع =پورته کیدل، =پرمختګ
جستجو =تلاش = پسې گرځیدل = کوښـښ
دانشگاه =د علم ځای، =پوهنتون
رباعی =څلور بیته شعر
مثنوی =دوه بیته شعر
اعتدال =مساوات = برابری
تعصب =کینه = بغض
مفتوح =په زور ( َ) سره ویل سوی
فتحه =زور ( َ)
مناظره =منظره
ذبح =حلالول
التجاء =تقاضا = غوښتنه
نداء =آواز
ربرول =خوارول = زوروول
مباحثه =بحث = خبرې اترې

## وطن

شوم =بدبخته = بدمرغه
تسخیر =قبضه کول

## ضمیرونه

استفهام =فهم
مبهم =نا معلوم
ربطي =ارتباطي
متکلم =خبری کوونکی
مخاطب =غوږ نیوونکی
متصل =پیوست
منفصل =نا پیوست
متعدی =د حد نه زیاتیدونکی، =هغه فعل چې مفعول غواړي
ماضی =تیره زمانه
مفعول =هغه شی چې کار پر اجراء کیږي
استقبال =آینده
مستقل =خپلواک = آزاد

## قربانی

طاغوت =ابلیس = شیطان
سباوون =سهار
میمون =مسعود = نیکبخت
اسارات =غلامي، =بندي توب

## متلونه

کوټک =لرگی
تأمل =فکر

## غــزل

مستغنی =بې پروا، =غني = شتمن
سیم =سپین زر
بیهوده =بې معنی
جوادانه =د اوربشی دانه، =د اوربشی د دانې په اندازه
آفتاب =لمر
خرقه =زړه جامه
پټکی =پټو

## د لیک نښې نښانې

گرانی =مشکلات
عطف =نرمي، = مهرباني
ترونی =کامه = چپه پیښ (،)
شرح =تفصیل = تشریح = معلومات
تپوسنی =سوالیه علامه (؟)
خوځکی =ندایه علامه (!)
سم سمی =مساوات (=)
کونتی =تاو سوی
لیندی =قوس = )

## نصیحت

کوکاری =چیغې
استغفار =توبه کښل
نار =اور
حباب =د اوبو کوبی یا پوکانه

الابلا =خیانت، =فریب
عقبی =آخرت
تضرع =زاری
ناړه =حبوبات
په دریمه شپه کی=د شپې په دریمه برخه کی
معرفت =پیژندنه

## زره مه ماتوه!

طفلانه =د کوچنی په ډول
ناسنجیده =نه سنجول سوی
ثروت =دنیا = دارایی
ستمدیده =غم لیدلی = هغه څوک چې غمونه یې لیدلی وی

## غــزل

شگفته =خوشبو
خلل =علت، =تاوان = ضرر، =خالیگاه
خلل پذیر =تاوان منوونکی
آسیب =مصیبت = غم
پیشه =کار
کندیر =د زهرو گل
شهد =عسل = دمچمچیو تولیدات
دستار =پټو

## استفهامی او ربطی ضمیرونه

مرجع =خبری کوونکی = برخمن = برخه وال

## لوړ همت

طامع =طمع کوونکی
سیم و زر =دنیا = دارایی
صدف =یو ډول سپین د اوبو ژوندی موجود دی چې ملغلری ته ورته دی
دُر =ملغلری
نا اهل =نا اهله = نا لایقه
گنج =ذخیره
سرخروی =سرلوړی
زیست =سروکار = روزگار
مشرک =هغه څوک چې د الله(ج) سره شریک نیسی
توکل =باور
توحید =یو والی
دار مدار=دوستی، =کش و بکیر
خودبین =خودخواه = بخیل
همای =یو خیالی مرغه دی
کرکس =تپوس
جیفه =مردار = چټل
مگس =مچ
اغیار =دښمن

## مبهم ضمیرونه

مبهم =نامعلوم

بسیط =ساده

## بی نیازی

جاه =جلال = لوړ والی = غرور=تکبر

## زرغونه انا

اعلیحضرت =لوړ درجه = لوړ مقام
محرکه =حرکت ورکوونکی
ارکان =رکنونه = غړی
استقامت =سیده والی = مستقیم والی
خوشی =ایله

## د الحاد خونی سپیری دی

الحاد =کفر، =هغه کفر چې د الله(ج) د وجود څخه انکار کوی
نخره =کنډو = مات سوی دیوال
ظلمت =تیاره = تاریکی
ډیوه =څراغ

## د حضرت عمر (رض) عدالت

فتوحات =نیول سوی ځایونه
قلمرو =سرحد
اکرام =سخی
سکون =امنیت
تدبیر =فکر = پلان
آرا =نظر ورکول
واکی =جلب=جلو=واک، =اختیار=کنترول
کسات =انتقام = بدله
سبحان الله =پاکی ده د الله(ج) لپاره

## نیک او بد

بویه =لازم وگڼه
مومی =تر لاسه کوی
برهم =له منځه تللی
ښکوی شی =ولیکل سی

## ځلوریځی

دیار =وطن = هیواد = ځای
ځوانمرد =غیرتمند = ځوان
دمع =اوښکی
مروت =مردانه گی = نارینه توب
داد =انصاف
بنده =مقید = په قید کی = تر قید لاندی = د یو چا تر کنترول لاندی
فروتنی =عاجزی
بهره =فایده
پسندان =خوښوونکی
خمیده =سر کښته
تواضع =خاکساری
سمع =غوږونه
بیم =ډار = بیره

طالب =طلب کوونکی، =دعلم طلب کوونکی

## د یتیم ژړا

قدردان =د قدر وړ
زیست و ژواک =کاروبار = روزګار
مبتلا =اخته = ګرفتار
علیشان =لوړ مقامه = لوړ درجه

## اخلاقی ښوونې

فتنه =فساد
ګویا =ته چې وایه = ته به وایی، =ویوونکی، = معلومداره
شنوا =اوریدونکی
همدم =ملګری = اندیوال
اژدها =غټ مار = ښامار
سهل =آسان
زیان =تاوان
عزیز =دوست
مدعا =ادعا = دعوه
ګاه =وخت، = ځینې وخت
کام =تالو = حلق، = ارزو = هیله
کامول =ارزومند
بویه =لازم وګڼه
دیوان =د شعرونو مجموعه

## د لیکوالۍ لارښوونې

سبک =د سرو زرو ویلی کول او په غالب کی اچول، = کم وزنه = سپک
تقلید =پیښی کول
هم رنګی =یو شان والی
مأخذ =د اخستلو ځای
مسوده =لیکل سوی شی
ښکوونکی =لیکوونکی
ذوق =شوق
پیروی =اطاعت = فرمانبرداری
مبالغه =تشریح
غور =فکر
مشق =لیکل
یاد داښت =نوټیول
تناسب =برابری

## پند او نصیحت

کیمیا =ځیرکی، =دارو = درمل = دوا
سعادت =نیکبختی
تلطف =لطف = مهربانی
قباحت =خرابی = بدی
محنت =کوښـــښ

مومی =تر لاسه کوی

## حـکـایـت

شکوه =شکایت
لوینی =تکبر
تواضع =خاکساری
څوړ =تیټ = کښته

## وطنه تاته وایم!

ملحد =هغه کافر چې د الله (ج) د وجود څخه منکر وی
خزان =منی

## پوهــنه

تورتم =تیاره
انکشافات =پرمختګونه
اثر =تاثیر
تحصیل =حاصلول = ترلاسه کول
توصیه =وصیت کول
اثار =پخوانی شیان
ترجیع =بهتری = بهتروالی
صدف =یو ډول د اوبو ژوندی موجود دی چې داسی معلومیږی لکه ملغاره

## دوه ملګری

معتبر =قدردان = د قدر وړ
تعزیت =تسلی ورکول

## لویوالی

تاجران =تجاران
کمال =مکملوالی
نسب =قوم

## نصیحتونه

طعام =خواړه
هوسیدل =خوشحالیدل، =آرزو دلودل

زهد =تقوا = پرهیزګاری

## جد او جهد

جد =جهـــد = کوښـــښ
آستین =لستونی
دیانت =دینداری
همنیشین =اندیوال = ملګری
نشـــستن =کښیناستل
شفاهی =په (خوله/ژبه) ویل
دوهی =نغری

## لطیفه

ګندونکی =هغه سړی چې شیان ګندی
شات =شهد = عسل

## عـــزت

نقصان =تاوان = زیان
شعور =فکر
بویه =لازم وګڼه
سرور =خوشحالی
حسد =کینه = بغض
حرص =بخیلي
لئمان =بخیلان
دوهی = د اور نغری

## د نیکبختۍ عوامل

لوازم =لازمی شیان = ضروری شیان
متبادل =دیوشی بدل یا عوض
عصر =وخت
عصری =د وخت سره سم
اضطراب =پریشان یا بوریدل
نالښت =فریاد = ژړا = فغان
د پخلی خونه =آشپز خانه
صنعتی =ماشینی
نفوس =د وګړو یا خلکو شمیر

## تــوکـــه

پته =ادرس
تقاضا =غوښتنه
څته =بوجی
ژرنده ګړی =ژرند والا
تنخواه =معاش

## دنیا ښه ده

توښه =ذخیره
عقبا =آخرت
مذمت =غندنه = د چا بد ویل
حکمت =قدرت، =پوهه
حُکما =حاکیمان
صدقه =خیرات، =قربانی
غلیم =دښمن
عود =یو ډول لرګی دی چی د سوځیدو څخه یی ښه بوی منځ ته راځی
نذر =په شرع کی د الله(ج) په نامه د یو کار منل دی
کرم =سخا = سخاوت = نیکی
حاتم =په پخوا زمانو کی یو سخی او شجاع سړی وو
خطاب =لقب
زشت =بد
فاسقا =فاسقان = بد کاران

ذاهدا =ذاهدان = پرهیزګاران
ګوهر =ملغلری
موقوف =برطرفه = معزول
مدعا =غوښتنه
جزاء =د نیکی بدله
سزاء =د بدی سزا

## بیت نیکه

منسوب =تړل سوی
مورخ =تاریخ لیکوونکی
ماکو =د سلیمان ماکو تخلص دی
تذکرة =تذکره = پیژندل پاڼه
مناجات = دعاء، =هغه نظم چی دالله (ج) تعریف پکښی شوی وی
څښتن =مالک
کهول =کورنی
درناوی =احترام
ژوی =حیوانات
پلنی =ولاړی = محکمی
هسک =آسمان، =لوړ
نثر =هغه څه چی په شعر نه وی لکه زمونږ ساده خبری

## داستان

ذکی =هوښیار
ناوړه =بد

## لیک ښود

انشاء =د نوی شی پیداکول، =لیکل
معنوی =معنی داره = د معنی څخه ډک
لفظی =شفاهی = په خوله ویل
ښیګړی =ښه والی
ګټی =ډبری، =فایدی
ذوق =شوق
مهارت =وړتیا = قابلیت
سلیقه =کردار = روش
شدل =سخت
سبک =د سرو زرو ویلی کول او په قالب کی اچول
فصاحت =خوږ والی = د خبرو پرله پسی والی
بلاغت =سوچه وینا، =دمعنا اومطلب نه ډکه وینا، =دوینا لوړه درجه.
تاداو =تأداب = اساس = بنسټ
غور =فکر
مشال =مشعل = څراغ

پیکه =بی خونده =بی رنګه

لا ینقطع =نه قطع کیدونکی

پیړی =قرن = سل ۱۰۰ کاله

لورینه =پیرزوینه

کړکیچن =د مشکله ډک = کوږ وږ = چټل

مشابه =متشابه = ورته

مأخذ =د اخذ کولو ځای = د اخستلو ځای

کنایي =رمز =یو راز په نامعلومه بڼه ویل

مقدمه =شروع = سرلیک = عنوان

تمهید =سریزه، =تأداب = بنسټ

معقول =صحیح = پر دلایلو ولاړ

دود =رواج

بسیط =ساده

جغ = یوغ = د یوی کولو آله، =غلامی

ادات =حرفونه (لکه به، تر، ځخه، پوری)

## ښوونکی

صرفول =مصرفول

تعظیم =احترام

ممنون =متشکر = شکر کښوونکی

ابد =تر اخره

منت =احسان، =غصه، =زاری

## میرمن نیکبخته

مثنوی =دوه بیته شعر

رباعی =څلور بیته شعر

خودنما =ځان ښودونکی

خودبین =خود خواه = کبرجن = بخیل

سجین =همیشه، =شدید، =په دوزخ کی د یو ځای نوم دی

بی غاز =بی دینه

امان =ساتنه

الهِ العلمین =د عالمانو الله(ج)

تقوا =زُهد = پرهیزګاری

ظاهر =ښکاره

باطن =پټ

## مـنـاجـات

مناجات = دعا، =هغه نظم چی دالله (ج) تعریف پکښی شوی وی

عصیان =ګناه

ابلیس =طاغوت = شیطان

غفران =بخشـــش

درمان =دارو = درمل = دوا

غفلت =بی خبری = نا پوهی

فیضان =هغه شخص چی الله(ج) پری فیض او برکت کړی وی

# د نهم ټولګی د پښتو لغاتونه

## حمد

سپاس =شکر ویل = مننه کول

عظیم =لوی

مزګاه =ځای

حجر =ډبره

قیام =ولاړه

شجر =درخته

آفتاب =لمر

مهتاب =سپوږمی

رخشان =تابان = روښانه

مرغزار =چمن

سُنبل =یو ډول ګل دی

لایزال =زوال نه منوونکی

ذُالجلال =د جلال او لویوالی خاوند

## نعت شریف

فغان =فریاد = ژړا

ستم =ظلم، =بی انصافی

سوزان =سوځونکی دښت

بدوان =بد خلک

فراق =جلا والی

## د حضرت ابوبکر صدیق (رض) د خلافت لومړی خطبه

خطبه =وینا = خبری

ایسار =منتظر = معطل، = منع کول

صدق =ریښتنولی = ربښتیا ویل

کذب =دروغ

ذمه =وظیفه = تعهد

واجب =لازم = حتمی = ضروری

## د مستعارو کلیمو لیکنه

مستعار =په پور اخستل سوی

اعلام =اعلامیه = څرګندوینه

نحو =ګرامر

جوثه =جوسه = مانی، =بالاخانه

قحط =کاختی

مصرع =مسره = د بیت یوه برخه

معرب =په عربی اړول سوی

مفرس =په فارسی اړول سوی

## د حضرت عمر (رض) د خلافت لومړی خطبه

مناقب =فضایل = مکارم = بهتروالی

اوښبه =د اوښ خاوند

## نوی ډاکــتر

تلقین =یقین ورکول

لیوال =مینه وال

## سره یو شئ !

وحدت =یو والی
پیروزی =کامیابی
ښندل =قربانول
مرام =هدف
سونوشت =نصیب = قسمت
مستقبل =آینده = راتلونکی
تکل =هیله = آرزو، =قیاس = اندازه
پیوستون =یو ځای کیدل
ګوګل =په سینه کی د زړه ځای

## صــفـــت

ذات =ماهیت = فطرت
ارت =پراخ، =پلن

## دوه لیونی

دلاک =سر خریوونکی
دارالمجانین =د لیونیانو ځای

## نــفـــاق

حُریت =آزادی
سلبول =غصبول = قبضه کول
اخوت =وررور ولی
رفعت =هوسایی
شقاق =اشتقاق = جلا والی
سعادت =نیکبختی

## دحضرت علی (رض) د خلافت لومړی خطبه

ایذاء =په عذابول = ذهیرول

## په شریعت مین مسلمان

سخاوت =نیکمردی = ځوانمردی
تکبیر =الله اکبر
اذاجاء اجلهم =کله چی ستاسی د مرګ وخت راورسیږی

## نصیحت

هوسیدل =خوشحالیدل، =آرزو دلودل
نهی =نفی = منفی = نه

## حمید مومند

باریک =نازک، =کوچنی
موشګاف =باریک بین
مخزون =په غم اخته
استعاره =په پور اخستل سوی
سبک =د سرو زرو ویلی کول او غالب کی اچول
آغوش =غیږ
نخل =درخته

رطب =میوه
نیرنګ =چل = فریب = مکاری
خوناب =د وینو ډکی اوښکی، =د زړه له درده ژړل
نغمه =خوږ آواز
بسمل =قربان سوی = حلال سوی
عیادت =د مریضانو پوښتنه کول
معما =معمی = لاتړی = پټ شی (شاعران داسی شعرونه وایی چی د هر بیت اول اول توری یی را اخلی او خپل نوم ځینی جوړوی چی ادا یوه معما ده)

## چاته په سپکه سترګه مه ګوره

عارضی =سرسری، =موقتی، =ناڅاپی، =فرعی
سمسور =آباد
مشروع =هغه څه چی په شرع کی اجازه ورکول سوی وی = روا

## فــعـــل

متکلم =خبری کوونکی
مخاطب =غوږ نیوونکی
فاعل =کار کوونکی
مجهول =نا معلوم
دلالت =دلیل کول
استمراری =جاری
ګردانول =تکرارول
صیغه =په غالب کی اچول سوی، =د لږ وخت دپاره نکاح تړل
تمنا =آرزو = هیله = اُمید

## پــــنــــدونـــه

رخت =توکر
تملق =چاپلوسی
درم =د توپ د ږز آواز، =درهم = مذهب، =دین او ایمان
ورمیږ =مغزی = غاړه
پیری =سپین ږرتوب
کون =دنیا (لکه دغه دنیا او د آخرت دنیا)
داد =عدل او انصاف
زرباف =د سرو زرو کالی
دم =نشاط = سینګار کوونکی

## میرزاخان انصــاری

تبر =قوم
ځوځات =اولاده
نهضت =نظام
خطیب =واعظ، =خطبه ویوونکی، =ویاند
سیاح =سیاحت کوونکی = ګرځیدونکی

می =شراب، =غمی
مولا =الله(ج)، =مالک
لون =رنګ

## څه غواړې؟

ښندل =قربانول
خادم =خدمتګار
زاهد =پرهیز ګار
مرموز =د رازه ډک، =پټ

## میرمن نازو

معروف =مشهور = پیژندل سوی
حباله =نکاح
عابد =عبادت کوونکی
قاید =مشر
تاړاک =حمله
کارنامه =د فخر وړ کار
پیهم =پرله پسی = مسلسل

## د افغان حال

شاړه =خرابه = بیکاره
سوکالی =خوشحالی

## د نیکه ږغ

کرم =ملامت
کهسار =د غرونو څخه ډکه سیمه
پرهار =ټپ
نسیم =د سهار باد
شیدایی =مفتون = مین = عاشق
افسون =جادو
زبون =خوار = حقیر
هجران =فراق = بیلتون = جدایی
رقیب =غلیم = اغیار = دښمن
تراب =خاوری
افګار =زخمی
پهلوایی =بغل نیول
افاق =آسمان
تبر =کورنی، =قوم
ساحل =د سیند غاړه
کوګل =د سینی قفس، =سینه
مفتون =عاشق

## متلونه

پنه =پایڅه، =چپلکه = موزه
پړ =ملامت

## ویښ شه ای زلمیه !

عزیز =ګران = دوست
بُزدل =کم زړه سړی = بیریدونکی

هوسرانی =بی معنی
براهین =براهین د برهان جمع ده چی د برهان مطلب دی دلیل نو [براهین = دلیلونه]

## په دین غیرت

براهین =جمع د برهان = دلیلونه
حرمت =حراموالی، =احترام
وحدت =یو والی
ګاڼه =زر او زیور
زیب =زینت = ښایست
هود =عزم = اراده
شهامت =زړورتیا = غیرت

## د شاعر مدح

سرګوشی =پس پسی کول
ملتفت =متوجه
مدح =صفت

## غــزل

ازل =لومړی ورځ، =هغه زمان چی پیل یی نه دی معلوم، =بی مبداء هستی
پیاده =په پښو
سور =سپور
تدبیر =فکر، =پلان
وعظ =نصیحت

## د ځان ویر

خدایږو =قسم په الله(ج)
هنګامه =ږغ = شور و غوغا = غالمغال
جرس =زنګ (لکه د بایسکل زنګ)
صدا =آواز
ساحری =جادوګری
سامری =قصه ویل، =د قصو ویلو مجلس
وریت =کباب
ویرانه =کنډواله

## وحــدت

برم =جلال = شان او شوکت = لوړوالی
نائب الحکومه =والی
مؤرخ =تاریخ لیکوونکی
شقاق =جلا والی
ارتقا =لوړوالی

## زده کــړه !

رخت =توکر
نسترن =یو ډول ګل دی
آسایش =هوسایی
ګهواره =ځانګو

## دوه رنــګی

ایکتر =عمل-کوونکی
اقتضا =تقاضا = غوښتنه
سترګک =چشمک = آشاره

## عـــزت

قبلیدل =قبولیدل = منل کیدل
نقصان =تاوان
سرور =خوشحالی
لئیمان =ملامت (د لئیم جمع)
دوهی =د اور د سکروټو ډیری
بویه =لازم وګڼه
حرص =طمع

## د پـښـتو تــرجــمــې

محاوره =خبری اتری
عطف =رباط = د عطف د حرف په وسیله یوی کلیمی ته له مخکینی کلیمی سره ربط ورکول
مترجم =ترجمه کوونکی

## زلزله

طاغوت =شیطان، =باطل
پرګنی =خیلونه = طایفی
ستمګر =ظالم
معرکه =جګړه = مبارزه
کمون =وړوکی اتحادیه

## مثنوی

قرین =نږدی
زیست =ژوند
سود =فایده
ویزار =بی زاره، =لیری
قضاء =غیاب = نستوالی
رخه =حسد = کینه = بغض
مباس =لباس

## په ټولنه کی د ژوند آداب

پاتکی =طبقه
کمکی =کوچنی
پرتم = شان او شوکت
حفظ =ساتل
وقار =عزت
مهال =وخت
بډی =رشوت
قبائح =بدی ګانی = بدی خبری
بیلمازی =بی دینی
چُغلی =دوه نفره په خپل منځ کی سره بی اتفاقه کول

عظمت =لویوالی
ربړونه =مشکلات
تلقین =یقین ورکول
خلا =زیان = تاوان، =خالی ګاه
توهین =تهدید = د خبرو په واسطه تر فشار لاندی راوستل
منافی =ردونکی = منع کوونکی

## ثلوریځی

فرزند =زوی
لذت =خوند
ممسک =بخیل
ګنډیری =د زهرو ګل
دمع =اوښکی
ویاړ =فخر کول
قرب =نږدیوالی
بعد =لریوالی
مروت =میړانه
دامن پُر =ډکه لمن
بحر =سمندر
داد =سخاوت، =عدل = انصاف

## مناجات

ذلت =خواری
غفلت =تنبلی، =بی خبری
آفت =بد بختی
غلیم =اغیار = رقیب = دښمن

# د لسم ټولګی د پښتو لغاتونه

## حمد

صنیع =جوړونکی
بدیع =نادر، =نوی
صنعت =جوړونه
منتخب =انتخاب سوی
سازول =جوړول
مصداق =صادق = ریښتنی
کرمل =کرم کوونکی = سخی
جود =سخا
حوت =ماهی
خوان =دسترخوان
سیر =موړ
قوت =روزی، =غذاء
عقرب =لړم
لقمه =ګوله (د ډوډی ګوله)

کرم =ځوانمردی
مګس =مچ
شیدا =عاشق

## نعت

مرسل =رسول = پیغام وړونکی
خواهان =غوښتونکی
چار =کار
وحی =نازلیدل
الهام =غیبی آواز
کلام =خبری
افضل =بهتر
خاتمت =ختموالی

## نوی لوست

هوسیدل =خوشحالیدل
هود =عزم = اراده = تکل
ور =دروازه
بیړه =تعجیل = تیزی
بوډۍ =زړه ښځه

## د رڼا په څرک پسی

څرک =لکه د بریښنا د رڼا په شان رڼا ته څرک ویل کیږی
تپړیدل =لکه ړوند لاس او پښی وهل
مجادله =مبارزه = جد = جهد = کوښښ
تورتم =توره تیاره = توره دربیله
مجهوله =نامعلومه
شعور =عقل
تذبذب = اضطراب = ښوریدل = وارخطا کیدل
بیلګه =مثال
ګوټ =طرف
زمزمه =په شونډانو کی خبری کول
پیغور =طعنه

## د ځوانانو پسرلی

رساله =پیغام
سنبال =چمتو = آماده
افسانه =هغه د دروغو قیصه چی د ریښتیا پر بنسټ لیکل سوی وی
بیدیا =دښته
ساکو =یو ډول غرنی بوټی دی
ګهیځ =سهار
منداڼو =ګنده بوټی، =د مستو د شاربلو دپاره لرګینه آله
کوړکه چرګه =کوټه چرګه

توکیدل =زرغونیدل = شنه کیدل
طواف =شا او خوا راګرځیدل
مظاهر =ظاهر شی

## د حج قیمت

خلل =تاوان
مظلوم =تر ظلم لاندی
خاصة اله =خاص د الله (ج) دپاره
سودمن =فایده من

## لنډۍ

لحظه =ګړی = شیبه
رغونه =دښتونه
رويبار =قاصد = خبر وړونکی
پردیسی =جلاوطنی = مسافری
پردیس =جلا وطنه = مسافر
نیاز =حاجت
رزم =جګړه
ورشو =څرځای
عروض = د شعر میزان
بزم =خوشحالی
حضر =حاضروالی
کمره =د غرم تر تولو لوړه آواره منطقه
میراتیدل = بی کسه کیدل، =بی زویه کیدل
سنګر =خزه
پرهار =زخم = ټپ
بیلتون =جلا والی
تروږمی =هغه توره شپه چی سپوږمی نه وی
دیدن =لیدنه

## رحمن بابا

سحر =جادو
تسخیر =قبضه
پیړۍ =چوکی = کورسی = دناستی صفه
نشستن =ناسته، =کښیناستل
کندولی =د خاورو لوښی چی د کاسی په شان کارول کیږی
منسوب =نسبت کړل سوی
زهد =زاهدی = تقوا = پرهیزګاری
ریا =ځان ښودنه
خرقه =زړه جامه، =چپنه، =هغه جامه چی د ډول ډول ټوکرانو څخه جوړه سوی وی
مغان =ارمغان = تحفه
خرابات =قیمار خانه
قلندر =فقیر
سکون =قرار = بی حرکته پاته کیدل

- اطلس = یو ډول توکر دی
- اعجاز =داسې یو کار کول چې نور خلک یې د کولو څخه عاجز وي
- صومعه =دیره = کوټه
- می خانه =شراب خانه
- اورنګ =تخت
- واعظ =نصیحت کوونکی
- کننده =کوونکی = اجراء کوونکی
- تارکان =پرېښودونکی = ترک کوونکی
- کره =غوټه (مثلاً توکر سره غوټه کول)
- جبین =تندی
- مزیت =خوند
- ذوق =شوق
- گزند =ځیرونکی
- مدح =صفت کول
- هجو =د یوچا بد صفتونه ویل
- خورسند =خوشحاله

## د اوښکو ارزانی

- اوج =لوړوالی
- مدهش =وهشتناک
- دهشت =بیره
- صدمه =ضرر = تاوان

## د میرویس نیکه له ویناؤ څخه

- نیرنګ =چل = فریب = مکاری
- ذلت =خواری
- اسارت =بندی توب
- ثروت =دارایي
- غنی =شتمن
- سعی =کوښــښ
- مشکور =شاکر = شکر کبنوونکی
- فدا =قربانی
- غضب =قهر = غصه
- جغ =یوغ = د یوی کولو آله، =غلامی
- بولی =قومانده
- ترجیح =برتری
- عزم =اراده = تکل
- جور =ستم = ظلم
- مدد =کومک
- العیاذ بالله =پناه غوارم په الله (ج)

## د خاندان خولی

- همای =یو ډول خیالی مرغه دی
- تعظیم =احترام
- قرن =پیړی (سل ۱۰۰ کاله)
- توصیفنامه =صفت نامه

## آزادی

- کائنات =نامحدوده فضاء
- ابتکار =نوښت = نوی والی

## خوشحال خان خټک

- سنګ =ډبره
- مرثیه =فاتحه، =غم
- لک =قایم ولاړ
- تپاک =حرص، =ناقراری = تلوسه، =خاطر = مدار = عزت = لحاظ
- مستشرق =هغه خوک چې په شرقی ژبو کې خیرنه کوی

## چې ورسیږم نو به دمه کوم

- مقصود =هدف
- مسرور =خوشحاله
- شیبه =لحظه = کړی

## د علم هنر

- اقتباس =نقل = اخیستنه
- داد =عدل = انصاف، =ورکړه
- فیض =برکت
- متناهی =انتهائی = آخر
- کامرانی =هدف ته رسیدل
- روستا زاده =هغه څوک چې په کلی کی اوسیږی
- فضیلت =برتری
- توامان =ملګری، =جملیان
- صیقل =تورل
- ورمیږ =غاړه = مغزی

## د کوهستان شفق

- کناره =کُنج
- فواره =هغه ځای چې اوبه په ډیر فشار سره باسی
- حسرت =غم
- لیوال =مینوال
- سالو =ټیکری = پوړنی
- خونریزی =وینه بهیدنه
- افق =آسمان
- شفق =آسمان
- کوهستان =د غرونو څخه ډکه سیمه
- صدف =یو ډول سپین بحری حیوان دی
- خوناب =د وینو ډکی اوښکی، =د زړه له درده ژړل
- دهر =دنیا = جهان = نړی
- باج =جچه = مالیه

## پښتو د پخوانیو شاهانو په دربارو کی

مأخذ = د اخذولو ځای = د اخستلو ځای
معاصر = د وخت تیر سوی
شهکاری =پوخ کار = محکم کار
فلک =آسمان
کوکاری =چیغې
زمولول =ژړه غونی کول
لونل = خونولول = شیندل = پاشل
تشجیع =شجاعت ورکول
صفه =مقام = ځای، =د غونډی ځای
چرتون =د چړی غلاف = د چړی پوښ
کویله =یو ډول مرغه دی
برسات =د هند بارانی موسم
مواسه =محافظ = ساتونکی
سحاب =وریځ
وصال =وصلیدل = یو ځای کیدل
لیمه = لیمان = سترګی
دور =لیری
می =شراب
مرتجل =نارینه = باغیرته
صله =بخشـــش
خاقان =پادشاه
بولی =قومانده
سپه سالار =سپهسالار = سپاه سالار = لوی مشر
نائب سالار =سر غټ مشر
جرنیل =غټ مشر
برګد =پنځر مشر (پنځه زر مشر)
کرنیل =زر مشر
کمیدن =ناب
کپتان =سل مشر
صوبه دار =بلوک مشر
حواله دار =لس مشر
صدراعظم =لوی مختار
مستوفی =لوی ملکی
خارجه وزیر =لوی مُین دباندی
داخله وزیر =حشمت الملک = لوی مُین د غرو
دبیرالملک =لوی کښل
پښویه =ګرامر

## سپین غر

جګی جګی =په ناز ناز
ساقی =جام ورونکی
واری =قربانی
داد =ورکړه، =عدل = انصاف
عطا =بخشـــش

آغاز =شروع
مسیحا =غمخور
هېښ =حیران
افسون =جادو، =طریقه
مله =ملګری
بیلتون =جدایی
وحدت =یو والی = اتفاق

## وطن والی

عصر =وخت
اکسیر =کم پیداکیدوونکی
ناو =ناوه = د غره په منځ کی لښتی

## قوی او ضعیف

کبر =د اور لمانځوونکی = کافر
مسلط =غالب
تحمل =صبر = حوصله

## حقایق

عروج =پورته کیدل
تدبیر =فکر = پلان
جهد =کوښـــښ
کونګړ =شادیوان = اجړ، =یو غرنی قوم چی مال ډنګر ساتی

## شمس النهار

جریده =اخبار = اونیزه
اهتمام =همت = په کار کی کوښـــښ کول
نطق =خبری
عقاید =عقیدی
مشقت =سختی
صحن =صحنه = محیط
حریر =لیکونکی
ملبوسات =لباسونه

## معرف معارف

معارفی =په معرف پوری مربوط

## نارو انا

معارض =ساری = مثل
ارتینه =میرمن = ښځه
ثقه =معتبر = د اعتبار وړ
تاړاک =حمله
معروفه =مشهوره = پیژندل سوی
سخاوت =پرهیزګاری = تقوا
حباله =نکاح
شجره =ریښه = جرړه
طیبه =پاکه
عابد =عبادت کوونکی

صالح =نیک عمل کوونکی
علیین مکان =لوړ مقامه
تربیت =تربیه کول
دیانت =دینداری
فرائض =فرضونه
عباد =عبادت کوونکی = بنده
نکات =نقاط = نقطی
معاصر =د وخت تیر سوی

## ښځه

مشقت =سختی
رقیق =نرم
درمانده =بی چاره
درمانده ګی =بی چاره توب
نوابغ =نابغه ګان
لطیف =نرم
سعادت =نیکبختی

## ارشاد النسوان

ارشاد =ارشد = لارښوونه
متنوع =ډول ډول
معاشرت =کډ ژوند کول = یوتربله مینه او دوستی کول
اقتضاء =تقاضاء = غوښتنه
نسوان =ښځی

## مین او شاعر

بربند =لخ
ایده آل =لوی امید، =مطلوب کمال
اجتماع =ټولنه

## د سولی ترانه

لر =لیری
بر =نږدی، =وچه
زیر و زبر =میده میده = ټوټه ټوټه

## میرمن زینبه

حرم =د سرای محیط، =دمقدس ځای مخصوصاً د کعبی معظمی محیط
عصمت =پاکی
عفت =پرهیزګاری
مخدرات =د مخدره جمع (پټ = پنهان = په ایجاب او پرده کی)
صایب =صحیح او راسټ = حق ورسا = دحق ملګری
شهوار =شهسوار = شاه سوار = چالاکه او زړور سپور
کاږ =حلق = تالو، =هیله = آرزو
ساندی =د غم ناری او چیغی
تسکین =سکون = آرام
مبتلا =اخته = ګرفتار
کړم =تکلیف
برهم =له مینځه تلل

شیر =زمری
پلنګ =پړانګ
سپا =لښکر
واویلا =د غم ناری او چیغی
عالیشان =لوړ مقامه
ستم =غم
خورسند =خوشحاله
پرتم =شان او شوکت
فنا =ورک = پټ
اعدا =دښمنان
ماتم زده =غم وهلی
برنا =ځوان = شاب، =ظریف = نیک
مقر =د قرار ځای
مهر =مینه = محبت

## پیر روښان

متداول =لاس په لاس ګرځیدونکی = تغیر خوړونکی
تنفیر =نفرت = کرکه
جل =تنده
رباط =هغه تم ځای چی د اوږدو لارو په منځ کی وی

## حسب حال

حسب =حساب
آهنګ =آواز
درنګ =ځنډ = وقفه
قلنګ =باج = ججه = مالیه = خراج
اورنګ =تخت
اترنګ =نګریزی
شرقیت =ختیځ والی
مادیات =مال او دارایی
فرنګ =انګریزی
اضداد =مخالفین
خدایږو =قسم په الله (ج)
ننګ =شرم، =خالی توب
آفتاده ګی =لویدلی حالت
بیضا =سپین
غلیم =دښمن
عقاب =کارګه = کارغه

## د هرات محاصره

منظوم =په نظم (شعر) لیکل سوی
هجوم =حمله
حصار =دیوال
خدنګ = یوه ډیره کلکه درخته ده چی د لرګی ښخه یی نیزه، غشی او د آس ځین جوړیږی
ټاټوبی =وطن
مامن =د امن او ارام ځای = پناهګاه

| | |
|---|---|
| مدفن | =قبر |
| ایثار | =قربانی |
| لتپیر او پایمالول | =یوسړی تر ډیرو پښو لاندی کول |
| بوره | =هغه مور چی زوی یی مړ سوی وی |

### پیسی سیخل

| | |
|---|---|
| متخصص | =پوهـ |
| نسیم | =نرم باد |
| فراموش | =هیر |
| نیمه خواه | =ځوانیمرګ |
| هوس | =خوشحالی |
| حیات | =ژوند |
| حساس | =حس لرونکی |
| ګهیځ | =سهار |
| تپش | =تلاښ |
| حسن | =ښکلا |
| عواطف | =احساسات |
| مسل | =تبسم |

### کاظم خان شیدا

| | |
|---|---|
| تعاون | =همدردی = کومک |
| توصیه | =وصیت |
| افروخته | =روښانه |
| سوخته | =سوځیدلی |
| کمند | =رسی |
| سخاوت | =پرهیزګاری |
| شوم | =بدمرغه = بد بخته |
| دوغ | =شلومبی |
| دستار | =لنګوټه |
| کشاده | =کش سوی |
| بزم | =خوشحالی |
| رزم | =جګړه |
| پلنګ | =پړانګ |
| خس | =لڑ، =بی ارزښته، =ځارځای، =ښکار ته د پټیدو ځای |
| افتان | =خیزان = خیز وهل = تلاښ کول |

### کار او زیار

| | |
|---|---|
| مترقی | =پرمخ تللی |
| مدارج | =درجی |

### د غنمو وږی

| | |
|---|---|
| اوربل | =پیکی |
| آرین | =اصل |
| وږم | =بوی |
| تقلید | =پیینی |
| متصل | =وصل |

| | |
|---|---|
| قائد | =مشر |
| قیادت | =مشرتوب |
| عهد | =پیمان = وعده |
| تیپونه | =تاپیی = قبیلی = تبرونه = توکمونه |
| هیبت | =ډار = بیره |
| معموره | =عمار = ودان |
| محضر | =حاضر ځای |
| ډمامه | =نغاره |
| دور | =دوره = وخت |
| غفلت | =تنبلی |
| هوس | =خوشحالی |
| درمان | =دارو = درمل = دوا |
| عظمت | =لویوالی |
| استعداد | =لیاقت |
| مربی | =تربیه کوونکی |
| احد | =یو = د الله (ج) نوم دی |
| سرور | =خوشحالی |
| مظلوم | =تر ظلم لاندی |
| بازخواست | =پښیمانی |
| قهار | =د الله (ج) نوم دی |
| تمدن | =پرمختګ |
| څک | =ساحل = د بحر غاړه |
| لرغونی | =پخوانی |
| شهامت | =زړورتیا = غیرت |
| عبرت | =اخیستنه = پند اخیستنه |
| عطا | =بخشـــش |
| غبرګون | =جواب |
| برم | =شان او شوکت = دبدبه |
| زړن | =زړه ور |
| ایل | =تابع |
| تون | =ځای |
| تهذیب | =پاکی |
| عرفان | =علم |
| افغان | =ژړیدونکی |
| خیرمه | =نږدی |
| وسواس | =تلوسه = په دوو زړو کی کیدل |
| کروړه | =سختی |
| ذلت | =خواری |
| مبنی | =اساس اینودل سوی |
| شرق | =لمر خاته = ختیځ |
| ساری | =مثل |
| شرارت | =شر، =د شره ډک کار |
| حکمت | =پوهه |
| انصاری | =کومک کوونکی |

صوفی =د تصوف او طریقت پیرو، =د
ورینو جامو اغوستونکی
فیض =برکت
خس =لړ، =بی ارزښته، =خاځای،
=ښکار ته د پټیدو ځای
سیک =قدرت = توان
زیاړی =زیره = ښکنځل
یوم =بیل = بیلچه
ناګاره =ځان ناخبره اچوونکی = منکر
غوراستل =غوړ نیول
مجال =جرأت
پره =ملامتیا
میرځمن =میرځن = دښمن
میرات =بی کسه، =بی زویه
اعتلا =لوړیدنه، =جګوالی، =لوړیدل =
جګیدل = هسکیدل
داد =ورکړه، =عدل = انصاف
کردګار =الله (ج)
جاه =جلال = عظمت = لویوالی
شان =شوکت = جاه = جلال = لویوالی
ثمر =میوه
رقیب =دښمن
بول =وینا
همزول =همزولی = یو ډول عمر لرونکی
مناجات = دعا، =هغه نظم چی دالله (ج) تعریف
پکښی شوی وی
ووړ =کوچنی
بورجل =کمین ګاه
هسک =آسمان
لیمه = لیمان = سترګی
ګروهـ =دین، مذهب، =تولی = ډله، =قوم
تورتم =توره تیاره = توره دربیله
شلند =چاځ
چاری =کارونه
ناتار =چور
جنډی =بیرغ
پل =قدم، =حق پل کول = حق بخښل

## د یوولسم ټولګی د پښتو لغاتونه

### حـمـد

اسرار =رازونه
تقصیر =کمی=کموالی
حلیم =زغمونکی=بُردبار
حیاء =شرم=دملامتی دکارونو ځخه ډډه کول

تعدی =تیری کول
شقاق =په منځ کی درز پیداکیدل
تبرا =خلاصیدل
قدیر =توانا=قادر
جواد =سخی
فدوی =قربان شوی
بر =نږدی، =وچه
دفتر =کتاب
انشاء =د یو نوی شی پیداکول، =لیکل
قدیم =پخوانی

### ویده ماشوم

ډوپکنی =توپنی
قاصد =خبروړونکی
ترحم =رحم لرل
رقت =نرمی
کیاری =دویچی، کوړکی، دکوچنیانودسا-
عت تیری کوچنی کورونه
جلتی =تیز
ترغونی =وارخطا

### زموږ هیواده

آریه =آریایی نژاد
آیین =عمق = غوچوالی، =لار =
طریقه، =مسلک، =دین، =عقیده
مفاخر =دفخروړکسان
ارین =اصِل
نژاد =نسل
بینوا =بی برخی
رجوع =ورګرځیدل
کوتنی =کوچنی کوټه

### د مزار لوحــه

کوتنی =کوچنی کوټه
کوتنی =قبر
التباس =ګډون، =سره ګډیدنه، =ورته والی،
=ګډوالی، =مشابهت

### نږدی حج

واری =قربانی
حین =وخت
استفسار =پوښتنه
اظهار =د یوی خبری ښکاره کول
مباح =هغه ځه چی نه ثواب او نه عذاب لری
صحاح =جمع دصحیح دی
هلاک =له مینځه تللی
عطا =ښنه، ورکړه، بخښش
مقصود =هدف

زهد =پرهیزګاری=تقوا
دارالمجالس =دمجلسونو ځای
توښه =خرڅه
سخا =ښه ځواني

## د میړې عزم

سازوله =جوړوله
وصال =وصل کیدل=یوځای کیدل
ومرم =ومرم=مړسم

## د بیوزلو سره مرسته

معصیت =عصیان = ګناه
میخور =شرابي=شراب خور
فاجر =بدکاره
عصیان =ګناه
وقوف =عقل = شعور، = پر عرفات د حجیانو دریدنه
تفسیر الضحی =د تفسیر یو کتاب دی
فسق =بدکار
فجور =بدکارونه
فاسق =بدکاره
معروف =مشهور، پیژندل سوی
دلی =دلته
مله =ملګری
باری =لوی، خالق، باروړونکی

## امیر کروړ

کروړ =سخت=کلک
سوری =دشیرشاه سوری دکورنی تخلص دی
کوټ =قلعه، =سلاکوټ
خول =تاج
رسالت =پغمبری
کهول =کورنی
سهاک =داپه پخوازمانه یوسړی وو چی دامیرکروړسوری دوی دهغه دپښته دی
سوبه =فتح ،=کامیابی
ضابط =ضبط کوونکی

## بریالی شهید

کالنجر =(د آهنګر پروزن) دهندوستان په بدیا کهند کی دیوی تینګی اوتاریخی کلانوم دی چی په ۹۵۲هـ ق کی شیرشاه ونیوله چی ددی کلا دنیولو په خوشحالی کی مړسو.
سپاه =عسکر=ژوبله ور
جګرن =جګړه مار=تورن=جګړه کوونکی
بری =کامیابی
برندی =خوری وری
نیمه خوا =ځوانیمرګ
پتن =پتنګ

مکوټ =لولوپه، سوی
درووړ =وړ=قربانی
لمسول =هڅول
بسمل =حلال سوی = قربان سوی
کوروټ =بالکل
نصرمن الله =دالله (ج)په کومک سره
ایشناو =جوش
بارګاه =ځای
مسعود =نیکبخت
خوشنود =خوش=خوشحاله
کوټ =جنګی کلا=سلاح کوټ
غالب =بریالی
سوبه =فتحه، =کامیابی
یرغل =حمله
خوا =زړه، طرف

## بی بی نیکبخته (رح)

مرشد =ارشاد کوونکی = لاربنوونکی
خیساره =مړه مځکه
پوپل =یوډول ګلان دی
شنا =مست، مستی
لیرده =کوچ کوه
بلیرده =تاویره
دښنه =دښمنان
ترک =پرییښودل

## پسرلی

لونل = خونلول = شیندل = پاشل
لاښونه =دغونډیو اړخونه
لمنی =دغرولمنی
طیلسان =جامی
زمردی =شنی
نیسان =دثورمیاشت
مشاطه =ډمه، آرایش کونکی
ښکل =ښکلی کول
بڼ =باغ
جنده =بیرغ
ګانل =په ګانه ښایسته کول
پسول =ګانه
اورو =اوربنت
خونلول =پاشل
وږم =بوی
ختن =په چین کی یو ځای دی
پو =پمپ کول
اغلی =ښکلی او ښایسته
جنت =باغ

تاپې =وخت
زلما =زلمی توب
مکیز =نازواداا
ورنګین =انعکاس کونکی
ځل =برېښ
شن =مست او بی پروا
هاتی =فیل

## نــاکــامــی

کامرانی =کامیابی
کامل سکون =مرګ
عین =حقیقی
بندشونه =خنډونه=خنډجوړونکی شیان

## خــلــویــزی

عادت =روږدیدل
پند =نصیحت
بند =تدبیر=فکر
اغاز =پیل
انجام =پای
نانغو =نه اوریدونکی
نغوزی =اوریدل
توک =برخه
روکه =روکی=وورو
لوکی =لوکه=خلګ
پسندیدل =خوښول
دشوار =سخت
جزاء =دنیکی بدله
سزاء =دبدی بدله
سلوک =کردار
وا =غوږیدل
ګرمی =ملامتی
وپی =کلمه
لئیم =بخیل = کنجوس
ګانده =سپا
کریم =سخی
خسیس =کنجوس=بخیل=لییم
عباد =بنده=په قید کی=بند

## حــکــایــت

خلیل =دوست
ار =اصلتوب
استغفار =توبه کښل
غفار =بخښونکی، دالله نوم دی
رویدار =مخور
آبیاری =پنه=خوړوبول=اوبه کول
ملیار =مالیار=باغوان=باغبان

قدوه =مشر = رهبر
کجل =رانجه
البصر =بصر=سترګی
اضطراب =پریشانی یا ښوریدل
الطرایق =طریقی

## پنځه ګوهره

ملحقات =جمع د ضمیمه

## زرغــونــه

فصاحت =دخبروپرله پسی والی
حباله =نکاح
شکوه =شکایت
قدسی =پاکی
زمره =ګروپ = ډله = اجتماع
موزونان =توزین کوونکی
روزګار =کار
سیر =جادو
عارفانه =پوهنیز
رویدار =مخور

## دوی تاریخی څلوریځی

کویله =یوډول مرغه دی
لونی =لولل=لونل = خونولول = شیندل
مواسه =زمونږساتونکی=غمخور
نغوزل =اوریدل

## ورمــونــه

ورمونه =نصیحتونه
خصلت =خوی
سود =ګټه
ملایمت =نرمی
شامت =بخت = طالع = نصیب
زبون =خوار
تملق =چاپلوسی
عاقبت =آخر ،=نتیجه
دمړی =نیمه پیسه
خښم =قهر=غصه
پیرودل =رانیول=اخستل
سوګند =قسم
حمار =خر
لښل =سفر کول، =بارول، =ککړ، =څټل
قباحت =بدی
وبله =یوتر بله، =بی عقل، =تښاکه، =ګډا، =چاره
کروهـ =د مسافی یو واحد دی چی تقریباً دوه میله کیږی
خرخښی =جنګونه
شهوت =خوند=اور
بایده =حتمی

پیلو =دیپول کلان
نامعقول =ناصحیح
جګی – جګی =په نازناز
بیرونه =دباندی
هوس =خوشحالی
نمانځل =بدرقه کول
کلیات =جمله

## د بی وفایي سبب

خردمندی =عقل مندی
کرد =لری والی، دوری، کرد
طفیل =هغه څوک چی بغیر د ست څخه
مهمانی ته ولاړ سی، =سبب
ګوښه =لیری ځای
میل =آرزو
شارو =مینا (یو ډول مرغه دی)
مینا =صراحی = لوښی
تلولی =په غوړو کی سری کړی غوښی
آغاز =شروع کول
عهد =وعده
تقاضا =غوښتنه=آرزو
ددیو =ددوی
طمعه =اُمید

## حکایت

خزینة =خزینه=خزانه
الفقراء =فقیران

## ای هلمنده

پو =په سینه ښویدل
رکود =ځای پرځای دریدل
خوالّه =خواخوږی کول=ددردقیصی یوبل ته کول
تابان =روڼ
رادمردان =غیرتمند
کرانه =طرف، =حد، =پای، =ساحل،
=ګوښه ځای، =بغل
مشعل =هرهغه شی چی رڼا ورکوی
عدم =نیست = نستوالی
اغوش =غیږ
دانش کده =پوهنځی
غاړی غړی =لاس ترغاړی
تورتم =ظلم=تیاره
بُست =کلابیس
داور =زمینداور
زرنج =سیستان
مزی =تناب=جلو
سروان =ساروان کلا

هوری =هلته
افسانه =ناول=قیصه
آب حیات =دژوند آوبه
طلبه =طلب
سیه پوش =توریوښ
مدنی =پرمختللی=علمی
کنډوکپر =مات اوکنډوالی ځایونه
فیض =برکت، =برتری=بهتری

## ژوند

صراحی =یوډول لوښی دی
تلوسه =ناارامه توب
کیف =کیفیت=څرنګوالی

## حقایق

عروج =لوړوالی
تعبیر =څرګندونه
حاسد =کینه کښ
طامع =طمعه کونکی
قابو =نږدی، په قبضه کی
حقایق =حقیقتونه
مستقبل =آینده
تدبیر =فکر
جهد =کوښښ
تقدیر =نصیب
ګونګړ =یوډول حساس اونازک ترازو دی
کوهی =څاه

## د لوی احمدشاه بابا احسان

شهریار =پادشاه
جنبش =حرکت
غبار =ګرد
اوج =پورته
استوار =کلک=محکم
هیبت =شان وشوکت=روب
سلطانی =پادشاهی
خاقان =پادشاه
مستنګ =یوځای دی
شال =یوځای دی
قلات =یوځای دی=کلات
خلعت =بخشش
سرفراز =سرلوړی=ممتاز
رکاب =پیدان
انبساط =پراخوالی
تعدیل =عدل، انصاف
جمال =ښکلا
اقبال =بخت

تاب =قدرت
حصار =دیوال
مجاور =نږدې، ملنګ، =همسایه
برهنه =لوڅ=بربنډ
ایلچي =قاصد=خبروړونکی
مروارید =ملغلرې
عیان =څرګند
قال =قیل=خبره
هویدا =څرګند
ښاندل =ښندل=قربانول
فلک =آسمان=لوړ
عدلې =عدل=انصاف
تفنګ =توپک
ګذار =واری
ادب =پوهه
مزار =قبر، =مقبره
درون =دننه
من =زړه = خاطر
نیم =یوه ټوټه
دونیم =دوه ټوټې
استغفار =توبه کښل
مهر =محبـت=میـنه
کرم =سخاوت=ځـوانمردي
بنده =عبادت کونکی
مسخر =مخسرې کول، =په قبضه کې
شهنامه =هغه څه چې دپادشاه لپاره لیکل کیږي
اختصار =لنډونه=مختصرکول=خلاصه کول

## د حضرت علی (رض) ویناوې

زهد =تقوا
نولیدل =په غم کیدل = زهیریدل
نول =غم
موذې =مضر
هوسیدل =خوشحالیدل
نوړول =نړول

## د ورونو ویش

اشیا =شیان
کوزه =ګډوه
غولې =سرای
ثریا =اووه ستورې = پیروني = پروین،
=اووه خوندې
ګرونج =د منګی د اینسودلو دپاره لرګین کټګی
مخلص =اخلاصمند

## ښه ګټه

پشمینه پوشي =پشمي جامې

زاهد =باتقوا = پرهیزګار
پې =شیدې
مدنې =پرمختللې
داړې =ځیرونکي غاښونه
متاع = مال او اسباب
دخل =داخل والی

## پښتنې متلونه

میرې =دښتې
نرکټې =نرښځې

## د وطن مینه

ختن =په چین کې یو ځای دی
طراوت =تازه ګی

## کـمـال

توامان =ملګرې، =جملیان
پاتو =پاته = پاتې
مرتب =ترتیب سوې
جاله =ځاله
ونسې =ونیسي

## احـسـان

راوې =روایت کوونکی
قیام =پاڅون = راولاړیدل
مدبر =تدبیر ورکوونی، =تربیه کوونکی
مبسوط =انبساط موندلی = پراخ
رائجول =رواجول
جنګجو =جنګ لټوونکی

## لوړ هندوکش ته

هیرمند =هلمند
عدن =د زیږیدو ځای
پښت =پګټ = پخت = پښتون
هرې =یو سیند دی په افغانستان کې
پربښې =د غره د تیږو لړی
غرڅنې =د غرو حیوان، =غرڅنی
سرړه =غرنی میره
شباب =ځواني

## وچ تقلید

تقلید =پیښی کول
وسوسه =وسواس = شک = شبهه
دروه =بیریدلی = وارخطا
تذلیل =حقارت = ذلت = خواری
لتاړ =تباه، =ویجاړ = خراب
سرلاڼ =مشر
پنځم ستون =جاسوس

## پسرلی او د ژوندانه راز

ګټه =فایده، =ډېره

نښتر =یو ډول غرنی تیره بوټی دی
زوږمی =آوازونه = غالمغال
ځولۍ =جوال غوندی شی دی چی دواړه سرونه او یو طرف یی ګنډلی وی
طراوت =تازه ګی
اسرار =رازونه
فنا =پټ
جوهر =اصلیت
شوقیان =شوق لرونکی
الفت =مینه

## لوی احمدشاه بابا د یوه دایب په حیث

مصلح =صلاح کوونکی = مشوره کوونکی
روحانی = دروح پرستش کوونکی=هغه څوک چی دروح په قول کوی
مقتدا =قاید = مشر = قدرت درلودونکی
پارسو =پارسی = فارسی
غامض =پټ، =پیچلی
عواطف =ربطونه = د ربط توری، =وقفی
عصر =وخت
موثر =تاثیر لرونکی
تعقید =سره ترل = غوټه کول (د عقیدی څخه اختستل سوی دی)
ابهام =شک = شبهه
تخیل =خیال = فکر

## د وطن مینه

عمرانی =تعمیراتی
برم =جلال = لویوالی
کوهستان =د غرونو ځای
وزیدل =چلیدل (باد چلیدل)
متاع =مال او اسباب
تاخت =ځغاسته

## ملی وحدت

توغ =بیرغ = جنده
ګدله =یو ډول ټوکر دی
خمتا =یو ډول ټوکر دی
سربازی =تر سر تیریدل
حیف =ظلم، =بی انصافی
لړمل =موبنل
حماس =جنګ
فر =شان = شوکت = لویوالی
جولان =تکان خوړل
دیار =وطن = هیواد = ځای
مقدس =پاک
رزم =حماس = جنګ

نګین =قیمتی ډبره، ګوتمی
نغوزل =اوریدل
کمینی =شکستګی = ماتیدل= پاته راتلل
سخ =سخا = تقوا = پرهیزګاری
نبرد =جنګ
پریت =شرم = حیا
راهب =رهبر = مشر
متشرع =د شرعی بنوونکی
جناب =صاحب، =بناغلی = محترم

## طمع

صدف =یو ډول سپین بحری حیوان دی چی د اوبو په شان رنګ لری
طاعون =د اوبا مرض

## بدطبیعت

شمشتی =کیشف
عازم =په یوه عزم = په یوه اراده
ویله =بیله = بیاله = ویاله
دلګیر =زړه ګیرول
مراقبت =کوربه کیدل = خیال ساتل
نشاط =خوښی = خوشحالی
فرقت =جدایی = جلاوالی
ملاح =کښتی بان = کښتی وان
مروت =مروت = مردانه ګی = میرانه
علم =عرفان، =بیرغ
شریر =د شره ډک
سور =سپور
تلافی =بدله
جبل =نیش
خسیس =پست = بد
رهزن =د لاری غل
بیم =ډار = بیره

## د پیغور حسرت

ناتار =چور = چپاول
وراره =هغه خور چی ورور یی مر سوی وی
ایثار =قربانی
پژه =تنه ، =جسد
سانګه =نیزه
نجتی =پیودلی
فتراک =هغه تسمه چی د آس د ځین شاوخوا ترل کیږی، =ځین
افکار =زخمی
اولجه =قبضه کول
نخوت =کبر = تکبر
پرتم = شان او شوکت

وصال =وصلیدل
تپاک =حرص، =ناقراری = تلوسه،
=خاطر = مدار = عزت = لحاظ
دښنه =دښمنان
لیمه =لیمان = سترګی
خونبار =د وینو باران
نثار =قربانی
نشتر =نښتر = یو ډول تیره غرنی بوټی دی
کرت =ګرده = ټوله
نوغی =داغ = علامه، =د جنس ډول
ادبار =بدبختی
عار =ننګ

## نارینتوب

کرنیل =زر مشر
ستغه =سخته = بده
اړکی =ځین
منصبداران =چوکی والا

## د ګلو کر

استغفار =توبه کښل
صبحه =صبح = سهار

## ملاله

پرنګی =انګریز
میره =دښت
تیغنه =تکه سره = ډیره ګرمه
خدای ږو =په الله قسم
عالم =جهان، =بیرغ

## شیخ تیمن (رح)

ژوب =د یو ځای نوم دی
کجران =د یو ځای نوم دی
ګهیخ =سهار
ناورین =ماتم = غم
سادین =یوی یا شیداره مځکه
نول =غم
نولیدل =په غم کریدل
تاخون =د زړه مرض
پیر =وخت = دوره
دیون =قرض = پور
کروون =کریدل

## د سعادت کیمیا

صحبت =خبری کول = ناسته او ولاړه کول
اندیش =فکر
تلطف =مهربانی
نانغتان =غوړ نه نیوونکی
ندامت =پښیمانی

مصلحت =مشوره
دیرینه =پخوانی
ور =دروازه
نصرت =کومک
کنګاش =مصلحت = مشوره
کرم =ځوانمردی = سخا = تقوا = میرانه
مهران =شفقت کوونکی
منت =احسان
رفاقت =دوستی

## د بدنیتی نتیجه

خلقه =خرقه، =زړه جامه، =چپنه، =هغه
جامی چی له ډول ډول ټوکرانو څخه جوړه سوی وی
هیمانی =د پیسو غوټه، =بټوه
رنځره =د لمنځی د ونی د جرړو تیل
نمر =لمر

## د زړه سوی غږ

ککوړی =کلچه، =د میړی یا وزی د لنګیدو
شیرینی چی چاته په زیری کی ورکول کیږی
شوم =بدبخته = بدمرغه
لئیم =بخیل = حریص
یدبیضا =سپین لاس
خس =لړ، =بی ارزښته، =څارځای،
=ښکار ته د پټیدو ځای
ګلیم =غالی
اقلیم =اوبه او هوا
قارون =د موسی (ع) په زمانه کی یو سړی وو
کلیم =خبری کوونکی

## حریت

کالبد =جسد
پره =پژه = تنه = د انسان تنه

## حـکـایـت

کنده =کوچنی ترازو
توکری =توتی
ریچیدل =ښورېدل
چانول =غلبیلول

## اتـفـاق

خور =خپور
تادی =تلوار = تیزی
حریص =بخیل
ساړوبی =ضعف

## د مشرانو همت

ملوکان =ملکان = مشران
ترورې =ګیدړی

جاروتل =قربانیدل
چاټ چیټ =بی همتی
ترسو =بیریدلی = ډار سوی
هوډ =عزم = اراده
کاهلی =سُـــستی
مزری =زمری = زمریان
هاتیان =فیلان
هوډیان =عزم کوونکی

## فـضـیـلـت

فضیلت =برتری
ململ =پوست = نرم
چین =چینه
بالاپوش =اوږد کوټ
مهمل =بی کاره، =کم عقل
سیرت =اخلاق
شډل =سخت، =ځیږ
مشعل =څراغ

## پیر روښان او د هغه تالیفات

فلسفه =د کائناتو علم
حکمت =پوهه
حجت =استدلال = دلیل
پړ =ملامت
منازعه =کړکیچ = دعوه
ستانه =روحانی = بزرګ، =پاته سوی
حریف =مقابل = ضد
فراست =ادراک = درکونه، =هوښیاری = ځیرکی
قایل =اقرار کوونکی، =ویوونکی
تصانیف =د تصنیف جمع (د کتاب لیکل او ترتیبول)
ګماشتن =امر کول
ستاندن =اخیستل
مبلغ =تبلیغ کوونکی
وحدت الوجود =اتفاق
مشایخ =شیخان

## د فقیرانو او بی وزلو په نسبت د انسان وظیفه

انډول =مساویتوب
صدمه =ضرر = تاوان
چورلیدل =ګرځیدل = څرخیدل
اقبال =راتلونکی = آینده، =بخت
بربنډ =لڅ
ښیګڼه =ښه والی

## نوڅه

مورچل =خزه، =پوسته
مجروح =زخمی

## سید جمال الدین افغان

رغونه =دښتی
جوډانه =د اوربشی دانه، =د اوربشی د دانی په اندازه
طلسم =جادو
سرکښ =ګمراه = بی لاری
کاهن =غیب ویوونکی = پال کتوونکی
دهر =دنیا = جهان = نړی
قامت =تنه = د انسان جګوالی او تنه
مقر =د قرار ځای
خاطر =زړه، =اخلاق، =ذهن
مصور =په تصور کی راوړل
مضمر =په ضمیر کی اخښل سوی
الهام =غیبی آواز

## لویه ربه

داد =ورکړه، =عدل = انصاف
عاصیان =ګنهکاران
مطیعان =فرمان وړونکی (منونکی)
خوان =دسترخوان

## ړوند محال دی چی له خوبه بینا پاڅی

ځا =ځای
سایل =خیر غوښتوونکی

## ښه ځوانان

توکه =توکی = شیان

## د شریعت رسی

شیون =غم
سهلای =آسانی
سوزن =ستن
اندوه =غم
نغن =د غنمو ډوډی = غلمینه ډوډی
هار =امیل
رسن =رسی
صیقل =توږل

## بوعلی سینا

موجز =لنډ او مختصر (خبره)
ځیری =بلوط = یو ډول غرنی بوټی دی
طیران =الوتونکی

## وهـــم

حقایق =د حقیقت جمع
معدوم =نیست = نابود
ناشونی =ناممکنه
هډو =بلکل = قطعاً
پیڅه =شر = فساد، =زغم = حوصله
ارشاد =لارښوونه

## ښه نیت

توقیر =د یوچا عزت کول
عفت =پرهیزګاری
حبطه =چتی = بی شی = عبث، =زهیر = ضعیف

## د پتی خزانی مولف

قافیه =وزن
عروض =د شعر میزان
بیان =تشریح کول، =وعظ، =قول
معانی =هغه علم چی د کلیمو سموالی او د کارونی ځای یی معلوموی
صله =بخشـــش
مراحم =جمع د رحمت
ظل =سیوری
مدون = مردف = ردیف سوی
قصیده =هغه شعر چی د بیتو شمیر یی تر ۲۵ زیات وی
قاصر =بی اعتنا = بی پروا
قاصره =ناتوانه، =بی پروا، =ټنډ

## زور زیاتی

ستم =ظلم
اړم =بند = نښتی، =جبل = نیش
بوټی = سره غوښنه، =د غوښی ټوټه
بوډۍ تال =سره او زرغونه
خرم =خوښ = خوشحاله
شبهه =شک = ګمان
درم = د توپ د ږز آواز، =دهرم = مذهب، =دین او ایمان
همدم =اندیوال = ملګری
زدویل =په اوبو کی سره موښل
اوښی =د اوښ ښځینه جنس، =اوښکی
زیم =نم ،=توروی اوبه
ساز =جوړ
برهم =له مینځه تلل
شومیت =بدمرغی = بی قسمتی
مسلم =ثابت = ثبوت سوی
زوم =بی خونده، =بی کاره، =پورته کیدل
دم =لاڅه
تیغ =غشی
عالم =جهان
الم =درد، =غم
آدمزاد =انسان
شړشم =یو ډول نبات دی
کرم =ملامت
بایده =باید = حتمی
ناسور =یو ناروغی ده چی تپ یی شوړیږی

## د قرآن عظیم الشان قانونی حیثیت

ګنګ سیند =د ګنګا سیند
مالی =په پیسو پوری مربوط
منافع =فایدی = ګټی
مکافات =د نیکی یا بدی بدله
مجازات =د نیکی بدله

## د اسلام مساهله په قرآن کښی

مساهله =آسانه کول
صراحت =وضاحت
تقدس =پاکی

## مسخ کیدل

مسخ =بدلیدل

## علم او پوهه

بصیرت =لیدنه

## د بدانو حال

آلوده =ککړ
سپاس =شکر
کسیره =یوه پخوانی سیکه ده چی ډیر لږ قیمت یی درلود
خناس =شیطان، =بدکاره او بدګذاره سړی
خرمن =د غنمو حاصل
ناس =خلک

## جنرال بخت خان پښتون

سرخروی =سر لوړی
جرنیل =غټ مشر
دیوان =دفتر دار
سپه سالار =ټول مشر
عنایت =تحفه
خروښ =جوش

## غوښـتـنـه

زبیرګی =زګیروی
چاودون =چاودیدل

## د شیدا مرغلری

شیدا =عاشق
ممسک =بخیل
صرف =مصرفول
کیسه =غوټه، =جیب
لبریزه =خولی تر خولی = ډک، =حوصله ختمیدل
غیر =بی ګانه
خاطر =زړه، =اخلاق، =ذهن
سربریده =سرپریکړی = سرغوڅی
فروتنی =عاجزی
خمیده =سرکښته

زنهار =خبر اوسه
صاحب سریر =نیکبخت = بختور
سرړه =غرنی میږه
وبال =آفت
خودرای =هغه څوک چې په یو کار کې د هیڅ چا څخه مشوره نه اخلي او نه یې هم مني

## د کجیری پښتنواله

د سرو مرغی =هندوستان
سنګینونه =د برچې په ډول آله ده
ترول =ډزول
مانګې =ملاح = کښتی بان = کښتې وان
ګنی =ګوندی
چوری =مالیده، =معشوقه = محبوبه
ثقه =معتبر = د اعتبار وړ
ښاروی =حیوانات
جانګی =پتلون
ګردنی =غاړه کې
تحصیل =تانه
چارسده =څهار راهې = څلور لاری
کرهه =کراهې
پاینځی =پایځی
بده =سرورزنه = د پرتوګانښ د تړلو ځای
پستنه =پرشا کیدل = وروسته کیدل
پتان =ځنګون

## ســبا

مطلع =موضوع
مشقت =سختی
څیری =بلوط = یو ډول غرنی بوټی دی
وداع =خدای په آمانی
اندیشه =فکر

# د دوولسم ټولګی د پښتو لغاتونه

## مــنــاجــات

مناجات =دعا، =هغه نظم چې دالله (ج) تعریف پکښې شوی وی
کره کشای =دمشکلاتو حل کوونکی
کره =غوټه (مثلاً کله چې مونږ بوټونه په پښو کوو نو تنی یې ورغوټه کوو.
شاه =پاچا
ګدای =ګدا = درویزګر = چرګر = سوالګر
نومړ =نامتو، =نومور، =نامزد
خلاق =خالق = پیداکوونکی
مثل =مثال

کاینات =نامحدوده فضاء
نامه =دیوچاپه باره کی معلومات لیکل دشعر یانثرپه ډول
سموسیال =مثل = مثال = برابر
خوځنده =حرکت کوونکی
کاین =پیداشوی = خلق شوی
استوار =ولاړ = محکم
خوبان =ښه خلک، =ښکلی
خرام =په نازاونزاکت تګ
سنګ =ډبره
لاخ =لاښ = هغه ځای چې یوشی پکی په زیات مقدارنه وی
صدف =یوډول حیوان دی
ګوهر =طلا
رحَم =په انسان کی داولاد ځای
نطفه =دانسان دمثل دتولد مواد
جعل =جوړښت، =فریب
خرقه =زړی جامی، =هغه جامه چې دډول ډول توکرانو څخه جوړه شوی وی، =هغه جامی چې ډیری پینې لری.
حکیم =پوهـ ، =فلسفه پوهـ
بند =مقید=په قید کی
خوان =دسترخوان
جمادات =غیرژوندی شیان
لقمه ګیر =هغه حیوانات چې خواړه ګوله ګوله کوی او خوری یې
برات =برخه=حصه، =حواله = چیک، =هغه څه چې خان یې خپلو نوکرانو ته ورکوی
غوښی خور =غوښی خوړونکی
خروب =سیراب = اوبه لګه(دمځکی اوبول) یعنی (دمځکی خړوبول)
محروم =بی برخی
اهل =اوسیدونکی
سما =آسمان
وچوبی =وچه
قادر =غالب
برکمال =مکملوالی، =پوهه=فن
رازق =رزق ورکوونکی
ذُو =خاوند = لرونکی = درلودونکی
ذوالجلال =دیرتم یا جاه وجلال خاوند
قل هوالله احد =وروایه چې الله (ج) یودی
لم یلدلم یولد =نه له چاپیدادی نه له ده څوک پیدادی
جواهر =قیمتی ډبری
اعراض =هغه شی چی له منځه تلونکی وی

او بقا نه لری لکه ناروغی.
اجرام =ډېری، =ستوری
بود =شتوالی
نابود =نیست
نغمه =خوږ آواز
گذرگاه =دتیریدو ځای
متصف =صفت کړل سوی
طرفه =تازه، =نوی خبره
برید =قاصد(په دری کی)، =پوله=حد، =شروع=پیل، =یرغل=حمله، =غوټه.
لولی =نعری = چیغی
کن =شه
خلایق =جمع دخلق=پیداینت
خلل =تاوان=نقصان
جلوه گا =دښودلو ځای
سنگ ولاخ =له تیرو ډکه ځمکه
واجب الوجود =هغه ځوک چی په هیڅ شی کی هیڅ چا ته احتیاج نه وی یعنی الله(ج).
لاإلِه لاالله =نسته معبود برحق مگر الله(ج)

## نعت

منشاء =سرچینه
مایه =تهداب
قبله =طرف، =مکه معظمه
استانه =کور و کهول=داوسیدو ځای
زیینده =ښایسته
شمیم =ښه بوی
لولاک =که نه وای ته=که ته نه وای
تاج =دسرجوغه
افسر =مشر=ریس
جمال =ښایستوالی
غارت =لوټ=تالان
محبوب =گران
حسن =جمال=ښایستوالی
مربی =رهنما = لارښودونکی = تربیه کوونکی
کوږ =لری=ایسته، =کروپ=راکښته

## د پښتو ژبی ادبی تاریخ ته یوه لنډه کتنه

توکم =قوم = قبیله
حماسی =جنگی
شفاهی =هغه څه چی په ژبه ویل کیږی
تال =سر=برابری
نثر =هغه څه چی دشعرپه ډول نه وی لیکل شوی
سروانی =یوډول ونه ده چی ترخه او ذهرجنه
میوه لری، =سروان=ساروان=هغه سړی چی داوښانو ساتنه کوی.
فصاحت =دخبرو پرله پسی والی
بلاغت =سوچه وینا، =دمعنا اومطلب نه ډکه وینا، =دوینا لوړه درجه.
عروض =دشعرمیزان، =دبیت دلومړی مصرع ورورستی رکن، =دغره لار، =عرضه کول.
تاداو =تهداب=اساس
نیم منظوم نثر =هغه لیکنه چی نیمایی دشعرپه ډول اونیمایی دنثرپه ډول وی.
وعظ =نصیحت
اهنگ =ښه آواز
تصوف =صوفی توب = پاکوالی
سبک =دسرو زرو ویلی کول اوپه غالب کی اچول
منثور =لیکل سوی نثر
هدایه =یو کتاب دی
بیاض =پاکوالی = صفاوالی، =سپینوالی
دیوان =دشعرونو کتاب
گنداب =ولاړی اوبه، =ولاړی خوسا شوی اوبه
مرصع =سینگارسوی، =په غمیوښکلی سوی، =قیمتی=ښایسته
بدیع =خلق، =عجیب=نادر، =هغه علم چی دکلام دښه والی وجه پری څرگندیری=دبدیع علم
کلیات =دیوه شاعرپالیکوال داثاروجونگ، =ټولی چاری
فضل =بهتری=برتری
سوات =دیوځای نوم دی
فراق =جدایی
دروه =بیریدلی = وارخطا
تلف =له منځه تلل یا له منځه وړل
شاهنامه =هغه کتاب چی دپاچاهانو په باره کی لیکل کیږی
انجمن =گروپ=اجتماع=دخلکو یوځای کیدل
تحول =تغیراوتبدیل
گپ =په وریځوکی لاره، = ټوکه = گپه = گپ شپ = ټوکه ټکالیه، =غټه مږی
بر =نږدی، =وچه
کوز =کښته
روحانی =دروح پرستش کوونکی
ناوول =هغه اوږده قصه چی دځانه لیکل کیږی
بوللـه =قصیده = اوږدشعردی چی دستاینو، عرفان، اخلاقواودین موضوعگانی پکی بیانیږی دبیتو شمیریی تر۳۳ زیات دی

## اخلاقی درس

جودانه =داوربشی دانه، =د اوربشی د دانی

په اندازه
حیله =فریب=مکاری
تیتو =بار وړونکی خر
لعنت =دخدای ددربار څـــخه لیری والی
منصفی =انصاف
ګوذر =لویدل
نمری =جامی
درویش =فقیر
قلندر =ملنګ=ګرځنده درویش، =بی قیده
سد =هوښ = عقل، =دیوال، =خنډو =د
تویک په میل کی تاوراتاو دیوال
ساوو =شریف = دروند
ساهو =ساکښ
جاج =فکر

## د وطن مینه

شاړی =خرابی مځکی
میری =دښتی
نعیم =نعمت، =مال
غربت =غریبی
قاصد =خبروړونکی
روهـ =روه=دپښتنی سیمو نوم دی
بی نوا =غریب=بی برخی، =بی آوازه
نوا =آواز
چپر هار =دیوځای نوم دی
ورته =مشابه=په مثل، =اوبدلی وړی،
=لکه (ورته) ووایه، =وریته=کباب شوی=نیینی شوی
کوکاری =چیغی
حزین =غمجن
انشین =داوره ډک
ترنجبین =دګلانوشیره

## امیر کروړ سوری

کروړ =کلک او سخت
خرخښه =تشویش، =جګړه
سوبه =فتحه، =کامیابی
من =زړه، =اراده=تکل، =مقصد
شاهنشاه =ستر واکمن
میرخمن =دښمن
لتاړ =له ځایه بی ځایه کیدل
سوومی =دپښوښونکری، =داس پاکوم بل حیوان نوکان
ایوادونه =هیوادونه = سیمی
شپول =شرنګ، =حلقه=کړی، =دځاروی
لپاره دلښتواحاطه
اودم =چاره، =علاج
مرو =دبلخ خواته دیوی سیمی نوم دی

دښن =دښمن
پلن =پیاده، =پلن شوی = هوارشوی =
تړکول شوی، =برداره=سورور=عریض
زړن =زړه ور
مخسور =سرخرویی=سرلوړی
سور =عرض=برداری=پسور
کول =کهول=کورنی
تال =سر = برابری
دریځ =کرښلاره، =منبر
ستایوال =صفت کوونکی
مستزاد =شپږ بیتی شعر
متانت =قوت=قدرت
پاني =کرښه = حد، =ونده = برخه،
=طبیعت، =دمټکو(چارمغزو)لوبه، =نیته
مستعمل =په استعمال کی = تر استعمال لاندی
بامل =پالل
یونم =حرکت کوم

## غوره وینا

مرغزار =چمن، =ځنګل
منت =احسان=نیکی=ښیګڼه، =شکریه، =عاجزی
ونده =ونه(دغه لغات په کتاب کی غلط
سوی دی دااصلاً ((ونه))ده)
کهسار =هغه ځای چی زیات غرونه ولری
خاکسار =عاجز
دُرستول =صحیح کول
درمانده ګی =بیچاره ګی=بی نوایی، =ستړیا = ستومانی
دستګیری =لاس چلول، =بندی کوی=دستګیره کول
استانه =داوسیدوځای

## د پښتو ادب رنګارنګ اړخونه

جرس =زنګ (لکه د تلیفون زنګ)
دهر =دنیا
هوس =حرص، =لوږه، = ارمان = هیله
= لیوالتیا، =خوشحالی
دربان =ددروازی ساتوونکی
ولجه =قبضه کول
خونی چلی =ځان وژونکی ګردابونه
مرجونا =لامبوزن = غواص، =مرغلرپلټوونکی
چلی =چلباز، =کمزوری=ضعیف، =هغه
تیره لرګی چی زردکی په راباسی، =بنګړی
غاړه غړی =لاس ترګریوان یعنی دجنګ حالت
ګرداب =هغه اوبه چی په یوځای کی سره راګرځی
مضرت =تاوان رسول
ورمونه =نصیحتونه
غنی =شتمن

دلجویی =زړه کتل
واصل =نږدې خلک، =وصل سوی
رجوع =ورګرځېدل
متروکه =شلاقه=چلاخه، =چکوښ
مرأت =هنداره،=دمره جمع=مرتبې=واری
سخن سازی =دخولې خبری
شهسوار =زړه وراوچالاکه پاچاچی پراس سپوروی
له پسه =له پاسه = له لوړه
صبوری =تحمل = بردباری = صبر
خم =لوی خاورین لوښی، =کوږ، =تیټه ځمکه چی اوبه په اسانی ورته رسیږی
هلال =هغه سپوږمی چی پوره نه وی
شفق =آسمان
وښی =واښکی، =ریښکی
خونخور =قاتل
ګهواره =ځانګو

## د ژوند ورمـــونه

دیرینه =پخوانی
طباخ =آشپز
مهران =شفقت کوونکی(جمع)
استوار =ولاړ=محکم
رفاقت =ملګرتیا=ملګرتوب=انډیوالی، =یارانه = تاراچونه
کفران =ناشکری = بی سپاسی، =بی ایمانی

## موسیقی

تنګ وتکور =سازاوصحبت
لیږداو =لیږدونه
رزکو =دغه لغات په کتاب کی غلط سوی دی دااصلاً (زرکو)دی
تنزری =منظری، =تمځری=تنځری=یوډول مرغی ده
سندربول =سندری ویوونکی
انځور =تصویر=عکس
جمال =ښایستوالی
شفا =دمریضی جوړیدل

## پـســرلـی

لونل =خونولو = شیندل = پاشل
طیلسان =یوډول چپنه ده چی خطیب(نطاق یا ویاند یا خطبه ویوونکی یا واعظ) یی دنورو کالیو دپاسه اچوی(اغوندی)
زمُردی =شنی
نیسان =پسرلی=بهار، =دثورپنځلسمه، =دثوریاغوایی میاشت
مشاط =سینګارکوونکی
ښکلن =ښکلی کول=ښایسته کول
خونولول =شیندل=پاشل، =قربانول = نثارول = جارول

من =زړه، =اراده=تکل، =مقصد = هدف، =عزت‌من/شتمن
ورږم =بوی
خُتن =په چین کی یوځای دی
مسیح =عیسی (ع)
اغلی =ښکلی
ټاپی =دغنمو د درمند خاصه نښه، =په خولی کی دګلابتونو ګل ، =دوستی، =وخت، =پټه مشوره، =دناروغـتیا سخت وخت، =بیانه، =پی، =واټن، =دپورنیټه
مکیز =ناز او ادا
پوپل =یوډول سورګل دی
وړنګن =ځلانده
شڼ =مست او بی پروا، =دآس شیشنی
بوللـه =قصیده

## د زړه دنیا

پشکال =ښکال=دبارانونو موسم
حساسیت =دقیقوالی
حساس =دقیق
من =زړه
مزی =تارونه=واښکیان
الهام =غیبی آواز
ښیراز =سمسور=آباد
ګوټ =غوړپ=غړپ
قاموس =مجموعه

## د پسرلی ننداره

نمری =جامی
ګُلرُخ =ګلالی=ګُلرو=ګل مخی=دګل په څیرمخ لرونکی
سروانی =سروان = یوډول ونه ده چی ترخه اوذهرجنه میوه لری
استین =لستونی
خلوت =تنهایی
بکښ =دالغات په پښتو کی غلط سوی دی دااصلاً (پکښی) دی

## بی بی نیکبخته (رح)

مرشد =لارښود = پیر = ارشادکوونکی
ریاضت =دزړه دپاکولو لپاره ربړ ګالنه، =دفکراوعبادت لپاره ګوښه کښیناستنه، =تمرین، =کوښـښ=زیـــــــار
حباله =لومه=دام، =پړی=رسی، = قید =بند، =نکاح
بدنه =دپیښورختیځی ډډی ته دیوځای نوم دی
فقرا =فقیران=درویزګران=لاس نیوونکی = ګدایان
عباداللہ =دخدای(ج) عابدان = دخدای(ج) عبادت کوونکی

لیږد =کوچ=رحلت=کډه=سفر

بلیږدل =نـغښـتل=تـاوول=پیچل=بلیښل،

=کوچنی په ونی کی ترل، =مشغولیدل، =مشغولول

دښنه =دښمنان

## د میاروښان د خیرالبیان نثر

بازارګانی =تجارتی

اتام =خوراک = طعام

مزدک =جومات=مسجد، =هغه ځلوردیواله

چې چت ونه لری

اعلاء =څرګندونه=خبر=خپرونه،=نشرول

= مشهورول

## د افضل خان د تاریخ مرصع نثر

مرصع =سینګارکړل سوی=په غمیو ښایسته سوی

سازوار =کم عقله=احمق، =برابر=متوسط

جنګا ګیګیانی =دیوسړی نوم دی

التماس =پلټنه=غوښتنه=خواست، =عجز =

زاری، =منت، =دعا

غریزه =فطرت=خټه=اصل، =دټاکلو چارو

دسرتـه رسولو فطری استعداد

## د پښتو لرغونتوب

متفق =بااتفاق=متحد=یوځای

مذهبه =صیله ،=منځنی=متوسط

## د ادب پیژندنه

راښکون =راښکنه = راکارڼه = کشونه =

راباسنه = راکشونګ

بومیا =لاربښود = رهبر = پیشوا = لاربښوونکی، =

اوسیدونکی، =استوګن، =ملزوم = هغه څه چې یوشی ورته لازم وی

محتسب =حساب اخستونکی = محاسبه

کوونکی، =حاکم = کوتوال

ادب =بلنه اودعوت، =پوهه اوخیرکی،

=دحد او اندزی ساتنه

فطرت =خلقت، =هغه صفت چې هرژوندی

شی یی خپل دخلقت په اول لری، =ذاتی خصوصیات

## د مشرانو همت

ملوکان =ملکان=دنیا داره خلک

دیو =دوی

لوریه =لوری

ماموړ =امرکړل سوی

ترورِی =لومبره=ګیدړه، =چرندک

ننځل =لمانځل=نمانځل=عزت کول =

درنول = درناوی کول

لربر =کښته اوپورته

تملق =چاپلوسی

هوډ =عزم=همت

تالاش =تلاش = لټون = لټونه، =غوښتنه،

=بیره = چالاکی

ګوټی =ګونیا، =ګوټه = دسطرنج دانه،

=یادونه = حفظ کوونه

هاتی =فیل

## فکر او عمل

جاج =فکر

چابړی =دتلی پلی=دترازو پلی

میچانی =مقیاس، =سربالایی

پیتی =بار

تیکی =غلاف=دتوری پوښ

ستنی =ستونونه=پایی

## ژیر ګلونه

لطافت =نرمی

شیدا =عاشق

چراو =مرصع = ښکلی

تالان =غارت = لوټول = شکول

پدل =تاثیر = اغیز، =عقل = شعور

ګونه =چهره

دژیړو ګلو باغ =معشوق یا معشوقه

غرند =مړاوی

## د خوشحال خان پیژندنه

دروه =سمدستی=بی ځنډه، = ټکی = چل

= دوکه = غولونه، =اندیښنه = چورت، =ډر = بیره

ګلزار =دګلونو ځای

نښتر =یو نبات دی(یوډول درخته ده)

فلسفه =دکایناتو علم

فیلسوف =د کائناتو عالم

تصوف =صوفی توب

رزم =حماس = جګړه

فکاهی =ټوکه

لیوال =مینوال = علاقمند

میرتون =دمیرپانو کور

## سید جمال الدین افغان

بر =وچه

رغونه =دښتونه

سمندر =د اور چینجی

طلسم =جادو

زیر و زبر =توټه توټه

کاهنان =غیب ویوونکی، =فال کتوونکی

معصیت =ګناه

دهر =دنیا = نړی = جهان

تعظیم =احترام

اواره =سرګردانه

مقر =د قرا او اوسيدو ځای
مصور =تصور کول = فکر کول
مضمر =پټ
الهام =غيبی آواز

## د پښتنو هيواد

پکت =پښت = پخت = پښتون
کا =خوا = اوخ

## د پټی خزانی مولف

صله =بخشـــش
مراحم =رحمتونه = رحمونه
ظل =سيوری
مدون =مردف = رديف سوی
قصيده =هغه شعر چې د بيتو شمير يې تر ۲۵ زيات وی
قاصره = ناتوانه، =بی پروا، =ټلند
موزونان =توزين کوونکی = توازون کوونکی

## د فياض يوه مشهور قصه

ثقه =معتبر = د اعتبار وړ
سامع =اوريدونکی
خرم =خوښ = خوشحاله
رُخ =مخ = چهره
اوربل =پيکی

## د حميد د شاعری يو څو رنګين اړخونه

ايلم =ايلم د پښتونستان د بونير په علاقه کښی د يو جګ غره نوم دی
نيرنګ =چل = فريب
اورنګ =تخت
خوناب =د وينو ډک اوښکی، =د زړه له درده ژړل
معمی =هغه پټ شی چې ښکاره وی مګر فکر کول يې لږ څه ګران کار وی
سهی =زغمناک
سمندر =د اور چنجی
سُنبل =يو ډول ګل دی
بوسه =مچه
موشګاف =نازکخيال
بوالهوس =حريص = طمع کوونکی، =شهوتی = عياش
جوس =انګړ او حويلی
قرين =نږدی
تابلو =منظره
کالبوت =کالبود = جسد
اسره =طمع، =هيله
رنديری =ځای، =انګړ
ساګ =سابه = سبزی
درويزه =فقر

بلا - سوا =بلا ليری (بلا دی ليری وی) = محفوظ
خودبين =خودخواه
پاسلونی =منت = احسان ايښودل
چينګه =چونګه = کره
سهل =آسانه
پت =عزت

## يو غزل

تطاول =تيری کول، =د قدرت څرګندول
غلغل =غالمغال
مقدر =نصيب = قيسمت
تزلزل =زلزله = ښوريدل
تغافل =غفلت = تنبلی = بی خبری

## د قومی ترقی بنسټ

غبرګونی =جملی
تفسير =ځيرنه
ظرف =لوښی
مظروف =هغه څه چې لوښی ته وراچول کيږی
پيچومه =تاو راتاو ځای = سر بالائی
جړ =رښينه

## باګرام په پښتو ادب کښی

تاويل =وينا
بګ =په سانسکرت کی باغ ته ويل کيږی
رام =په سانسکرت خدای ته ويل کيږی
بالکل =هلک
ګرام =کلی
مفتون =عاشق
کاخ =قصر = مانی
نوروز =نوی ورځ
ختن =په چين کی يو ځای دی
تمثيل =ديوی اصلی واقعيی پيښی کول

## زوی ته د سکندر خان خټک نصيحت

سرو =د صبر درخته
سر فرازی =سر لوړی
نامور =نامتو
پسندلی =بنايسته سوی
امد =راتلل
درويزه ګر =فقير
اديان =دينونه
ابدان =د ښه ژوند لاری چاری
دراز =اوږد
باز =خلاص، =را ايسته
هرکز =هيڅکله
تنګدستی =لاس بنديدنه
سخن =خبره

شندل =قربانول
بلوسیدل =مزاحم کیدل = غرض کول

## حافظ رحمت خان

دیره کیدل =میشتیدل
مرشد =لاربنوونکی
ایل =تابع
استسقا =د خیتی د پرسیدو ناروغی
ایلچی =قاصد = خبر وړونکی
غدر =بی وفایی = دوکه

## ظـلــم

ستم =ظلم
اړم = بند = نبنتی، =جبل = نیش
بوټی =سره غوښه، =د غوښی ټوټه
خرم =خوښ = خوشحاله
شبهه =شک = گمان
درم = د توپ د ږز آواز، =دهرم =
مذهب، =دین او ایمان
همدم =انډیوال = ملگری
زدویل =په اوبو کی سره موښل
اوبښی =د اوبښ ښځین جنس، =اوښکی
زیم =نم ،=توروی اوبه
ساز =جوړ
رهم =له مینځه تلل
شومیت =بدمرغی = بی قسمتی
مسلم =ثابت = ثبوت سوی
زوم =بی کاره، =بی خونده، =پورته کیدل
دم =لاڅه
تیغ =غشی
عالم =جهان
الم =درد، =تپ
آدمزاد =انسان
شړشم =یو ډول نبات دی
گرم =ملامت
بایده =باید = حتمی
ناسور =یو ناروغی ده چی تپ یی شوریږی

## ویل او کول

فطرت =غریزه = خلقت، =هغه صفت چی هرژوندی شی یی خپل دخلقت په اول لری، =ذاتی خصوصیات
ووړ =کوچنی
شامدام =همیشه = هر وخت
تقلید =پیښی کول = په یو چا پسی تلل
مشال =څراغ

## غزل

میخور =شرابخور
صهبا =می = شراب، =سور او سپین
صراحی =یو ډول لوښی دی
خوبان =ښکلی
قهقها =په لوړ آواز سره خندل
خوشوقت =خوش وقت = ښه وخت لرل
مشتاق =مینوال = شوقی = لیوال
نبتر =یو ډول تیره غرنی بوټی دی
وریت =کباب
مشرب =د ښبلو ځای

## په پښتو کی دخیلی او مفغنی کلمی

دخیل =داخل سوی
مفغنی =په پښتو اړول سوی
مفرس =په فارسی اړول سوی
معرب =په عربی اړول سوی
تپاک =تپیدل = تپش = تلاش کول
تفحص =لټول
مزید =زیاتول، =ضافه سوی = زیات سوی
سلا =مشوره
سول =هوښ
دیس =کلی
للمه =وچه مځکه = بی اوبو مځکه
ورخ =د اوبو ترلو او خلاصولو دروازه
لاحقه =ورروستاړی

## پښتون اولس

اندوس =د آباسین سیند
ورشو =څړځای
مورخ =تاریخ لیکونکی
صادق =رښتیا ویوونکی
تسلط =قبضه
متمدن =مدنی = پرمختللی
امتیاز = ښه والی، =لوړوالی

## د تیرو شاعرانو یادونه

منظومه =شعر
لړی =سلسله
لسان =ژبه
سحبان =د یوځای نوم دی
رزم =حماس = جگړه = جنگ
شکوه =شکایت
کند =رسی
پران =په هوا
لطافت =نرمی
نزاکت =ادب
تشبیه =مشابه = ورته

# کتابونه او مؤلفان

۱- خیالي دنیا د خادم اثر دی
۲- غوره نثرونه او غوره اشعار د ګل پاچا الفت تألیفات دي
۳- نوې ژوندون د قیام الدین خادم اثر دی
۴- منتخب شعرونه د ښاغلی شمس الدین مجروح د نظمونو مجموعه ده
۵- عنوان النصایح په (۱۳۲۱هـ ق) کی عنوان الدین کاکاخیل خټک لیکلی دی
۶- تفسیر الضحی، معراج نامه، جنګ نامه او د سیف الملوک قصه غلام محمد لیکلی دی. غلام محمد د یوولسمی پیړی په سر کی ژوند کاوه
۷- پټه خزانه، خلاصة الفصاحة او خلاصة الطب محمد هوتک لیکلی دی
۸- افضل الطرایق د میاجی پیرمحمد هوتک تألیف دی، میاجی ډیر فاضل سړی ؤ
۹- مخزن الاسلام د اخوند درویزه تألیف دی
۱۰- علم خانه دانش او تاریخ مرصع د افضل خان خټک تألیف دی
۱۱- دستارنامه، بیاض، پښتو هدایه، فضل نامه، سوات نامه، بازنامه، فراقنامه او کلیات د خوشحال خان خټک تألیفات دي

- د خوشحال خان د مشهورو آثارو څخه یو دستارنامه ده چې خوشحال په (۱۱۷۶هـ ق) کی لیکلی ده او بیا په (۱۳۷۱هـ ق) کی په پیښور کی چاپ سوه او وروسته په سم لیک دود په (۱۳۴۵هـ ش) کی په کابل کی چاپ سوه

۱۲- خزینة الفقراء محمد پښتانه په (۱۲۶۱هـ ق) کی لیکلی دی
۱۳- ګل کوهي د ابوسعید فضل احمد خان د پښتو اشعارو مجموعه ده
۱۴- احمد شاهي شهنامه حافظ ګل محمد مرغزی د لوی احمدشاه بابا په پاچاهی (۱۱۶۰ ــ ۱۱۸۶هـ ق) کی لیکلی ده
۱۵- ګنج پښتو د مولوی احمد تألیف دی
۱۶- له بایزید روښان څخه لندون د قیام الدین خادم تألیف دی
۱۷- جانان فدوی په (۱۲۸۳هـ ق) کی خپل دیوان ترتیب او تدوین کړی دی
۱۸- خوشحال خټک څه وایي د بینوا تألیف دی
۱۹- مقصود المؤمنین، حال نامه، صراط التوحید او خیرالبیان د پیر روښان تألیفات دي
۲۰- خورشید جهان د شیرمحمد خان تألیف دی
۲۱- مسائل ارکان خمسة د ملا یار محمد هوتک تألیف دی
۲۲- جامع فرائض د ملا محمد یونس تألیف دی
۲۳- ګلدسته زعفراني د ملا زعفران تره کی تألیف دی
۲۴- محمود نامه د ریدی خان مومند تألیف دی
۲۵- الاعلام د خیرالدین زرکلی تألیف دی
۲۶- عبدالقادر خټک یو کتاب د کلیات په نامه نظم کړی دی
۲۷- منتخبات د واصل روښانی تألیف دی
۲۸- ننګیالي پښتانه د ښاغلی هلالی تألیف دی
۲۹- حنان بارکزی د شعرونو یو دیوان لری
۳۰- کاظم خان شیدا د شعرونو یو دیوان لری
۳۱- بهائي جان د اشعارو یو دیوان لری
۳۲- د سالو وږمه ابومحمد هاشم سروانی لیکلی دی
۳۳- تذکرة الاولیا سلیمان کاکو په (۶۱۲هـ ق) کی لیکلی دی
۳۴- تاریخ سوری محمد بن علی بُستی لیکلی دی
۳۵- لرغوني پښتانه شیخ کټه لیکلی دی
۳۶- ملي دفتر د شیخ تألیف دی
۳۷- خان کجو د تاریخ په نامه یو کتاب لیکلی دی
۳۸- فواید الشریعت د اخوند قاسم تألیف دی

۳۹- *خلاصة الاسلام* د فقير حسين تأليف دی
۴۰- *ګلدسته* د عبدالقادر خټک تأليفات دی
۴۱- *قلب اسير* د ګوهر خان تأليف دی
۴۲- *تاريخ اعثم کوفي* د محمد ظفر تأليف دی
۴۳- *اختيارات بديعي* د مولانا عبدالحليم ليکنه ده
۴۴- *محمد رسول* د *بياض* په نامه يو کتاب ليکلی دی
۴۵- *نافع المسلمين* د نورمحمد تأليف دی
۴۶- *تواريخ رحمت خاني* د ميامعظم شاه اثر دی
۴۷- *رياض المحبت* د نواب محبت خان ليکنه ده
۴۸- *فرهنګ اپريدي* د قاسم علی اپريدی ليکنه ده
۴۹- *عجايب اللغات* د الله يار خان تأليف دی
۵۰- *پښتو تفسير* د نواب افضل الدوله اثر دی
۵۱- *تفسير بدرمنير* د دوست محمد خټک تأليف دی
۵۲- *تفسير يسير* د مراد علی ليکنه ده
۵۳- *شکرستان افغاني* او *بهارستان افغاني* د قاضی ميراحمد شاه رضوانی ليکنی دی
۵۴- *د قصه خانی ګپ* او *د افغانستان تاريخ* د منشی احمدجان تأليفات دی
۵۵- *پښتونخوا هار و بهار* د ډارمستـــټر تأليف دی
۵۶- *تور بريښ* د پښتو ټولنی نوی اثر دی
۵۷- *د پښتو ادب تاريخ* د صديق ريښتين ليکنه ده
۵۸- *ريګويدا* زوړ آريايی کتاب دی چی په (۲۰۰۰ ــ ۱۰۰۰ قبل الميلاد) کی ليکل سوی دی
۵۹- *ابولفضل بيهقي* د محمود غزنوی په وخت کی اوسيده چی د غزنويانو تاريخ يی هم ليکلی دی
۶۰- *فياض* د دولسمی هجری پيری شاعر دی او د شهزاده بهرام او ګل اندامی قصه يی په شعر کی بيان کړی ده
۶۱- *سپينه* د پښتو شاعره، د نورمحمد خان الکوزی لور او په هرات کی اوسيده
۶۲- *برناردشا (Bernard Shaw)* د انګلستان مشهور اديب او ليکوال ؤ

# په پښتنو پاچاهانو پوري مربوطي تاريخي ليکني

- کالنجر (آهنګر پروزن) د هندوستان په بندیاکهند کي د يوي ټنګي او تاريخي کلا نوم دی چي په (۹۵۲هـ ق) کي شيرشاه ونيوله او په دغه جنګ کي شهيد سو
- سلطان العادل شيرشاه سوري په هندوستان کي له ۹۴۷هـ ق څخه تر ۹۵۲هـ ق پوري پاچا ؤ
- ښکارندوي غوري په شپږمه هجري پيړی کی ژوند کاوه او پلار يی احمد نوميده چي د فيروز کوه کوټوال ؤ
- شيخ متي يو پښتون ستر ستانه تير سوی دی. دی په (۶۸۶هـ ق) کی مړ سوی دی او د کندهار په کلات کی ښخ دی اوس يی هم خلک زيارت ته ورځی او د کلات بابا په نامه يی بولی
- بايزيد بسطامي په دريمه هجری پيړی کی يو ستر ستانه تير سوی دی. دده نوم طيفور او د پلار نوم يی عيسی ؤ، په (۲۶۱هـ ق) مړ او په بسطام کی ښخ دی
- سلطان بهلول لودی په شمالی هندوستان کی يو ستر پښتون پاچا تير سوی دی له (۸۵۵هـ ق) څخه تر (۸۹۴هــ ق) پوری پاچا ؤ. هديره يی په ډهلی کی د روشن چراغ د زيارت تر څنګ ده
- جسرت د پنجاب په شمالی برخه کی د ګهکرو نامتو مشر ؤ، په (۴۲۰هـ ق) کال کی يی د ډهلی د پاچا (سلطان محمد شاه) په حکم د سر هند پر پښتنو بريد وکړ
- ميرزا لغ بيک د تيمور لنګ د اولادی څخه د کابل والی ؤ (۸۵۶هـ ق)
- روهيل کنډ د شمالی هند د يوی پراخی منطقی نوم دی چي پښتانه پکښی اوسيدل
- سلطان سکندر لودی په (۹۲۳هـ ق) کی د بيانې د سفر څخه اګرې ته راورسيد نو ټولو اميرانو ته يی وليکل: د ګوليار غزا لره تياری ونيسی، مګر دده دغه هيله پوره نسوه او ډير ژر يی په ستونی کی دانه راوختله او مړ سو
- د کندهار شاهی قصر د هوتکو په وخت کی نارنج قصر ؤ
- د ينځه ګوهره نثر په لسمه او يوولسمه پيړی کی د پښتو په ليکوالانو کی رواج درلود
- بريلي په روهيل کنډ کی د يو ښار نوم دی او روهيل کنډ د ډهلی لمر خاته خواته پروت دی. پخوا هنديانو پښتنو ته روهيله ويل او د دوی سيمه يی روهيل کنډ باله

**تمت بالخير**

# یـادښـت

# یادښت

# یـادښـت

Download from:aghalibrary.com

# یـادښـت

Download from:aghalibrary.com

# یـادښـت

Download from:aghalibrary.com

# یـادښـت

Download from:aghalibrary.com